# دنوی رڼا فهرست


| نمبر | مضمون | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱ـ | مقدمه | الف |
| ۲ـ | دارتقاء حس | ۱ |
| ۳ـ | دانسان ضروریات | |
| | اودهغو ترتیب | ٤ |
| ٤ـ | دانسان معرفت | ۸ |
| ٥ـ | داخبار وظیفه | ۱۲ |
| ٦ـ | دصبر یو تقدیر | ۱۷ |
| ۷ـ | دازدواج دعمر په باب | |
| | دعلم جواب | ۲۰ |
| ۸ـ | دښه‌سړیتوب معیار | ۲٥ |
| ۹ـ | ددنیا ژبی | ۳۲ |
| ۱۰ـ | حیات اوممات | ۳۷ |
| ۱۱ـ | ښځه د پښتنو په جامعه کښی | ٤٤ |
| ۱۲ـ | دشیطان نذر | ٥۹ |
| ۱۳ـ | متعدی ګناه | ٦۱ |
| ۱٤ـ | د قبائلو زلمی | ٦۳ |
| ۱٥ـ | ملت اوحکومت | ٦۹ |
| ۱٦ـ | داجتماع جرائیم | ۷۱ |
| ۱۷ـ | وطن مور | ۷۲ |
| ۱۸ـ | دکامیابی لیاره | ۸٦ |
| ۱۹ـ | ادبی قاچاق | ۸۲ |
| ۲۰ـ | ننګرهار | ۸٤ |
| ۲۱ـ | بهی | ۸٦ |
| ۲۲ـ | ګډون | ۸۸ |

٢٣- زوېرى او شرم علاج ٩٠
٢٤- د ننگرهار منظره ٩٢
٢٥- امانت او خيانت ٩٦
٢٦- گډه او خوابدى ٩٩
٢٧- د مليونو خيرات څورڅواب ١٠٢
٢٨- خير خيريت دى ١٠٦
٢٩- ژوند څه شى دى ١٠٩
٣٠- د نوو اکتشافاتو په رڼا کښې
قديم حقيقت ١١٥
٣١- نيکى هدف دى که واسطه ؟ ١٢٢
٣٢- د بصر لى سيمه ١٢٩
٣٣- کوشانيان څوک وو ؟ ١٣٣
٣٤- دقولى نړى ة حکومت ١٤٨
٣٥- ايا د جنگ مخنيوى ممکن دى ١٥٤
٣٦- بو بو ليسى ابتکار ١٦٠
٣٧- دا شاعر دى ١٦٣
٣٨- د بلاز مرگ ١٦٦
٣٩- د ژوند مراحل ١٧١
٤٠- مى ژبه او مشرق ١٧٤
٤١- د نبوغ اساسى لارې ١٧٧
٤٢- نزاع او اختلاف ١٨٣
٤٣- د فردى او اجتماعى گناه فرق ١٨٦
٤٤- د کمال اتاتورك يو تقرير ١٩٠
٤٥- د شيرشاه سورى اخلاق ١٩٥
٤٦- د شهاب الدين غورى سيرت ٢٠٦
٤٧- د بقى خزانى په باب توضيحات ٢١٢

٤٨- د بحر آباد سمڅی ٢١٨
٤٩- په اجتماع کښې خپل چاري ٢٢٦
٥٠- په اجتماع کښې ساده وګړي ٢٢٩
٥١- په ټولنه کښې سوداګران ٢٣٢
٥٢- نیکان او محسنان ٢٣٧
٥٣- دا باسیند پښتانه ٢٤٣
٥٤- د یمو کراسی څه شی دی ٢٥٠
٥٥- اتفاق او اختلاف ٢٥٣
٥٦- تشدد او سختی ٢٥٦
٥٧- اجتماعی حقوق ٢٦٠
٥٨- افغانی ثقافت ٢٦٤
٥٩- سعادت په څه شی کښې دی ٢٦٧
٦٠- انسانیت او حیوانیت ٢٧٢
٦١- انسان او فاضل ملکات ٢٧٥
٦٢- پښتانه په قرآن کښې ٢٧٧
٦٣- غوربان څوك وو ؟ ٢٨١
٦٤- د زړه ښت او ځوانۍ په باب ٢٨٣
٦٥- د هندوستان د ملت بنیاد ٢٨٩
٦٦- مونږ کومه لیاره ونیسو ؟ ٢٩١
٦٧- د پښتنو مقابله د سکندر سره ٢٩٦
٦٨- علماء او نوابغ ٣٠٦
٦٩- دوستی او مینه ٣٠٨
٧٠- د غزنی ساحه ٣١١
٧١- د ملیت حس ٣٢٢
٧٢- لوګر ٣٢٥
٧٣- د ماوځی تونګك دژوند
بوه صحنه ٣٣٠

| | | |
|---|---|---|
| ۷٤- | دانصاف داریخ یوه نمونه | ۳۳۷ |
| ۷۵- | خطابی القاب | ۳۳۹ |
| ۷٦- | شنه‌غوا | ۳٤۲ |
| ۷۷- | دګردیز جغرافیه | ۳٤۵ |
| ۷۸- | ملی کالی | ۳۵٤ |
| ۷۹- | اختراعات څنګه وشول | ۳٦۱ |
| ۸۰- | دټولنی ذوق | ۳۷۰ |
| ۸۱- | پښتون دملت نوم دی | |
| | دقام نوم قه‌دی | ۳۸۹ |
| ۸۲- | دوطن مینه غریزی ده ؟ | ۳۹۵ |
| ۸۳- | پښتنولی څه‌شی دی ؟ | ٤۰۵ |
| ۸٤- | سید کمال او بیوجانه | ٤۱۰ |
| ۸۵- | دپښتنو دلرغونی تاریخ یوفصل | ٤۱۸ |
| ۸٦- | شعر څه‌شی دی ؟ | ٤۲۳ |
| ۸۷ | دشعر غرض اوغایه | ٤۲۸ |
| ۸۸- | ادب اوحیات | ٤۲۵ |
| ۸۹- | دملیت علمی تشریح | ٤٤۲ |
| ۹۰- | اسمانی غږ | ٤۵۲ |
| ۹۱- | زمادوه‌ژبی اشنا | ٤۵٦ |
| ۹۲- | افغان ملیت اوپښتنی پښځی | ٤۵۸ |
| ۹۳- | دپښتو دادبیاتو لومړی آثار | ٤٦٤ |
| ۹٤- | ای څمکی | ٤٦۸ |
| ۹۵- | شیخ ملی | ٤۷٤ |
| ۹٦- | درباپ نغمه | ٤۸٤ |
| ۹۷- | پښتو او پښتنولی | ٤۸٦ |
| ۹۸- | دشعر اوشاعر په‌باب سوالونه | ٤۹۰ |

٩٩- زوړ باغوان ٤٩٦

١٠٠- ښکرور غوبی ٤٩٨

١٠١- سړی څنګه شاعر کیږی ٥٠٠

١٠٢- د احمد شاه بابا بښننولی ٥٠٥

١٠٣- د انتقام حس ٥١٦

١٠٤- دیانت اوروحانیت ٥١٨

١٠٥- ترټولو لوی سوال ٥٢١

بسم الله الرحمن الرحيم

مونږ چه سترګی وغړوای خپله شاوخوا، ځمکه آسمان خلک او ولس موو لید. نو زمونږ په پښتو او پښتنی دنیا نظر ولګید.

دلته ډیرو ګړی لیدل کېدل چه پښتوئی ویله، او پښتنولۍ ته ئې دیو مقدس ژوند او ژواک په سترګو کتل.

په دې ولس کښې د ژوند ټولی خوبلنۍ موجودې وې: خپل قوم، خپل وطن، خپله ژبه، خپل اخلاق خپل رواجونه، خپل دودونه، خپله فلسفه، خپلې قصې خپله موسیقی، خپلې هوجرې او خپلې جرګې!

دا خلک نالوستی هم نه وو. او نه دا چه ګوندې چور بې علمه، او بې سواده وو. په دوی کښی لیک لوست، ادب او تحریر موجود ؤ. خو دا څیزونه د دوی په خپله ژبه نه وو. دغلته پښتو وه: خو چا نه لیکله. دا خلک کلک پښتانه وو، په پښتوئی سرونه ورکول، خو نه پوهیدل چه څله او د څه د پاره!

د اهغه ورځې وې چه افغانستان خپل استقلال اخستی ؤ. او د افغانستان مشران د خپل ملی او اجتماعی ژوند د تجدد او نوی والی په فکر کښی وو. په دغسی تفکیر کښی دا مسئله هم څو ځید ای وه. او قدرت داخسنۍ زمونږ په نامه راوایستلو!

له پخوا څخه بحث کول د لرغون پېژندنی وظیفه ده. او دا ئې ځای نه دی. خو په دغه وخت کښی درې کرښې

سمه اوسو چه پښتو لیکل خورا ګران ، له رواجه و تلی
او نا دوده کارو .

په ټول لوی قوم کښی که چیرته کوم کس داسی و
چه پښتو ئې لیکلای شو ای ، نو توبه ! خوخلکو باور
نه کاوه چه په پښتو کښی هم کډو نډ ی څه لیکل
کیدای شی ! -

له هغه وخته تر اوسه له خلو پښتو زیات کالو نه وشول .
پښتو ډیره مخکښی ولاړه . ډیر آثار ، کتابونه او
مطبوعات منځ ته راغلل . خو پښتو لاد تکامل له ټا پی
څخه لری ده . دغه نیمګړتیا له نظمه په نثر کښی ډیره
لیدل کیږی !

که دا یوه قدرتی خبره ده چه دهرې ژبې په ادبی سیر
کښی نظم ترنثره مخکښی پیدا کیږی ، او وده کوی .
خو دا هم یوه قدرتی خبره ده چه د ژبې د ترویج ، عمومیت ،
علمی او ادبی کېدو زیاته ذمه واری دهرې ژبې د نثر
په غاړه لویدلی ده ! -

په اوسنی حال کښی چه دلوئی پښتونخوا د ټولو پښتنو
پاملرنه د پښتو پلو ته را ګرځیدلی ده ، بیا هم په نثر
کښی له نظمه خورا ډیر ضعفونه او کمزوری شته . اوس
ټول پښتانه پوهان په دې فکر کښی دی چه پښتو نثر باید
ډیر ژر او په ښه شان معراج او معیار ته ورسول شی !

په دغه مرام او مقصد : ما دخپلو تیرو خلویښتو کالو
له مقالو ، کانفرنسونو ، ادبی ټوټو ، ځینی تحقیقی
مضامینو اوقصو څخه په کتابی صورت یوه داسی مجموعه
تیاره کړه چه ادبی اوافادی اهمیت ولری . او د پښتو
د نثر نمونه وی !

ددې مجموعې ا کـثر مضامین په متفرق ډول ، له
هغه وخته نشر شوی راغلی دی چه د پښتنو د نیالا د غفلت
په تیاره کښې ویده وه ـ په دې خیال چه دې مقالو به دی
څمکې ته نوی رڼا ، او نوې بیداری راوړې وی ، نو ځکه
یې «نوې رڼا» بولو .

زما د منثورو ادبی آ ثارو ، دوه مجموعې ، پخوا
تردې ، د «نوی ژوندون» او «خیالی دنیا» په نامه نشر
شوې دی . خو په دغو مجموعو کښې د شعریت او ادبیت
پرخوا ډیر میلان ښودل شوی دی . مګر په «نوې رڼا »
کښې دا کوشش شوی دی چه د پښتو په نثر کښې یو داسې
اسلوب ایجاد کړی شی چه د ټولو علمی ، فنی او آ فاقی
معلوماتو د افادې دپاره مساعد وی .

نو ځکه هیله لرم چه د پښتو مینان به د «نوی رڼا»
لاز یاته قدردانی وکړی . او مونږ ته به د نو رو آ ثار و
د لیکلو او اشاعت مخه را کړی شی !!!

کابل ـ خادم مینه ، د میوند واټ ۳ برخه
۱۳۴۰ ـ قیام الدین «خادم»

# دارتقاء حس

دانسان د نفس د پاره مهم او خورا ضروري شی «ترقی» ده . یعنی داچه له یوه حاله بل ته ، د ښه نه خورا ښه ته ، او له ځنګه نه خورا ځنګ ته وخیژی . دی دغه شی غواړی که څه هم په دی کښی ځان بایلی !

نو انسان یو شریف مخلوق دی چه بالطبع ترقی غوښتونکی او د لوړتیا طالب دی . په دی خبره باندې د ده د تیرو زمانو تطورات واضح دلالت کوی . بلکه دانسان دعقل او جنون ، احلامو او خوب اطوارو ټولو څخه دا معلومیږی چه دی دائما اعتلاء او ترقی غواړی نو د تطور نظریه په حقیقت کښی «د نشو او ارتقاء» نظریه ده . دانسان تیر تاریخ را ښیی چه انسان په خپل تطور او حرکت کښی ترقی کړی ده او له یوه حاله بل حال ته پورته شوی دی . نو داچه د انسان پخوانی تاریخ تری ډک دی ، هیڅ امکان نه لری چه دا به د ده د نفس سره اخکلی شوی شی نه وی . او د غریزی په حیث به په ده باندی په آئنده کښی حکومت ونکړی ! لکه د ده په پلرونو یی چه کړی دی .

پخوانو خلکو ډیر ځله د سعادت او خو شبختیء څخه بحث کړی دی .

لیکن نن مونږ نږدی ده چه په دی خبره اتفاق وکړو چه سعادت فقط د ارتقاء شعور دی دغه ارتقاء په صحت وی که په مال او که په رتبی او علم ، نو ترڅو چه مونږ پورته ځو او «ارتقا» کوو ، نو مونږ «مسعود» یو . او دا له دی

کېله چه «دارتقاء حس» زموږ په طبیعت او خټه کښې
اېښودل شوی دی. نو کوم وخت چه موږ دا حس کړو چه
موږ په ځای دریدو او «ارتقاء» نه کوو نو دغه زموږ
د «شقاوت» او (بدبختۍ) لومړنۍ مرحله ده.

ممکنه ده چه دغه عزیزه موږ له هغه حالت څخه په ښه
صورت وپیژنو چه کوم وخت موږ له ځانه جدیت کم کړو
او خپل خواطرو ته ځان تسلیم کړو لکه داچه موږ
اعتقاد وکړو چه موږ لوړو منازل ته ختلی یو.
امر او نهی زموږ په لاس کښې دی، او دحل وعقد
خاوندان شوی یو. نو کوم وخت چه موږ دا تصورات
کوو، نو هم موږ د (سعادت) احساس کوو. او دا ځکه
چه دغه خواطر او تصورات دارتقاء هغه شهوة چه زموږ
په نفس کښې پروت دی مړوی. په دغه شان سره هر
سړی د «ارتقاء» په طلب کښې دی. څوک یې په قیمار کښې
لټوی، هغه گمان کوی چه ډیری روپۍ به وگټم او د
خلکو بادار به شم. مامور کوشش کوی چه
لوړی رتبې ته به وخیږم او معزز به شم.
طالب العلم وائی چه علم زده کړم نو دولت او جاه
دواړه به راپسې منډې وهی. بیا په همدغو خواطرو کښې
وسعت او ارتقاء پیدا کیږی.

ځینی کسان داسی دی چه لیونیان شی نو گمان کوی
چه بادشاه دی او بادشاهی ددوی حق دی نو د بادشاهانو
په لهجه امر او نهی کوی نو دی گوی یا په خپل جنون کښې
هم دارتقاء خواته ساعی دی او غواړی چه د خپل ذلیل حالت

نه هغه حال ته تحول وکاندی چه ده ئی مخکښی تخیل کاوه
ترڅو چه د ده ذهن یو مرض شو .

راشئ دغه سړی وګورئ چه انتحار کوی چه دی
څنګه دځان په قتل راضی کیږی ؟ ځکه چه دی ګوری
چه محیط د ده د ارتقاء غوښتلو د رغبت سره توافق نلری .
نو که انسان طبعاً منحط او ټیټ وای ، ارتقاء او صعود ئی
نه غوښتای ، نو هیڅکله به په مرګ نه وای راضی شوای .
هو ، کله انتحار کوونکی او مجنون خطا کیږی او
دارتقاء معنی نه پیژنی . لیکن اعتبار دغه غریزه لری .
هرڅه چه معنی ده هغه خوسړی له محیط څخه اخلی .

دژوندانه زړه ، دغه «ارتقاء» ده او زمونږ د نفسونو
په اعماقو کښی دغه ارمان پروت دی . تردی چه که مونږ
ښکلی شی خوښوو ، او شوق لرو چه وائی خلو ، نو ګویا
مونږ په دغه ارتقائی حس سره کوشش کوو چه د دغه جمیل
ذات پوری ځان وصل کړو لیکن په دی کښی هم کله کله
سړی غلطیږی .

نو انسان طبعاً «ارتقاء» غوښتونکی دی . او اصالةً
ترقی او خیر غواړی . تر هغه دی مسعود دی ترڅو چه
دارتقاء په لار روان وی ، او دغه طبیعت په فرد او
جماعت کښی فرق نه کوی او هم دغه مهم شی دی چه د ده
هموم د جنون بلکه کله د انتحار سبب کیږی !
نو د علم النفس د تحقیقاتو له رویه «هغه جامعه مسعوده
ګڼل کیږی چه د ارتقاء لاره ئی بیرته وی»

حمل ۱۳۳۵

✧✧✧✧✧

# دانسان ضروريات اوتر تيبئي

نبات اوحيوان له‌جماده څخه په‌حركت ، او بيادوهم له‌اوله په‌اراده اوفعاليت متميز شوى‌دى .

ټول حيوانات له‌ميږو څخه ترفيله پورى چه‌څه دى بوخت دى او يو څه كاركوى . انسان‌هم چه يو عاقل حيوان دى ، عاطل اوخوشى نشى پاتى كېداى كار حركت اوفعاليت دده‌هم فطرى غريزه ده . هركله چه ژوندون حركت دى، نو بيكاره اوخوشي هېڅوك نشته !

هو ، انسان بايد دعقل په‌مقتضى په كارمصروف اوسى . كه‌څوك دعقل نه كارنه اخلى ، نوهم فطرت خپله‌ليار ه نه بدلوى . طبيعت پخپله انسان ته‌كار پيداكوى . حوائج پخپله سړى ابر باسى چه‌كار وكى ، اوهيڅوك بيكاره نه‌پرېږدى !

انسان دتولد له‌اولى چغى نه دمرګ ترآخري سلګى پورى مشغول دى . ياپه صحيح عبارت : شاغل دى . لاس ، پښى ، سترګى ، پوزه ، غوږونه ،عواطف اوعقل حاصل داچه ټول ظاهر اوباطن حواس دكاراو فعاليت آلات اواو زاروته دى . په‌خوب كښى‌چه سړى ويده‌وى نوهم‌كه شعورى عقل معطل وى نوتحت الشعورى عقل يانفس ويښ وى‌او كاركوى ، اوپه هماغو اشيا ؤكښې تصرف كوى اولاس وهى‌چه په‌حواسو سره‌سړى‌خاطرى اودماغ ته‌سپارلى وى.- نو بيكارى چير ته‌ده ؟

دا - دومره دخپرنو خبره نه‌ده . خوګورو و ينو چه ماشومان ژاړى ،ياخورى،څښى يالوبى كوى . هلكان مكتبونه ځى . نجونى سبق وائى يادكاله كار كوى .

ښځې سکوي، پخلی او داولاد پالنه کوي . سړی څوك
نجاري ، څوك خټګري ، څوك تجارت ، څوك نوكري
دهقاني ، مالداري او داسې نور نور كارونه كوي .

اوس خبره داده چه په داسې زرګونو ، كروړونو ،
مختلفو كارونو كښې چه انسان پرې لګيادی ، مونږ
معلوموولی شو چه انسان څه غواړی ؟ او دده ضروريات
څه دي ؟ كه دا سوال حل شو نو ورپسې بيادا پوښتنه ده
چه دغه ضروريات چه دانسان ژوند ورپورې اړه لري څه
ترتيب لري؟ كوم يې مخكښې او كوم يې وروسته دي ؟
ګمان كوم چه كه ددغه دوه پوښتنو ځواب وشي ، نو دا انسان
په حيات كښې به پوره هم آهنګي انتظام او ډسپلين
پيداشي . دی به اهم او مهم وپيژني ، ضروري او غير
ضروري به ور معلوم شي ، او په همدغه سم سرك به روان
وي ، دژوندانه ليارې به نه غلطوي ! كه په ټولو يې لاس
نشو پورې كولی ، نو ضروري به مقدم كوي .

انسان په دې كښې دډېرې خسارې متحمل كيږي چه دی
اكثره يو شي ، يو كار او يوې موضوع ته اهميت وركوي
او هغه دهغومره اهميت وړ نه وي . يا په يو وخت كښې
په يو كار مصروف كيږي ، او حال داچه هغه كار په هغه
وخت مناسب نه وي ، دهغې نه مخكښې نور شيونه لازم
او ضروري وي !

تاسو پخپله فكر وكړئ چه كه سړی ضروري ، فرضي او
لزومي كارچه درجه يې له نورونه مخكښې وي پرېږدي،
او په وروستي ، متأخر او غير مهم باندې مشغول شي ؛
نو دا كار ، سره له دې چه بې ثمره به وي ، مضر به ګوندي

نه‌وی ؟ ـ مثال وایم : اودس یی پر یښو د او په نما نځه لګیا شی . ښه‌نی نمونځ یی وشو ؟
او که‌ورو سته اودس کوی نوځله یـی کوی؟ اودغه وخت چه‌په بـی اودسه نما نځه تیر شی، دا کی ندی کوم ضرر نه‌ؤ؟
دژوندانه ټولی چاری همدغسی دی . که سړی دعلم د تحصیل د پاره ماغـزه با یلی یا کـټلی دولت د شهرت دپاره په یواوبل ، خبر و اوساعت تیریو ، هغه او د غه دښی شپـی دخوب پشان له لاسه وباسی ، نو چه و یښ شی زړه به یـی په ډاکټ و نه لګیـږی ؟ ...
که سړی دصحت او تندرستی ءِ قیمت ونه پیژنی ، اوخدا دادصحت اوروغتیا ددولت په کاڼو کودیو کټلو، یادعلم په شوق و ذوق چه دقوس قزح غوندی دآسمان په لـوړه فضاء کښی درز ګار نـګک وریښمو د ټال پشان ښکاری ور کاندی، او ورټوپ کی چه‌په دی ټال کښی وز انګی نو بیر ته به په درینګه راونه‌لوېږی اوزړه به یی ونه‌چوی؟
دغسی دژوندانه جمع،خرڅ سخت‌دقیق حساب لری . او دحیات شطرنج داسی پیچیده‌دی چه په‌عمرونو نه‌زده کیږی . دحیات او به په‌مخکښی ډېرظلمات لری . اوداغوټه‌د بابل دطلسم پشان ده‌چه‌څوک یی نشی بیرته‌کولای! اوچه بیر ته یی کړی حال نه وایی .

دپورته دواړو سوالونوجواب کەدرتەپەڅېرو مقالو کښې وو ایم ،ښه بەوی؛ کەپەخوجملو کښې؟- معلومەده کەدا معنی پەخو کلمو کښې حل شی ښه به وی .

دغه دی‌رخه نه کوم،زما دالاندی رباعی یادەوساتیء:
اول صحت‌دی بیا ثروت دی☼ور پسی علم او معرفت دی
تر دېنه‌وروسته‌چه‌خطانوزی☼لازم،انسان تەصحی شهرت‌دی

☼ ☼☼ ☼

# دانسان معرفت

دانسان دلویو تطوراتو څخه یوه داده چه کوم وخت انسان هوا مسخره کړه ، اودطیارې په وزرونو والوت، نوناڅاپه ودرېد ، اودخپل کاردلویۍ او عظمت په فکر کښې شو ؛ نوځان ته وایي : «د هوا مملکت مې فتح کړ ، ددریابونو په زړونو مې تسلط وکړ ، اوشاهو ارې مرغلرې مې ترې راوایستې . الکتریك او برق دې دځان په خدمت وګمارل . رادیوم دې کشف کړ ، او داستعمال سر دې یې وپېژاند . اوس زه کولی شم چه د ځمکې دیوې خوانه دبلې خوا او دمغرب نه دمشرق سره د برقی امواجو په ذریعه خبرې وکړم . داسې تصور کوم چه په لږ وزمانه کښې به دژوند سر و پېژنم ، بیا به نو له ما څخه پټ پاته وي؟ »

په دې کښې شك نشته چه انسان تل له یو حاله بل ته ترقي کوي اوخېژي . آخر به داوګڼي چه دده په مخکښې نور هیڅ ندي پاته شوي اوهغه وخت به خپل قوت ته تحیر اوتعجب وکاندي . ولې په واقعه کښې تر او سه انسان داسې متوقف شوی نه دی چه دخپلو اختراعاتو دقوت په لوئي او عظمت کښې فکر وکاندي . سره ددې چه دا ، دده لوی او مهم مزیت دی . اودده دعقل او تصور قوت په دغه لیاره کښې هیڅ کمی ندی کړی .

دا به ډېر دتحیر وړ او مدهش کاروی چه انسان دخپلو لاسونو صنعت ته حیران اودهشت زده ودرېږي؛ اوګرافون سینما ، موټر ، طیارې ، راکټ او داسې نور و

مصنوعا نو ته یې ګوته په غابښ نیوالی وی ؛ او د خپل ځان او خپل عقل او د متخیلی قوتونو ته د غسی تعجب نه کوی او نه دی خبر چه دی څه شی دی ؟ ...

دی حسود او غیور دی - نوله دغه لیاری ده د هوا د مرغانو سره رقابت او سیالی وکړه؛ او دهوا مملکت یې له دوی څخه واخست .

دی طبعاً شهوانی دی - دغه قوت دی د ښځو محبت ته اړ کړ او ددوی په خوږ د سری ګبښې یې سعیه وکړه .

دی مبدع او خداع دی - دغه ابداعا تودی د اساطیرو او قصوا بداع ته مجبور کړ؛ او یو جهان خیالی او تصوری قصی یې جوړی کړی . لکه رو بنسن کـرزو، هملټ، فوسټ او داسې نوری .

دی سخت طامع دی - ځکه دی د خپلو قو تـونو پـه احتفاظ کښی مصروف دی، په دی امـید چـه کمال تـه ورسیږی !

دی ډیر کبرجن او کلان کاری دی - ځکه نو چه ځان ته او د خپل لاس مصنوعا تو ته ګوری، نو سخت تعجب او لو یې کوی .

دی لټ او استراحت پسند دی - ځکه په کوم حال کښی چه وی د اصلاح کوشش یې نه کوی . او نه راضی کیږی چه حال یې ښه شی .

بلـکه انسا ن یـو سر بسته راز دی . په ده کښی د فکر قوت دی، په دغه ذریعه سره اختراع او ابتـکار کوی . او هر څه یې چه جوړ کړی دی ، هغه ټول خرابوی .

ده ته شرډیر آسا ن دی، اوخیر ورته ډیر سخت دی .
د عصر تقلبا تو دهر شی دخبر ت او معرفت په باب دده
سره کومك وکړ، اوپه هرڅه کښې یې ده ته عظمت و باخښه
لیکن دده اختبار اوامتحان ده ته غرور اوتکبر ور کوی
مخصوصا دپنځلس کلنۍ نه دپنځویشت کلنۍ پوری دی
سخت مغرور اومتعجب وی. ځکه پـه دغـه وخت کښې
دی ګمان کوی چه دی کوم نابغه اوعبقری دی. لیکن
په دغه حین کښې دی دهغه ښاخ په شان وی چه مـیوه
پکښې نه وی، اوهمیشه یی سرپورته نیولی وی. ځکه
ښاخ چه کوم وخت په میوه دروند شی نو ټل یی دځمکې
خواته سرټیټ کړی وی .

انسان دا ګمان کوی چه دی خق لری چه هرڅه
تلف کاندی اوهرژوندی هلاك کی ! -

نو په خلکو کښی خورا بدبخت هغه کسان دی چه
هرڅه ضائع کوی، اوهیڅ شی نشی جوړ ولای !

اوس انسان ډیرڅه دځمکې مخ ته راایستلی دی، چه
پخوا چا نه پیژندل. علمی معجزی یی پیدا کړی، او
دطبیعت قوتونه یی خاضع کړل !

په ۱۹۳۷ع کښې دنیوټـن دوفـات ددوه سوه کـلنۍ
سالګری پـه مناسبت مجلس مـنعقد شو . هـغه وخت

دتاریخ ددغه خورا لوی نابغه دقبر په لوحه دا عبارت لیکلی ؤ: «انسان دی غبطه وکاندی چه په عالم کښی هغه څوك پیدا شویدی چه دعالم زینت دی.»

رښتیا چه انسان دعالم زینت دی. او دد ی حق لری چه دمځکی په مخ کښی ودریږی او ځان ته تعجب و کړی

«ګورکی»

۞ ۞ ۞ ۞

کنفرانس:

# داخبار وظیفه

اخبار دمدنیت له آثارو څخه یو لوی او مهم اثردی. ترڅو پورې چه انسان دخپلې ارتقاء دمدارجو انفرادی دوره طی کړې له، او دتهذیب او مدنیت منزل ته نه و رسېدلی دهغه وخته پوری اخبار او مطبوعاتو هم وجود نه لارهٔ. کوم وخت چه په انسان دانفرادیت دوره تېره شوه، او په ټولنه او اجتماع کښې داخل شو؛ او په اجتماع کښې هم دکورو کلی قريې او قبيلې له حدودو څخه د قـو ميت، وطنیت او په آخر کښې دانسانيت معيارته و رسېد؛ او دده فکر دومره وسعت و موند چه په دغه مفهو ماتو پوه شی؛ نو اول خط او کتابت او ورو سته اخبار او مطبو عاتو ظهور وکړ.

لکه څنګه چه اخبار او مطبوعاتو دمدنيت په دوره کښې بروز کړيدی؛ دغه رنګه ئې د مدنيت او تهذيب په نشر او داجتماع او ټولنې په تحکيم او تو سعه کښې هغه برخه اخستی ده چه دمدنيت او ټولنې نور مظاهر او اسباب ورسره برابر تيا نشی کولی. وايی چه لومړنی اخبار چه وتلی دی، تقريبا دری زره کاله دمخه له چـين څـخه وتلی دی. دچاپ او خط دپيدا ئښ فضيلت چـه څرنګه چين او ايشيا ته منسو بيږی دارنګه داخبار دزيږ يدو فضل هم چين او مشرق ته راجع دی. مشرق دانسان دپيدا ينښت ځانګو او د مدنيت او تهذيب مسقط الرأس دی.

دغه وجهه ده چه کوم وخت پیغمبر اخر زمان د علم د تحصیل تاکید کوی .

نوفرمایی : «دعلم طلب کوی ځ که څه هم په چین کښی وی .»

په ورو ستنیو اعصارو کښی چه مغرب دعلم، تهذیب او مدنیت دوستی ځ بیرغ پهلاس اوچت کړ ؛ او علوم و فنونو او اختراعاتو دبرق پشان ترقی وموندله ؛ په دی کښی هیڅ شك نشته چه اخبار او مطبوعاتو په دې لاره کښی ډیر لوی خدمتو نه کړیدی ؛ او که ووایو چه که اخبارونه او مطبوعات نه وای ، نو انسان به دغه ترقی ځ ته هیڅکله نه وای رسیدلی !- نودا خبره به بیځایه نه وی . نو اخبارونې ته په معمولی سترګه کتل نه دی په کار ! ځکه چه اخبار فرداو جماعت ؛ قوم وطن ؛ علم او عقل ؛ تهذیب او مدنیت ؛ اتحاد او یووالی ؛ ایجاد او اختراع ؛ انسانیت او اخلاقوته هغه فوائد رسولی شی چه د روشن خیالی ځ بله یوه ذریعه هم ورسره نه سمیږی .

معارف ، رادیو ، سینما ، کتابخانې او سیاحتونه هم دعلم او عرفان ؛ مدنیت او تهذیب او روشن خیالی ځ نشر او اشاعت مهم اسباب بلل کیږی ، مګر نه د اخبار په اندازه . یوخو له دې جهته چه که اخبار نه وای پیدا ، دغه یو هم میدان ته نه شو راتلی . بل له دې جهته چه د مکتب تحصیل د خاص عمر او وخت پورې تعلق لری . د رادیو آواز دمخصوصو خلکو له خولی راوځی او هر غوږ ته یې رسیدل هم مشکل دی .

دسینما ګونګی که پخپله بدسلیقه وی، ممکنه ده چه دفایدې په ځای بده نتیجه واخلی. کتابخانه دوزګارو او بیغمو خلکو سره مرسته کولی شی. او په مطالعه کښې مهمه خبره داده چه که مطالعه منظمه دپروګرام لاندی اودیو نصب العین دپاره نه وی؛ کېدی شی چه چندان مفیده واقع نشی. سیاحت خو معلومه ده چه ډیر مشکلات لری، اوهرچاته نه میسرېږی.

مګر اخبار هرچاته په هرعمر کښې هغه مسایل ور زده کوی چه ارو مرو هغه ته فایده ورسوی. داخبار په مطالعه کښې لویه فائده داده چه په آسانه او عام فهمه ژبه هرقسم معلومات دوخت داقتضاء سره سم نشروی. که سړی څه موده په خپل روزمره ژوند کښې د اخبارمطالعې ته وخت ورکړی؛ نو خپل عقلی او دماغی احاطه کښې به دیرلوی وسعت وګوری!

څه رنګه چه هرفرد دخپل مادی حیات دهری خوا په تامین مجبوردی، او دآخری سلګۍ پورې ددغه مدعا دحصول دپاره کوښښ کوی. باید دمعنوی قوأو دترتیب او پالنې دپاره هم هماغومره کوښښ او زیار په ځان لازم وبولی. ولی چه مادی حیات بې دمعنوی فضائلو څخه نیمګړی شی دی. ډیر داسی کسان شته چه معنوی ترقیاتو ته په مادی هغو باندی ترجیح ورکوی. لیکن داسی کسان به هیڅیری نه وی چه یوازی مادی حیات خوښ کاندی اوله معنویاتو څخه سترګې پټې کړی. ددغه معنوی حیات دتامین د پاره

بهترین شی داخبار مطالعه ده. هو داخبارنه داستفادی دپاره تر یوه حده دعلومو مبادی باید تحصیل کړی شی.

فرد لکه څنګه چه دخپل کور، کلی، سمت اووطن سره مربوط دی، دغه شان دد نیا او عالم سره هم دده دحیات سرنوشت اړه لری. دی باید لکه څه قسم چه دخپل کورو کلی، سمت اووطن دعلمی، ادبی، اخلاقی صناعتی، صحی، اقتصادی، اجتماعی حالاتو څخه باخبره وی، په دغه ډول لازمه ده چه ددنیا دروز مره سیاسی تغیرونو، علمی او اختراعی پیشرفتونو، اخلاقی او اقتصادی اوضاعو څخه مطلع وی.

ممکنه ده چه ځینی کسان و وایی چه که سړی ددغه خبرونه واقف نه وی نو څه کیږی؟ ددې سوال جواب ډیر مختصر شوی دی: «آیا هغه کسان چه علم لری او هغه کسان چه بیعلمه دیدا څرګندې برابردی؟» یعنی عالمان په بی علمو ډیر فضیلت لری!

داسی کسان هم شته چه هغوی په اخبارونو کښی صرف اطلاعات او عجائبات لټوی. او همدغه د اخبار وظیفه ګڼی. مګر داهغه کسان دی چه داخبارونو مطالعه یی په صحیح ډول نه ده کړې او نه عمیق شوی نه دی. هو، اخبارونه اطلاعات او عجائبات هم نشر وی، مګر داداخبار تر ټولو ورو ستنۍ وظیفه شمیرل کیږی. اخبارونه هغه ټول سمتی، وطنی اوددنیا خوادث، افکار، نهضتونه او پیشرفتونه او هر هغه څه چه قوم ورته احتیاج لری په آسانه ژبه قوم ته رسوی. ښځی په کور ونو کښی، هلکان په مکتبونو کښی، مامورین په دوائرو کښی

کاریگران په کار خانو کښی اهل صنعت او حرفت په خپلو معملو اود کار په ځایو کښی له دغو مفیدو نشریاتو څخه خپل عقلی اودماغی تربیت دپاره استفاده کوی .

په مغربی مما لکو کښی داخبار مطالعه د هرفرد دپاره شځه وی که ز ،ځوان وی که زوړ ،ددهقان څخه ترعسکر او فیلسوفه پوری - ددوی په روزانه حیات کښی وخت لری . لکه څنګه چه خوب اوخوراك څوك نشی پریښو دای ، دغه رنګه داخبار مطالعه هم نه پریږدی .

په اخبارونو کښی معارف ، اقتصادیات ،صحیات ،دژبی اوادب پالنه ، اخلاقیات ، اجتماعیات ، علمی اوفلسفی مباحث ، تاریخ ، مشاهیر ، قصص اور وایات ، د د نیا تغیرونه اوسیا سیات ، دفنونو او اخترا عاتو مخکښی تګ چه دوخت اوزمان په تطبیق دیوقوم ذهنی اومادی ار تقاء ته فائده رسوی داټول موجودوی .

لنډه داچه حیات دحرکت اوتقدم نوم دی . او ددی حرکت اوتقدم حامل اخباردی . داحرکت او تقد م چه دژوند په هر پهلواو هره برخه تعلق لری اخبا ر پکښی سرعت اوتیزی پیدا کوی . او په کومه جنبه کښی چه رکود وی اخبار وظیفه داردی چه هلته فعالیت پیدا کاندی .

ا خبار دیوقوم دعقل ، فکر ، نفیس ذوق اوخیال دتربیت دپاره پس له معارفه ترټولو لوی وسیله او مهمه ذریعه ده . اخبار دیوقوم اوملت ژبه ګڼل کیږی . کوم قوم او ملت چه آزاد جرائد نه لری ، هغه بی ژبانه ملت حسابیږی .څنګه که انسان په ژبه اوخبرو تر نورو حیوا ناتو ا متیاز لری نو په اجتماعی صورت داژبه اخبا ر د ی .

جلال آباد ۱۳۳۱ ✿✿✿✿

# د سړیو تقدیر

موږ هره ورځ د ډېرو خلکو سره د روز مره معیشت او ګذران د مجبوریتونو او لوازمو له کبله مخامخ کېږو. زموږ مخامخ کېدل د دې ټولو سره په یو شان نه دي، د چا سره ډېره مینه او محبت ښکاره کوو، او د چا سره په عادي صورت تصادف کوو، د چا نه موږ بد راځي، او ځینې نورو ته د بغض او کینې په سترګه ګورو. هېڅ یو سړی د دغه قسم وضعیت نه خلاص نه دی. یو ماذون، عالم او عادل حاکم هم بې له دغه چاري بله لیاره نه لري چه پرې ولاړ شي. دوی ته چه ورشي هم څوك بر کښېنوي او څوك کوز، چا ته ښه هر کلی کوي او په چا پر وا هم نه کوي، چا ته ښه ډوډۍ ورکوي، او ځینې نورو ته ګوښې او څپېړې!!

که موږ دغه د سړیو تقدیر ته د معیار او اساس لاندې قائل شو، نو هم زموږ د اجتماع ډېر نواقص ورباندې اصلاح کېږي. ځینې خلك دې مسئلې ته د اجتماع له خوا نه ملتفت کېږي دوی هر شي ته د خپلو عینکو له ښېښو څخه ګوري: کوم سړی ماسره ښه کړیدی او کوم سړی ماسره بد. په کوم سړي زما اعتبار پوره کېږي او په کوم سړي نه! کوم سړي ما ته په آینده کښې ښېګڼه رسولی شي او کوم سړی نه! هغه سړی زما د شخصي مرام نه مخالف کار کړیدی، او هغه بل زما د مفاد د پاره نه دی قربان شوی! موږ اکثره له دغې څوا څخه خلك تحلیلوو؛

او پەدې باندی دخپل تقدیر او تقبیح ، تحسین او نفرین نتائج مرتبوو . مګر نه پوهیږو چه مونږ د ډیری لویې ګناه ارتکاب کوو ، ځکه‌چه پەدې صورت کښې مونږ عدالت او داجتماع سمه‌او سپینه‌لیار پریښی‌ده او په کږو وږو روان یو ، او د حق تلفیٔ جنبه موغوره کړ یده . زمونږ مقدس دین مونږ ته د «حب لو جه الله او بغض لوجه الله »امر کړیدی . فرد په اجتماعی لحاظ هغه‌وخت دحقوقو خاوند کېدای شی‌چه خپل شخصیت ته‌داجتماع په آئینه کښې وګوری . که‌هرسړی‌یوازې ځان‌ته‌ګوری او هرڅه دخپلی شخصی فائدی‌اوضرر له نقطهٔ نګاه‌څخه سنجوی ، نوفکر وکړی‌ٔزمونږ په‌اجتماع اوټولنه کښې به‌څومره هرج‌ومرج ، بی نظمی ، شخصیات او بی‌عد التی موجوده‌وی .

عدالت دېته ویلی‌شی چه‌هرشی په‌خپله رتبه او اندازه دفائدی اوخیر اوعمومی ښیګڼی له‌پلوه‌و پیژندل شی ، مونږ مکلف یوچه عالم ، عادل فعال اوخیر رسان شخص ته په‌درنه سترګه وګورو «خیرالناس من ینفع الناس » صحیح حدیث‌دی . نوکه ددغه قوانینو مراعات نه کو و اوفقط دځان دپاره رمبی‌وهو ، اودنیا ته په دی سترګه ګورو چه دادی زمونږ دشخصی آرزوسره سمه‌وګرځی نو آیا داامکان لری؟ اوکه ممکنه وی نوداعدالت دی؟ په صحیح حدیث کښې راغلی دی: «هیڅ یوله ستاسو ترهغه مسلمان نشی کېدای ترڅوچه دبل مسلمان ورور دپاره هغه شی‌پېرزو نکړی چه په ځان یی پېرزو کوی» دااوداسی نوری‌ټولی مفیدی خبری به‌هرچا په بار بار

اوریدلی وی. حضرت پیغمبر (ص) دحاتم دلور قدر کوی
اوله بنده یی خلاصوی اوامر کوی چه ددی دې اعزاز
اواحترام وکړی شی، ځکه چه وایی ددې پلار ښه سړی ؤ
مکارم اخلاق یی درلودل، دمیلمنو قدر یی کاوه، اود
عاجزانو اونادرانو سره یی مرسته اوده غو دستګیری
یی کوله. دین ټول ددغسی احکامو څخه ډک دی چه
ټول یی اجتماعی دی. مګر ځینو ګمان کړیدی چه بس
دا، دیو څو رسمو نو نوم دی.

عالمګیر دین دی ددود په لومه بند کړ
بی حکمته په دی چاریی غو لید نی
«امیل»

په دی مسئله کښی ځکه ددین له خوادلایل وړاندی
کوم چه ګمان ونکړی شی دداسی کوم یوخیز تلقین
کیږی چه ددینی احکامو څخه به مخالف وی!

ددغه لنډ تمهید نه پس به درمعلومه شوی وی چه
دسړیو دتقدیر معیار څه شی دی؟ خپل شخصی آمال او
آرزوګانی، اوکه اجتماعی ښیګڼی اومفادونه!- مونږ
باید هغه سړی ته دقدر، عزت او احترام په سترګه
وګورو چه نوروته یی خیر ورسیږی، دهغه ذوق او
احساسات دخیر، صلاح او بهبود په محور څرخ خوری.
رحم، شفقت عاطفه اودخدای دمخلوق دبهبود اوښیګڼی
سودا یی په سر کښی ګرځی. اوددی مینی او محبت په
لیار کښی دځان په ستړی کولو اودمال په لګولو هم
اړ نه وی!- که څه هم کله زموږ دمفاد سره تصادم
وکړی! داتحاد مشرقی ۳۹ کال (۳) ګڼه د حمل ۱۰-۱۳۲۶

✲ ✲ ✲ ✲

# دازدواج دعمر په باب دعلم جواب

زلمی چه کوم وخت دژوندانه دمبارزی په میدان کښی داخلیږی، او په علمی ژوند کښی پل ږدی؛ هغه وخت لازمه ده چه ښځه وکاندی؛ او دخپل ژوندانه دشریك ښځه دخپلو مشکلاتو په لیار اودخپل سعادت او ښری په باب کومك وغواړی؛ چه هغه هم دژوند په مبارزه کښی دده سره اوږه ورکاندی؛ او که دې پخپله یوازې په دغه تنازع کښی داخل وی. اودخپل حال او استقبال غم دی دده په سروی، او ورو سته دی تیار په تیاره دخپل ژوند په ثمر کښی یوبل دځانه سره شریك کړی ؟

دا یوسوال دی. ددی سوال په جواب کښی مفکرین دوه ډلی دی ؛ او بیل بیل جواب ور کوی . یوه داجتماعیاتو ډله ده چه لیکوال اودقلم خاوندان پکښی شامل دی او هغه کسان چه داخلاقی سره سرو کار لری؛ دوی داعقیده لری چه دانسان دجسمانی نمو تکامل سن چه په دغه وخت کښی دازدواج صلاحیت لری، هغه د۳۰ کالو شاوخوا ده؛ دینه زیات ځوان او زلمی ته خصوصا په ښارونو کښی مشکله ده چه لس کاله نور ودریږی؛ اکثره دغه لس کاله تعطیل په ښارونو کښی دقسم قسم شرونو اومفاسدو سبب ګرځی. چه دا مفاسد په کلو کښې نه وی . ځکه چه هلته زلمی د نمود کمال په ابتداء کښې واده کوی .

له بلې خوا داطباواوډاکټرانولوی تعداد، خصوصاً داوژنیك (معرفت تصفیه نسل) دمسلك خاوندان چه د بشر دجنس په تحسین اوښه والی قائل دی، ددغه ډور ته فکر نه مخالف دی. دوی وايي چه دوخته واده کول ضرر لری، اواجتماع ته نقصان دی. دوی وايي هغه نقص اوضرر چه دوخته ازدواج نه ټولنی اواجتماع ته متصور دی؛ هغه، دهغه شرونو او مفاسدو څخه چه دوروسته اومتأخر واده نه حاصلیږی؛ زیات اوسخت دی. او کوم وخت چه دوه آفته او بلاګانی متوجه وی، نو آسانه اومسهله باید غوره کړی شی! دوی دخپل فکر دتقویت دپاره داوائی چه دغه قبائل او اقوام چه په لمړی عمر کښې واده کوی لکه ځینې هنوداودبحرالکاهل دجزیرو او سپید ونکی، اودسیام خلك اوټول ملوناجناس. په دوی کښې ډیرداسې اجتماعی نقصانونه شته چه د بشر دانحطاط سبب ګرځی.

نو چه ځوان او زلمی دا دواړه رايي واوری، نوحیران پاته شی اوپه فکر کښې ولویږی چه په کومه یوه عمل وکړی، اوکومه رايه ځان ته سرمشق کانديږ؟ دنیویارك دلویو اطباؤ څخه یو وايي: «مادداسې ډیری مېندې ولیدې چه عمرونه یې دپنځلسو نه تېر نه وو اوپه مخونو کښې یې دضعف اوفقر الدم علامې څرګندې وې.» دی وايي: «طبیب ته هم دا کافی ده چه دغسې مثالونو ته وګوری، اونتیجه واخلی چه دغو مېندو خپل قوت او انرجی دولادت اودکور په وظائفو کښې دجسم د تکمیل نه پخوا صرف کړی ده اوځان یې امراضو ته مستعد کړی دی،

هـۍ ، داسې هم ځینې پېغلې شته چه په پنځلس
کلنۍ او شپاړس کلنۍ کښې دواده وړ وي ، مګر داپه
شواذو کښې حسابیږي .» دی وایې : «زما عقیده دا ده
چه ځوان دې د پنځه ویشتو نه مخکښې واده نه کوي .»
دا معلومه خبره ده چه متقدم او مخکښې واده په زارینه
کښې حیاتي قوتونه کمزوري کوي ، او په ښځه کښې
فقرالدم او له دغه قسمه امراض پیدا کوي چه په دغو کښې
مهم سوءِ هضم ، سل او عصبي امراض دي .
و ګوره هغه خلکو ته چه په لمړي عمر کښې واده
کوي ، هلته ښځې په دېرشم کال زړېږي . په دغه عمر
کښې یې مخ ګونجې شي ، او قوت یې انحطاط وکړي .
او بالعکس هغه کسان چه زر واده نه کوي ، او
تقریبا شل کالو ته ګوري ، نو هلته ښځه ډېره موده قوي
تندرسته او د پیغلتوب په تازګۍ او طراوت پاته کیږي .
تردې وروسته دا خبره هم د تحقیق لاندې راغلې ده
چه ډېر اولادونه کتل شوي دي ، او نتیجه اخستل شوې ده
چه هر څومره د مور و پلار عمر په کموالي کښې وي ، دا
اولاد صحت خراب او ضعیف وي بلکه دا تاثیر یوازې په
جسد نه وي لوېدلی ، عقل ته یې هم سرایت کړی وي ، او
دا ثابته شوې ده چه هر کله په څو پښتو نو کښې د لمړي عمر
واده متکرر شي ، نو نسل جسما او عقلا کمزوري راځي .
ځینې د یو ژینیه مذهب علماؤ دا اندازه لګولې ده
چه په هغه کورنۍ کښې چه په یوه پیړۍ کښې پکښې
څلور پښته پیدا شي ، د دوی په نسل کښې لوی شخصی او
نابغه نه پیدا کیږي . ځینې نور لا دا وایي چه د هغه

کوړنۍ په نسل کښې هم لوی سړی نه پیدا کیږی چه په یو قرن کښې دری پښته پیدا شوی وی هغه پلار چه د۳۳ کالو نه کم عمر کښې ځوی ځیږوی هغه د اولاد د پاره د جسمی او عقلی کمزوری سبب گرځی .

په اوله کښې خوسړی په دغه قول عقیده نشی کولی ، ځکه اکثره خلك په یو قرن کښې ددری پښتو څخه زیات توالد کوی . مگر دقیق مباحث او تحقیقات داثبا بتوی چه دامریکی اکثره لوی نوابغ اورجال داسی خلك وو چه دوی دخپلو پلرو په څلویښتم کال ځیږیدلی دی . او په دوی کښې یوهم داسی نشته چه دپلارعمر یی د دوی دځیږیدو په وخت د(۳۵) نه کم وی .

دنورځی علماء دپلار عمر ته داولاد دځیږیدو په وخت کښې زیات اهمیت ور کوی . اوعقیده لری چه دغه عمر دنسل په حالت کښې زیات تاثیر لری ځکه هماغه اولادونه چه دیو مورو پلاره څخه ځیږیدلی وی ، دمورو پلار دعمر تفاوت په دوی کښې تاثیر لری . دغه دی زه اوس تاسو ته دیو تعداد لویو کسانو نومونه دربښیم چه دمیندو عمرونه یی ددوی دولادت په حال کښې په دغه حسابوو .

| | | | |
|---|---|---|---|
| فرنکلین | ۵۱ | گویته | ۵۶ |
| ارفنج | ۵۴ | ملتن | ۴۵ |
| وبستر | ۴۴ | کونفوسیوس | ۴۵ |
| بیتشر | ۳۸ | بسمارك | ۴۴ |
| واشنگتن | ۳۸ | ایلیسن | ۴۳ |
| شکسپیر | ۴۰ | — | |

څینی کسان په دی نظریه ترڅه حده ټینګ دی چه په دغه موضوع یی لویی جائزی هم مقرری کړی وی، چه دغه جائزی به هغه چا ته ورکول کیږی چه په لویو کسانو او نوابغو کښی داسی څوک پیدا کاندی چه اسلاف یی په یو قرن کښی ددری پښتو څخه زیات عمر پډلی وی. ددی جائزو داخستلو دپاره ډیرو کسانو سعیه هم وکړه، او دغه جائزه هیچا وانه خیستله. څینی اطباؤ داخبره ثبوت ته رسولی ده چه په ۱۱۰۵ کښی یو سړی داسی پیدا کیږی چه ده ورو پلار عمر یی دده دولادت په وخت ۳۵ کاله وی، او ۶۴ کاله وته ورسیږی. او چه ده ورو پلار عمر یی ددیرشو او څلو پښتو په منځ کښی وی، ۶۵ کاله وته رسیږی او چه دڅلو پښتو او څلور څلو پښتو په منځ کښی وی ۶۶ کاله وته رسیږی. او د څلور څلو پښتو نه تر نه څلو پښتو پورې ۶۸ ته رسیږی. او چه په ۵۰ او پنځه پنځوسو کښی وی، ۷۰ کاله وته رسیږی شی!

ددی خبرو وجهه داده چه انسان هر څومره په عمر کښی تقدم کوی، دده دجسم مقاومت دامراضو په مقابل کښی زیاتیږی. نو دغه مقاومت اولاد ته په توارث نقلیږی.

یوه خبره داهم ده هر څومره چه واده په کم عمر کښی وشی. هلته دزوجینو تجربه او علم کم وی، نو په لږو اوادنی خبرو ددوی په منځ کښی اختلاف پیدا کیږی. او چه عمر زیاتیږی، تجربه او علم هم زیاتیږی، بیانو یو تر بله مساهله کوی او ډیرو خبرو نه سره تیریږی او ګذاره کوی. نوزندګی اوعائلوی حیات خو شګواره صورت غوره کوی.

اوس نودا دځوانانو او پیغلو خپله خوښه ده چه هره لیاره غوره کوی!

☆☆☆☆☆

# د ښه سړیتوب معیار

ښه او بد ، یا ښه سړی او بد سړی ؛ دا هغه اطلاقات دی چه د نورو ډیرو محاورو په نسبت زمونږ په روز مره محاوره کښې په کثرت سره استعمالیږی . د عوامو له طبقاتو نه د علماؤ او فضلاؤ ، او د ټیټو کسانو نه د لوړو زمامدارانو پورې هر څوک د غه کلمې په یوه پیمانه استعمالوی . دا ښې ښه دی . دا ښې بد دی . فلانی سړی ښه دی . فلانی سړی بد دی . دوارهٔ ،غټ ، او ښځې په خوله یو رنګ جاری دی .

د ښه او بد لفظ هغسې کلمې نه دی چه له خولې ووځی هوا ده او په هوا کښې ورکیږی . بلکه په دی دوارو کلمو کښې ډیر لوی تاثیر او معنی پرته ده ، چا ته چه خلک ښه و ائی او ښه تلقی شی ؛ دا ډیره لویه کامیابی ده . چه د دنیا یوه کامیابی دی کامیابی ته نه شی رسیدای ! او هغه څوک چه د بد عنوان حاصل کاندی ، نو هغه ته شرف ، وقار ، حرمت او لویی نه پاته کیږی !

په دنیا کښې د تعجب شیونه ډیر دی ، خو یوه له تعجباتو څخه دا هم ده چه ځینې کسان وهم کوی چه په دنیا کښې هیڅ حقیقت نشته ؛ نو دوی حقائقو ته کله ظل ، کله سراب او کله اوهام وایی . حال دا دی چه حقیقت یو ظاهر او بین شی دی . حقائق د هر چا په مخکښې پراته دی . نو که دوی یې حقائق نه ګڼی ، نو دا د حقیقت له حقیقته څه نشی کمولای . یو له حقائقو څخه څپله «ژوند» دی . بل لـه

حقائقو څخه «انسان» دی . دانسان تلقی او پندار هم یوله حقائقو څخه دی . نوکه ویا له حقیقة انکار کول پخپله بی حقیقة خبره ده !

نوداچه مونږ یوشی یایوچاته ښه وایو ، یاد بد اطلاق پری کوو ، داهوائی خبره نه ده . باید د «ښه» او د «بد» اطلاق په فکر و کړو . او د ضمیر داواز سره سم دخولی نه الفاظ و باسو . که مونږ ناسنجیده یا بې فکره کلمې اوسو نودا زمونږ اجتماع نظم او هم آهنګی وره کوی . او زمونږ ژوند تباه کوی .

د «ښه» لقب دګټلو دپاره یا د «بد» اطلاق نه ځان ساتلو دپاره انسانان خورا قیمتی قربانیٔ او فداکاری کوی . مالونه ، دولتونه ، جاه وحشم ، د «ښه» لفظ په مقابل کښې هیڅ اهمیت نه لري . ډیر زیانونه او ډیر تاوانونه ښه دی چه انسان یې په ځان قبول کړی ، نه د بد لقب ! دد غه دوه لفظو نو د معنی په عمق کښې قدرت دجوا معو او اقوامو دلوړوالی او ټیټوالی راز ایښی دی !

یوه ورځ زما دیودوست سره دیو سړی په باب اختلاف پیدا شو . ده ویل فلانی ښه سړی دی . ما ویل یې ښودلو ویل یې دابد دی . ماویل ، نو ، پام کوه ، بې سنجشه چاته ښه یا بد ویل ډیر لوی خیانت دی ! په دی کښې زما او دده بحث اوږدو شو اولوړو بحثونو ته وخوت .

ددی خبری بیخ دادی چه که مونږ فکرونه کړو ، او بې فکره ځینی شیونو ته ښه او ځینی نورو ته بدو وایو نودا زمونږ اطلاقات په خلکو اودهغو په اذهانو ژور

تاثیر اچوی . او هر شی ته چه خلك ښه وایی ، کوونکی یی ډېر ډېری . او چه خلك ورته بد وایی ، هغې خوا ته خلك مخه نه کوی ، او ډېره تری کوی ! نو که زمونږ اطلاق ښځا یه وی نو ګویا مونږ خپل قام په غلطه لیار بوت !

خبری ډېری دی . او قدرت هرشی د بل پوری تښلولی او مربوط پیدا کړی دی . هره خبره ډېر ښاخو نه او هر سر سپړل ډېر مشکلات لری . مګر بیاهم دعلم کاردادی چه کلیات پیدا کړی . نو په کلی طور سره بې له خطا داویلی شم چه که یو قام دا تصمیم وکړی چه په ښه او بد باندی به ښځا یه خوله نه خوځوی . او د حقیت له رویه به ښی ته ښه او بدو ته بدوایی . نو بس همدغه داصلاح یکانه ذریعه ده . او په همدی یوقام اعلی مدار جو ته رسیدی شی .

ښه نوښه سړی څوك دی ؟ که مونږ ښه وپېژاند ، نو بد هم پېژندی شو ځکه چه اشیا دخپل ضد په معرفت سره پېژندل کېږی . یوڅا ته ښه ویل ، یا په بل څا باندی د بد حکم کول هغه وخت په کار دی چه سړی دهغه په متعلق پوره علم ولری ؛ او په ټولو اطرافو او جوانبو او پټو او مرموزو سجایا ؤ باندی یی خبر اوسی ! علاوه پر دی دا امکان لری چه هماغه سړی چه مونږ ورته یو وخت ښه سړی ویلی دی ، یو وخت بد شی . او هماغه شخص چه مونږ یی بد بولو ، یو نیم کار ور څخه ښه و شی . ځکه چه انسان کښی تغیر راتلك یو طبیعی کار دی . دا هم کېدی شی چه د یوه سړی ځینی افعال ښه وی او ځینی یی

بدوی . نودوچو له کبله لا نده سپزل اوپه دغه موضوعاتو کښې خلط کول اجتماعی او دینی ګناه ده !

ډیر خلك داسی دی چه ښه سړیتوب دد وی په نز د په ځینی مخصوصو عاداتو ، افعالو او وضعیتونو اړه لری . که چادغه لرل ، ښه سړی د ی . که نه ، بد . مګر اصل خبره داده چه دغه مخصوص عادات او اطوار ، وضعیت او ظاهریات دخلکو دفریب دپاره ډیرو خلکو زده کړی او عادت کړی وی . اوپه باطن کښې بل څه شی وی !

نو دښه سړیتوب دپاره باید یو قانون اوفو ر مو ل ته قائل شو . اود هغه له مخی ښه سړی و پیژ نو . دغه قانون باید د ننورځی داجتماعی علومو دتحقیقاتو او اخلاقو له رویه وی . زما په فکر داقانون باید داسی وی : چه انسان که څه هم لوی مخلوق دی مګر هما غو مره د خطا او نسیان څخه مرکب هم دی . نو یو انسان په عین حال کښې هر څه نشی کېدا ای ، داسی چه هم عالم شی ، هم فنی شی هم فلسفی شی ، هم شاعر شی ، هم خطیب شی ، هم څه او هم څه .... نو له دغه کبله له څه قرونو را په دې خوادحیات او ژوند وظایف دانسانانو په منځکښی علماو پشل شوی او تقسیم شوی دی . مثلا یو سړی سیاس دی ؛ بل فنی متخصص دی ؛ بل کاریګر دی ، بل عالم دی . بل زارع او همدا سی نور !

نو دهر سړی ښه سړی توب باید دخپلی وظیفی دښې اجرا په سبب و پیژ ندل شی . نه د ځینی مخصوصو عاداتو او رواجو په تعمیل . مثلا ښه دهقان هغه دی چه په پټی کښې ښه خواری کوی . په وخت یی کری ریبی اودده دلاس دمزدنه

نور خلك استفاده وکړی . مالداری ، تر کاری ، باغوانی
چه د ځمکی پوری ارتباط لری، ټول یی په نظر کښی وی
او علماهم کوشان وی اوخپل تولیدات زیاتوی .

ښه ډاکټر هغه دی چه د خپلی وظیفـی او کسب سـره
علاقه لری . هر مریض ته په پراخه تندیه مخامخ کیږی . پس
له پوره غوره او روحی تسلی نه چه کومه نسخه لیکی د هغی
هدایت او پرهیز په ښه شان مریض ته ښیی . وړو کی ، غټ ، مالدار
او غریب ته په یوه سترګه ګوري . او مقصد یی تل د عامه
صحت ترقی او د خلکو خوشحالی اوسی ! خپله ګټه د خلکو
په خیر کښی ولټوی ، نه د هغو په شر کښی ،

ښه تاجر هغه دی چه ګټه کوی خو په انصاف ؛ مال
وا ردوی خو د ملت په فایده ؛ د مال او دولت په غرور له
سړیتوبه و نه وځی ، مفاسدو او ناجا یزو اعمالو ته لاس
وا نه چوی ، او دده په ګټه او فا ئده کښی خو ار غریب
مسافر ، یتیم او اهل علم شریك وی . او په تجارت کښی
دده مقصد د ملت په او رمېږ ښه ا یښود ل نه وی بلکه د جماعت
خوشحالی او ترقی یی مرام وی !

ښه حاکم هغه دی چه د ښو احساساتو خاوندوی ، پوهیږی
چه زه هر حرکت کوم د قوم آینده باندی دا کلك تاثیر
لری ؛ خپله وظیفه و پیژنی چه زما کار د قـو م تر بـیت
د امنیت قیام او د خلکو د اختلافاتو رفع کول ، د حکو مت
او د ملت په مینځکښی سمه تر جمانی ، د تعلیم ، اقتصا د
او عمرانی ترقی او د عدالت اجرا ده ! د خلکو عرضو نه
باید په پراخه حوصله واوری . مظلوم د ظالم له لا سه خلاص
کا ندی . او بی د غرض له مدا خلی د هر مظلوم اواز ته

سمدلاسه ځانورسوی . بی ځایه خلك تحقیر او بی حرمته نکړی . او که دا نشی کولی داعهده قبوله نکړی !

نه قاضی هغه دی چه دغوړ اوسپوره لستونی فرق ورته نه وی چه قضیه ورو سپارل شی دستی پکښی اقدامات کوی او په نن اوصبا د خلکو دزړه مړ اندی نه شلوی . بی د شریعت او قانون د حقیقی اقتضا نه دده په فیصله او حکمیت بل شی تاثیر نه اچوی . مرادیی د نزاع کوانو خلاصول وی نه زیاتول .

دارنګه باید هرمؤظف د خپلی وظیفی په اداء کښی پوه ، صادق ، فعال او بی غرضه وی . وظیفه دوظیفی په تقدس سره و پیژنی ، نه د نورو تیتو او شخصی اغراضو اومطالبو په لحاظ .

هو ، څه داسی شیونه هم شته چه د هرانسان دپاره لازم وی او مشترکه وظیفه ګڼل کیږی . لکه داچه مثلا هر انسان بل ته دا نسانیت په محترما نه نظر و ګوری ؛ لطیف اومهربانه دی اوسی . خوږه ژبه ، ظرافت ، صداقت ، حق پرستی ، او حقیقت شنا سی ، خدمت او ایثار باید دهرشخص و ظیفه واوسی .

داهغه شیونه دی چه زمونږ دعلم او کنترول د تدقیق لاندی راتلی شی . ځینی نور عقیدوی اومذهبی وظائف باید خاص دخدای او بنده ترمنځ پریښو ول شی . ځکه چه هلته زمونږ علم نه رسی . مونږ هیڅکله دیو سړی له عقیدی څخه بحث نشو کولی . ځکه داپټ شی دی . دارنګه دیو سړی په ظاهری تقوی اوعبادت نشو متیقن کیدی چه آیادا شیونه حقیقتا دخدای د پاره دی او که د نورو

مقاصدو اورياد پاره. وايي دحضرت عمر (رض) په حضور يو صحابي ديو سړي تذکيه او سفارش وکړ او و يي ويل : «دا ښه سړی دی» حضرت فاروق ورنه پوښتنه وکړه چه تاددغه سړي سره چه توصيف يي کوی کله معامله يعنې ورکړه را کړه کړيده ! صحابي وويل: نه ! حضرت فاروق ويل : سفر دې ورسره کړيدی ؟ صحابي ويل : نه ؟ ويل يې نو دخه له مخې وايي چه ښه سړی دی . صحابي ويل : لمونځ ئې نه اودسو نه او د قرآن تلاوت او نور عبادات مې يې ليدلي دي . حضرت فاروق ويل : چه څو يو سړی دد غه اجتماعي امتحان لاندی رانشي تر هغه مونږ ورته ښه سړی نشو ويلای !

نو زهد او عبادت يقينا د ښه سړيتوب لويي علامې دی . خوداشيو نه دخدای او دبنده تر منځ شيونه دی . مونږ څه پوهيږو چه ديو سړي دغه عبادات خدای ته منظور دی ، او د نيت په صفائي او خلوص بنادی ، اوکه نه ؟ نو ځکه مونږ يو سړی ته دښه سړيتوب دشهادتنامې ورکولو دپاره چه څو دعمل په ميدان کښې امتحان ور نکړی ، په تش زهد نشو متسلي کيدای ! ځکه په حديث شريف کښې راغلي دی : «الدين المعاملة : دين معامله ده » او قد سي حديث کښې راغلي دی : «خلك زما عيال دی چه څوك زمادعيال سره ښه سلوك او ښيګڼه کوی ، هغه ما ته ګران دی .

دغه دی دښه سړيتوب معيار ؛

☼☼☼☼☼

# د دنیا ژبې

دد نیا ژ بې په دوه لو یو قسمو نو و یشل کیږی چه یو قسم یې مترقي او بل یې غیر مترقي ژ بې دی، غیر متر قي هغه د ی چه لغات یې د یو اصل نه مر کب وی اوداسم ، فعل حرف ا متیاز پکښې نه وی . لکه د ز نګیانو ، دجنو بي افر یقا اود امریکاد اصلي او سیدو نکو اود چین ژ بې اوداسې نو ری !

مترقي ژ بې د رې لو یې طبقې لری : لکه سامي ، آر یا یې او تورانی . په تورانی ژ بو کښې منګولي ، ننګا سی او غر وا نی دا خلیږ ی . دغو ته غیر متصرفه ژ بې هم وایې ځکه ددغو ژ بو د الفاظو نه ګردان او تصریف نه جو ړیږ ی بلکه اشتقاق په دی شان سره تر ی کیږ ی چه د فعل په اصل ماده با ند ی نو رز وائدزیات کړی شی . په دغو ژ بو کښې تر کی ژ به ښه مترقي ژ به حسا بیږ ی .

د ریم ښاخ د آر یا یې ژ بو دی . په دی کښې د ارر پا هند ، ایران ، افغا نستان ، ، کردستان ژ بې د اخلیږ ی . دغو ته یا فثیه ژ بې هم وایې . دغه آر یائی ژ بې په خپل مینځکښې بیا په دوه لو یو څا نګو بېلېږ ی چه یو ه یې دجنو بي ژ بو څا نګه ده او بله یې ، دشمالي ژ بو څا نګه ده . هغه ژ بې چه دایشیا په جنو بي حصو کښې رواج لر ی لکه سنکر ت اودهغې مشتقات لکه هندی ، پارسي ، کردی بخارایې ، ارمنی ، اوستائی اوپښتو ، داجنو بي آر یائی ژ بې دی .

هر چه شمالي ژ بې دی په دی کښې دارو پا ټولې ژ بې دا خـلیږ ی .

د ایبا پنځه قسمه لری:

(۱) کلتیه ژبی دی چه د برتانیی دجزائرو ژبی پکښی دا خلیږی پرته دانګریزی نه.

(۲) ایطالیایی ژبی د ی لکه لاتین اودهغی فروع مثلا فرانسوی ، ایطالیایی ، اسپانوی او پرتګالی .

(۳) هیلینیه ژبی د ی لکه قدیمی او جدیدی ، یونانی ژبی .

(۴) الو ندیه ژبی ، لکه دروسی ، بلغاریا او بوهیمیا ژبی .

(۵) تیو تونی ژبی لکه انګریزی ، جرمنی ، هالندی ډنمارکی ، او آ ئسلینډی .

دآریائی ژبو دممیزه صفاتو څخه یو دا دی چه ددامی ریشو څخه جوړی وی چه تصریف پکښی کیږی لیکن دی تصریف ته ادراجی تصریف وایی اواشتقاقیی داسی وی چه دهری معنی دتولید دپاره یوادات په اصل ماده باندی زیاتیږی . دغه ادات اغلبا معنی داره کلمه وی . دغه ادات کلمه داصلی مادی په اول او کلمه په آخر پوری وصل کیږی . دارنګه نور تصریفات هم واخله ټولی آریائی ژبی په تصریف کښی د همدغه اصول تابعی دی.

سامی ژبی سام بن نوح ته منسوبی دی، ځکه چه ددی ژبوا کثره متکلمین دده داولادی څخه دی . دشرق معروفی او مشهوری ژبی دد غو ژبو له جملی څخه دی په دغو کښی عربی ژبه ترټولو مترقی ، وسیعه ، غنی اودقیق التعبیر ژبه ده .

دغه ژبی دا امتیازهم لری چه‌د عهد عتیق تاریخ په دوی کښی لیکل شوی دی یعنی «توراة» چه په عبرانی راغلی دی . داهم معلومه خبره ده چه په رومبی تمدن ددغو ژبو دمتکلمینو په منځ کښ پیداشوی دی . لکه با بلیان آثوریان اوفنیقیان اوداسی نور . داژبی په دغه دری قسمو ویشل شوی دی:

اول: ارامی ژبه ده چه فروع یی سریانی او کلدانی حسابیږی . نو ارامی ژبه کویا دپخوانی بابل ژبه ده چه آثاریی دبابل او آثور په بقایا ؤ منقوش پاته دی . دغه بقایا په اسفینیه او انبار یه حروفو لیکل شوی دی . کلدانی ژبه کټ مټ همدغه شی دی . لیکن پس له دی چه دز مانی لاسونو پری لوبی کړی دی او ځینی الفاظ یی تری تغیر کړی دی . په دغه ژبه د قدیم عهد ځینی سفر و نه لیکل شوی دی . لکه ددانیال(ع) او داسی نور و سفرونه نودی ته که ارامی ژبه وایی نودمساهلی له رویه یی ورته وایی . که نه نو ددی او اصلی ارامی ژبی په مینځ کښی ډیر فرق دی . اثوری ژبه بیاددینه ډیره دبابل دژبی نه لیری ده . او هغه چه‌ نن ورځ ځینی سریانی خلک په خپلو مینځو کښی سریانی ژبه بولی ، هماغه سریانی ژبه ده خو تغیریی په لږو حر کاتو کښی راغلی دی . نوسریانی ژبه هماغه کلدانی ژبه ده سره دتغیره ، چه په الفاظو او دلالتو کښی یی راغلی دی . نوگویا دبابل قدیمه ژبه په اول کښی ارامی ژبه وه . بیا پکښی لږ تغیر راغی نو کلدانی ژبه یی ورته وویله . بیا پکښی نور تغیر راغی نوسریانی شوه . بیا په دی کښی هم ځینی دحر کاتو تغیر او تنوع

پېښ شو نوغربي سرياني او شرقي سرياني ترې جوړ شوه.

نو اصلي ارامي ژبې، ځينې معتبر تواريخ د بابل او اثور په بقايا ؤ منقوش ساتلي دي. او سرياني ژبې، مقدس كتاب ساتلي دي. چه د مسيح (ع) په دويمه پېړۍ كښې دغې غربي ژبې باندې ترجمه شوې دي. دې ترجمې ته (بسيطه) ترجمه وايي.

دوهمه: عبراني ژبه ده، چه د پخواني تاريخ په ساتلو امتياز لري. لكه چه مخكښې مو وويل. او بله دا چه ددې ژبې ناطقين هغه كسان دي چه تر نور و ټولو ملتو د خپل بيخ او ريښې په لحاظ خر ګند او واضح دي. هغه ژبه چه نن يې يهوديان وايي، اصلي عبراني نه ده. بلكه ځينې كلداني او ارامي لغات ور سره ګډ شوي دي، په دغه ژبه كښې چه كوم مهم شي ليكل شوي دي، هماغه «عهد قديم» دي. ددېنه پيا نور نباخو نه بيل شوي دي لكه فينيقيه او قرطجنيه ژبې. دا دواړه مړې دي.

دريمه عربي ده. دا په سامي ژبو كښې خورا لوړه او مهمه ژبه ده. ددې زده كړه د دې د نورو خويندو د تحكيم او تقويې دپاره لازمه ده.

عربي پخوا په جزيرة العرب كښې محصوره وه، كوم وخت چه اسلام راغی، نو دې ژبې په نشر او خپل پدولاس پوري كړ، چه خپل د اسلامي فتوحاتو په بركت يوه داسې ورځ راغله چه عربي ژبه شرقا او غربا د هند، بوغا ز او جبل الطارق په منځ كښې او شمالا او جنوبا د بحر اسود او بحر عرب په منځ كښې خپره شوه. حاصل دا دي چه نن ورځ په عربي ژبې باندې ټوله متمدنه دنيا پوهيږي. او حبشو

حالیه ژبې اوځینې نورې چه اوس مړې دي دعربي ژبې
فروعات گڼل کېږي .

دسامي ژبو دواضحو علاماتو څخه داده چه دوی
دداسې اصولو څخه ترکیب مومي چه دري حرفیز وي . او په
اشتقاق کښې دغه اصل تغیر نه مومي یعنې حروف یې
پرځای وي ؛ او په حرکاتو کښې یې تغیر راځي . مثلا :
« قتل » یو اصل دی چه دوژلو معنی لري . نوچه په دی
کښې د حرکاتو تغیر راشي ، ډیر افعال واسماء او صفات
ورنه اشتقاق کېږي . لکه قتل : ماضي معلومه . قتل :
ماضي مجهوله یقتل : مضارع . قاتل ؛ اسم فاعل : مقتول
اسم مفعول . همدارنگه أمر نهي ، نفي جحد ، مکان ،
تصغیر ، افعل التفضیل . بیا د دغو اسماؤ جمعې ،
مبالغې او بیا ددغو مجردو افعالو مزید - یو عالم اشتقاق
ته رسېږي . هو ، د الحاق په صورت پکښې هم اشتقاق
کېدی شي ، لکه اریائی ژبې لیکن اغلب اشتقاق یې
دحرکاتو دتغیر په واسطه سره وي . او بله داده چه په
دغه ژبو کښې ملحقه ادات مستقلې معنی داره کلمې
نه دي . ددنیا په ژبو کښې ورپسې یوناني ، بیا لاتیني
او وروسته جرمني ده . لیکن فرانسوي ژبه هم پس له دی
چه د ژبې اکاډیمي ورته خدمت وکړ ، په سیاسي او مخابروي
زمینو کښې ددی ژبې اقتدار تر نورو ژبو ډېر شو . ځکه
چه ددولو په رسمي مخابرو کښې همدغه ژبه پکاریږي .

٭٭٭٭

# حیات او ممات

د بشر یو ملیارد او پنځه سوه ملیونه نفوس پر دی خاورینه کره ژوند کوی، او هره ورځ یو بل ته ګوری او یو د بل په احوالو کښی دقیق کیږی، او لږ لږ یو د بل سره کومك او مرسته کوی، او بالمقابل ډیر ظلم او تعدی هم یو پر بل کوی! خو موده لا تیره نه وی چه ټول د حیات د صحنی څخه د باندی وځی او خپل ځای را تللونکو خلکو ته پریږدی!

د بشر د دی بی شماره افرادو او د دی ملیونونو انسانانو څخه چه سپین تور او ژړ نژادو نه لری او د بشر جامعه تشکیلوی تر بلی پیړی پوری یو زرهم په دی خاورینه ځمکه نه پاته کیږی.

په هره لحظه کښی په زرګونو اشخاص زیږیږی د هم جنسانو له ډلی څخه له دی نړی څخه سترګی پټوی او د هغوی پر ځای په زرګونو نور اشخاص د وجود په میدان کښی پښه ږدی!

په همدی ګړی کښی چه تاسو دا کرښی لولئ، خو مره خلك د ژوند اخرینی ځلکی وهی، او ساه یی له قالبه وځی؛ او څو مره کوچنیان ځیږی، او لومړی وار په دی نړی کښی د هوا تنفس کوی. د زیږیدونکو کوچنیانو فریاد او د محتضرینو او غمجنو زګیروی پر له پسی د اسمان خواته متصاعد کیږی.

ډیر مهی ځل چه مونږ له مرګه سره اشنا کیږو، په رنځ

او اندوه اخته کېږو ، او په تحیر او ابهاماتو کښې ډوبېږو هغه کوچنی چه دتور تابوت په اړخ کښې در ېږی او په تعجب ورته ګوری ، اود خپلو خپلوانو څخه سوالونه کوی ، نو که دی خپلو سوالونو ته جواب نشی ویلای ، ډیر پوه اودانا سړی هم نشی کولی چه هغه قانع کاندی، او تسلی یی راولی !

مونږ سره ددی علومو او پیشرفتونو او لوړ فرهنګ تر اوسه پوری یوه کوچنی ۀ اطلاع دمرګ اوحیات له اسرارو څخه نه لرو .

مونږ نه پوهیږو چه له کومه ځایه راغلی یو ، او کوم ځای ته ځو ؛ اوزمونږ دراتلو اصل علت اوزمونږ د آفرینش راز څه ؤ .

مذهبی عقیده او دیانت کولی شی چه افکار او عقل دشك او تردید له کوخی څخه خارج کاندی ، او ددغه بیځوابه سوالونو په مقابل کښې تر یوه حده پوری ځواب ووایی . بشر تر اوسه پوری دخپل ټول قوت اوعلومو دنوو لیارو په واسطه ددې معما دحل کولو کوښښ کړی دی او بری یی نه دی موندلی .

زمونږ دمابنام او سهار خوب او بیداری د حیات او ممات داسرار آمیز حقیقت نمونه ده . شیکسپیر دخپل رسا فکر اوقوی روح له لیاری څخه د ژوند په اسرار و کښې یوخوږ اوژور بحث کړی دی : هغه وخت چه (مارګینت) ته وویل شوه چه ستا ښځه مړه شوه ، دی دخپل ژوند نه مایوس شو ، اوخپل ټول کوششونه اومساعی یی خوشی او بیهوده وبلل ، او په ډیره ناکامی یی وویل :

«پەدی ورځی پسی بلەورځ!اود هغی پسی هم نوری ورځی دی ؛ ترهغه ورځی پوری چەدا معدو دژوندون خاتمه ومومی او زمونږ دمقدوروورځو حساب پای ته ورسیږی .»

داټول د زمانی ګردشونه دهغه لیار ی نښېدی چه مونږ ته دنیستیء دسرمنزل هدایت او لار ښو دنه کوی. ای دژوند لنډی شمعی بالکل خاموشه شه ! ژوندون بی له یوی متحرکی شبحی څخه بل څه نه دی . یو مستعد ګلې یدونکی دی ، چەدخپلی نښی څخه یوه ګړیء د دنیا پە صحنه کښی لو بې کـوی ، او ور وسته دې ر دی شاته ځـی .

او نورېې نوم نه اوریدل کیږی . ژوندون داسی دی لکه یوه قصه چه دلیونی د خولی څخه او رېدل کیږی . دشور او حرارت اود ګفتار ه څخه ډک دی ، ولی هیڅ مفهوم نـه لـری .»

دادی دژوند تعبیر دهغو اشخا صو پەنظر چەد خپله حیاته څخه ما یوس او ناراض دی . زما یو دوست چه ژوندون ته پەهمدی سترګەګوری ، پەدې او اخرو کښی یی یو مکتوب ماته رالیږلی دی ، اودهغه پە ضمن کښی وا یـی :

«تاسی دژو ندانه اودهغه دروزانه وظیفی پە باب ډیر څه لیکلیء،اوپرله پسی خلکو ته نصیحت او هدایت کوی چەدژوندانه رسم او رواج او دود او دستور ز د ه کړیء ولی تر اوسه پوری مو یوه کلمه هم نده لیکلی چه ! صلا ژوند څەشی دی ؟خلك پوه کړی چەددوی وجودونه لکه

هغه حشرات دي چه د مسافر په شاو خوا څو ثانیې پرواز
کوي ، او بیا ژر ورك کیږي . هغوي متوجه کړ ي چه
فقط یوه لحظه ژوندلري . او وروسته د نیستۍ په دریاب
کښې الی الابد معدوم کیږي ولې خلك خوشې او بیهوده
په رنځ او زحمت اخته کوي او د دوه ورځو ژوند د پاره
دومره پند او نصیحت اوروي . ددینه وروسته بایدچه
دخپل لیك طرز ته تغییر ور کړي ، او د نصیحت کولو
پر ځای ځینې مقالې د ژوند د بې فایده والي او پوچتوب په
خصوص کښې ولیکي .»

دازما دوست چه دده د مفصل لیك څخه مو په پوره تنیو
کړنیو کښې څو مختصرې جملې ذکر کړې ، ډیر فهیم او
هوښیار سړی دی . ولې دده د زلمیتوب دوره پای ته
رسیدلې ده .

او بې له دینه چه پخپله متوجه شي دده په عاقله او
دراکه قوه کښې لږ اختلال راغلی دی . ځکه که دده دوینا
له قراره دفکر له تربیته څخه غفلت وکړو ، مونږ ته لکه
دورانو شوو شیدو حالت را پیښیږي ، او په نتیجه کښې
به خلك تنبل او مهمل تربیه شي ، او همدا سبب دی چه ټول
هغه اشخاص چه ژوندون ته د بد بینۍ او یأس په سترګه
ګوري احوال یې په دغه شان دی .

مونږ ټول اعتراف کوو چه د حیات او ممات د معما له
تفسیره عاجز یو ، او هیڅ راز اطلاع نه لرو چه مونږ
دی دنیا ته څنګه راغلي یو او څنګه ځو . لیکن په عین حال
کښې نور اطلاعات او مطالب زمونږ په فکر کښې راځي
او لاس پکښې لرو .

موږ پوهیږو چه زموږ په وجود کښې تمائلات او احساسات شته او په ودیعت کښېښودل شوي دي، چه دهغو په هدایت او رهنمایي موږ ژوندون اداره کیږي .

پوهیږو چه ممکن دي چه خپل وجود یو دبل استفادې، او نورو موجوداتو ته دفایدې رسولو دپاره چه زموږ نه وروسته دې نړۍ ته راځي اماده کړو .

زموږ ژوند لنډ دی . او حیات زموږ په نظر کښې یوه معما او معمات بله معماده . ډیر ښه موږ منو . ولې که ژوند یو مهم او نافع شی وي نو لازمه ده چه انتفاع او فایده ور څخه واخلو او که یوه لنډه او فراري شېبه وي ، نو بیا هم دده دڅو دقیقې وجود څخه کامله استفاده وکړو . دحیات دظهور نه مخکښې او وروسته هر څه چه وي ، مګر دا مسلم او نا قابل انکار امر دی چه هر څه مو له لاسه پوره وي دهغه په باره کښې استحضاریت حاصل کړو چه د هرې اشتباه او خطا څخه مصئون پاته شو .

نور هم ځینې داسې مشکلات شته دي چه زموږ د هر یوه عقل دهغوی په ایضاح او حل کولو قادر نه دی. احمق سړي دلاینحلو او خوشې مسئلو په مقابل کښې په ځمکه زنګون وهي . او خپل عمر دهغو په شاو خوا کښې صرف کوي . او عاقبت هیڅ ځای ته نه رسیږي . لیکن پوه او هوښیار سړي هر کله چه په داسې مشکلاتو اخته شي ، او حل یې د خپل توانه څخه لرې ووینې ، دهغه څخه صرف نظر کوي، او خپلو مفیدو کارونو پسې ګرځي چه انجام یې کړي . مثلاً یو لوی منصبدار د دښمن په خاوره کښې په جګړه مصروف دی ، او دده په لیاره کښې یوه ټینګه او مستحکمه

کلا پر جنګ ځای ولاړه ده چه نه یې د حملې او نه یې د محاصرې
په اثر فتح کولای شی. نودغه سړی که تجر به کار او
ازموده منصبدار وی، نوددغه کلا نه صرف نظر کوی.
اوهیڅکله خپل وخت ددا سی کلا په نیولو خوشی او
بیهوده نه صرفوی. بلکه وړاندی ځی، او بنایی چه یوه
ضعیفه او بی دفاع کلا پیدا اوهغه تسخیر کاندی. او په
داسی نظریو او اقدا ماتو کښی ممکن دی چه دد ښمن
پرتوله خاوره یی لاس بر شی. او ټول ځایونه یی فتح کړی.
او هیڅکله هغی ټینګی کلا ته اهمیت ور نه کاندی.

یوه او خرمند سړی هم دژوند په عرصه کښی لکه
هغه تجر به کار منصبداردی چه هر کله ورښکاره شی
چه یوه موضوع دهغه دحوصلې او ادراك څخه خارجه
ده. دهغی دمقا بلې څخه ډډه کوی، او نورو مفیدو کارونو
پسی ګرځی. که ته نه پو هیږی چه ژوند څه دی او مرګ څه
دی بیا هم دسعی په اثر کولای شی چه ددی لا نحلې موضوع
دپاره یو ځواب پیدا کړی، او یوی ښی نتیجې ته ورسیږی.
اوخپل ژوند د ځان او د نورو دپاره مفید او نافع
وګرځوې. نو ته کولی شی چه دخپل ژوند په آ خرینو
دقیقو کښی په ډیره نام نیکۍ او آبرومندۍ سترګی
پټی کړې، په آخرینه لحظه کښی چه درحلت نغاری
ډنګیږی، اومعالج طبیب ستا دتلو څخه خبر ی کوی نو
هغه وخت ممکن دی دځان سره ووایی:

«زه نه پوهیدم چه له کومه ځایه څخه راغلم او نه
پوهیږم چه کوم ځای ته ځم. ولی ددی نړې دا قامت په

وخت کښې چه هر څو مره قوه مادر لوده کوښښ مې وکړ چه یو کامل انسان شم. او دخپل انسا نیت وظیفه انجام کړم.» نو هغه وخت ځان ته سعادتمند سړی و یلی شی. او ممکنه ده چه ددی دوه ؤ لو یو او لاینحلو معما ؤ له فکره چه مرګ او ژوند دی، هم بې نیاز شي!

※ ※ ※

داقتراح په لړ کښې

## ښځه د پښتنو په جامعه کښې

کوم وخت چه انسان علم او مدنیت ته مخه کړېده او له انفرادی ژوندانه راووتلی او اجتماعی حیات ته ګلېشوی دی؛ دده په شئوناتو او ګذاره کښې ډیـر تغـیر راغلی دی. او ډېرو هغو خبرو ته متوجـه شوی دی چه پخوا ورته نهؤ متوجه. مخصوصا دځې قرونو ښځه رادی پلو انسان، دپخوانی انسان سره ډیر تفاوت لری نننی انسان یوائې دخپلې شخصی ګذاری لـه احاطی څـځه ډیـر پورته تللی دی. یعنی خپل خیر او خپله ښېبو دی غواړی مګر نور اهل وطن قوم، جنس او نـوعـه هم لـه نظره نه باسی.

لـکه څنګه چه له څو اعصارو څخه اجتماعی معارف اجتماعی اقتصاد، اجتماعی عمران، اجتـماعی صحت، اجتماعی سیاست دهر انسان دفکر محور ګرځېدلی دی؛ دانسان دآزادۍ اوخوشحالۍ مسئله اودګلېګذران اودیو پر بل حقوقو تحدید او تشخیص داهم دانسان دنظر مورد شوی دی، او په دی سلسله کښې دغلامۍ لغو یت دتحریراو تقریر او عقیدی آزادی، دبند او حبس او استعمار داصو لو اصلاح هم ددی عصر دمدنی انسان خواص بللی کېږی. او داهغه خواص دی چه دنن عصر انسان ور باندی حقیقتاً دافتخار وړدی او باید ناز پری وکړی.

دنن عصر انسان داد ب او علم په رڼا کښې ډیر شیو نـه

رابرسیره کړل: پخوانی انسان دعلم اوعدالت ، حق او باطل، خیر او شر په منځکښې روښن اوښکاره فرق نشو کولی . ډیر حقایق چه نن معلوم او پیژ ندل شوی دی . پخوا نامعلوم اودعقلو نودرڼا څخه پټ وو . پخوانی انسان نه پوهیدو چه په عقل باندی کومه پر ده پرته ده او څه شی دی چه دانسان خداداد عقل نه پریږدی چه دفطرت دمالامال خز ائنو اوودائعو څخه اخذ اواستفاده وکړی . اګر چه آسمانی ادیانو اومذاهبو مخصوصا دا سلام دین دې خواته انسان زیات را اړولی اوملتفت کړی دی . مګر مستقلا انسان په بیر ته ستر ګی دخلور پنځه قر ونو څخه حقائقو اودفطرت اسرارو ته لیاره مېندلی ده. او په کلې اواجتماعی قدرت سره دغه خواته رو ان دی .

پخوا انسان ځان ته ګټه کوله خوا غلباد بل په ضرر ، تمامیده . دخپلی خوشحالیءِ اوعیش وعشرت دپاره بــه ئې په سوونو اوزرګو نو انسانان غلامان اوو ینځی نیول . اکثره انسانان به نوروته پههماغه حق نه قائلیدل چه ځان به یې دهغه مستحق باله . علم ته اساسآتو جه نــه وه، که وه نوداسی به وه چه چېرته به یوشخص په شخصی کوښښ اوزیار په ډیرو مودو کښی څه زده کړل . اوچه زده به یې کړل هم نوروته به یې نشوه ویلی . ځکه هغه وخت دنیا آزاده نه وه . اوانسان به دفائدی اوحقیقت په وینا معذب کیدو، اودمرګ سزا به ور کولی کېده . خود غرضی او شخصیاتو دهرحق مخه نیولی وه . هر زورور او به کولی شو ه چه څنګه یــی خــو ښه وی هغسی امر حکم اوفرمان نافذ کاندی . دافکر چــا نشو کولی چه

دغه انسان چه زه پری ځان ته ما نۍ جوړوم، باغونه سازوم، ښه خوراکونه اوښه آغوستن اوښه عیش وعشرت پری جوړوم، دده په سرزه عالم، عاقل اوسیاست دان کېدی شم داانسان خو پخپله هم مستحق دی چه دغه شیـونـه ځان ته حاصل کاندی. دهـغه وخت انسان پـه دی نـه پوهېدو چه فطری قوی او فطری استعد ادو نه دخالق اوافریدګار له طرفه په عدالت، مساوات اواستحقاق وېشل شوی دی. چه څېدعلم دوره اورنږا راغلـه او انسان په دغه خبرو پوه شو .

ددې علم په عصر کښی دحیاتی مسائلو بنیاد داخو شیونه دی : حق ، قانون، آزادی، عدالت، مساوات . په دغه اساس باندی «دښځی مسئله» منځ ته راغلی ده. په تېروا عصارو کښی ښځه هم دغلامانو او بندګانو په قطار کښی ټله . هغه وخت اکثر انسانان دښځی په حق نه وو قایل دېزرو مللو اواقوامو تاریخ څرګندوی چه ښځی ته په هغی کښی په سپکه ستر ګه کتل کېده . ښځه محروم وه ښځه، بندی وه . ښځه دشرم شی و. په نه څه به ر ټل کېده معزز به کېده: چا به ژوندی ښخوله. چا به په ندزو نو کښی قربانی کړله. چا به دمیړه دمړی سره ژونـدی اورتـه اچوله. چا به دشرمادة ګڼله. چینی ، هندی، داسلام نه مخکښی سامی او دارنګه دنوری دنیا قولکلور اوروائی ادبیات ثابتوی چه ښځه دبیداری اوشعور دعصر نه مخکښې څومره پیمنحط او بدشی ګڼلی کېده. دشعور دوخت انسان غور اودقت وکړچه ولی؟ ښځه نو څه شویده! که نرحق

لري يو ښځه يې ولې نه لري ؟ كه دحيات په ټوله مبارزه كښې نر كار كولی شي نو ښځه ګو ندی دا استعداد نه لري ؟ آيا هماغه ماغزه چه شعور ، ادراك او سنجش دهغې خا صه ده د ښځې په سر كښې ګو ندې نشته ؟ هغه لاس او پښې چه نريې لري دښځې ګو ندی نشته ؟ چه انسان متوجه شو ، ويې ليده چه دحيات دډرام په صحنه كښې ښځه او نر دوا ړه فطرتا داخل دي . بلكه كه ښځه د نر ن ته ښه رول نه بازي كوی نو كمه خو ترې نه ده . او په دې هم پوه شو چه د ښځې انحطاط چه د نر له لاسه دی خپله د نر د انحطاط سبب ګر ځېدلی دی . او چه عميق شول ويې ليدل چه د «احسن تقويم» انعام په ښځه له نره زيات شوی دی . نو د نر په زړه كښې د ښځې په نسبت احترام او د حق شناسی جذ به پيدا شوه ، او ددې دتضرر او تاذی نه يې لاس وا خست . او د انسان د نوعې په حقوقو ور ته قائل شـو .

ز مو نږ په وطن او جامعه كښې دا خـبري نـوي دی . تر اوسه پورې جرائد او اخباراتو دښځې نوم په خوله نه دی اخستی او چه دښځې په حق څوك خوله پرې كـې سړه لرې پرې راځي . مګر داخلك يا نه دی خبر ، يا ځان نه پوهوی چه د متمد نی دنيا دشعور نه مخكښې اسلام دښځو حقوق دنيا ته راوړی وو ؛ او د آدم (ع) اولاد ته يې تعليم ور كاوه چه «انا خلقنا كم من ذكر وانثی وجعلنا كم شعو با وقبائل لتعار فوا ان اكرمكم عندالله اتقيكم» يعنی (تاسو مې د نـر او ښځـې څخـه پـيدا كـړی يـا ست . او پښې او قبا ئـل مو ګـرځو لـی يـاست چه يو تر بلـه و پيژ نی

هو تحقیق ده کرامت په تقوی او اخلاقو دی) . یعنی نه په نراونبځی والی ، او نه په دی چه فلانی ؛ فلانیء قبیلې ته منسوب دی . دځای په ځای مبا حثو څخه پـرتـه دا لمړنیء مستقیمه اقتراح ده په کابل مجلی په خپلو پاڼو کښی میدان تهرا ایستلی ده چه «ښـځه دښتنو په نـظر کښی» څو کاله مخکښی چه څه لږ بحثو نه په دې موضوع کښی شوی وو ، هغه پاڼې غوایانو و خوړې . اوس دعقل او سنجش اود اسلام او قرآن په رڼا کښی په دغه موضوع څېړنه په کارده ، غواړو چه اساسا په دې موضوع تحقیقی بحث وکـړو :

(۱) دجذب، میل اود اتصال دخواهش خاصه دکائناتو په ذره ، ذره کښی د الکترون او پرو ټون څخه نیولی تر شمسي نظام او عظیما لجثه کرو پورې په ټول عالم کښی موجوده اوساریده . همدغه خاصه ده چه په نامی حساس او شاعر اجسامو کښی یی لـکه نبات ، حیوان او انسان دتناسل ، جنسی غریزې اومحبت پهرنګ ارتقاء کړی ده په دغه شان عالـم جفت ، جـفت اوزوج ، زوج ، ګـروه ګروه او ډ لـی ، ډ لـی ګـر ځـیـد لــی دی . او خالق تر یو نظام جوړ کړی دی چه انسان پرېږده ددی مجموعی څخه یوهذره ده نور علمونه رسیږی بی له دی چه ووایی : دغه جذب، میلان محبت اوعشق دکائناتو د آفرینش ، بقاأو حیات دلویو اسرارو حامل دی .

(۲) نباتات نر او ماده لری . اوڅو پوری چه دنر او مادې دذراتو اتصال ونشی ، بوټی اوونی تخم او میوه

نه نیسی وایی چه دگلانو باردار کیده دهغه مچا نو په واسطه کیږی چه په گلا نو کښینی او گرځی .

او په خپلو پښو او پنجو دنر نباتذرات ښځی ته رسوی. دخرماو نی همشنلی او بارداری لری. شنلی یی نران او بار داری یی ښځی دی . چه څو د دغه شنلی و نی د گل گرد دبار داری پههغی کښی و نه څنلی شی خرما نه نیسی مگر قدرت دنر اوښځی په منځکښی بی لهدی چهدنر او مادی دذراتو داتصال څخه دې ماده بار داره شی او خپل جنس دی تولید کاندی بل فرق نهدی پیدا کړی .

(۳) حیوانات پهدوه قسمهدی : دشعور خاوندان اود عقل خاوندان یعنی ناطق اوغیر ناطق ، ناطق یی انسان دی ، او غیر ناطق یی لهجراثیمونیولی ترفیله پوری تولدی . چه څه په اوبو کښی گرځی اوڅه په و چه څه الوزی اوڅه پښو ئیږی . ځینی دوه پښی لری او ځینی څلور .

پهطیورو اوغیر ناطق حیواناتو کښی دنر اومادیفرق او تمائز لیږدی ، اومخصوصا وظیفوی فرق کهوی دښځی پهاهمیت دلالت کوی .

دجمال پهلحاظ کله نر لهښځی ښایسته اوښکلیوی لکه مرزان او کوتری او چرگان ، او کله ښځه لهنره ښایسته او پر لیوی لکهطاؤس ....... دقدرت اوقوت پهلحاظ هم کله ښځه په نرقویوی لکه باز ، زمری ، اوداسی نور او کله نر دښځی په نسبت قوی وی لکه ........ او کله برابر وی لکه خره ، آسونه ، غوایان او داسی نور ، په حشراتو کښی اکثره دښځی جسامت په نرقوی او پرزوروی لکه ملخان ، چیند خی او داسی نور . سو ړی ایستل ،

ځالې جوړول ، هګۍ ږ شارل ، بچي لويول
د نر او ښځې مشترکه وظیفه ګڼلې شوې ده . مګر
کله ښځه په نر وظیفوي سبقت او شرافت لري لکه چرګان
که چرګه هګۍ ږ و نه شاري او بچي محافظه او لوی نه کاندي
نو چرګک بې د سحر او مازیګر د خوږ شي اذانو نو او نغمه
خوانۍ ږ څخه زوره څه حیاتي وظیفه پر غاړه نه اخلي .
لکه د شاتو مچۍ چه پاد شاه یکښې ښځه ده او د نسل بقا
په دې اړه لري .

په پستاندارو حیوانا تو کښې هم د اولاد پالل د ښځو په
سر دی . نو ګویا د فطرت په ټولو مظاهرو کښې مونږ د نر
کوم حیاتي ، جمالیاتي او وظیفوي برتري ، تفوق او سبقت
نه وینو . سره ددې چه د ښځې پلو ته تله درنه معلومیږي .

(۴) راغلو انسان ته : د انسان په نوعه کښې ښځه له نارینه
څخه ښکلې خلق شویده او داخبره څیړنه نه غواړي .
دقوت او عقل په لحاظ د نورو ځې اکثره مفکرین د دې
طرفدار دي چه که د ښځې او نر له مینځه څخه استثنائي
حالات لکه حیض ، نفاس حمل او رضاعت ، تعلیم او لوسته
ورزش او کار وایستل شي ؛ نو د ښځې او نر په اصل فطرت
کښې به فرق پاته نه شي خیر که سړی فرق هم ومني نو په
حیاتي حقوقو کښې تر یو د یو جنس پر بل باندې دومره
بیلتون لکه چه نورو باندې ځینې جوامع مبتلا دي ، نه
لازمیږي . په حیوانا تو کښې یوازې غریزه
کار کوي . مګر د انسان سره یو بل شی
هم شته چه هغه د انسانانو تقلید ، تقنین او
تصویب دی ، ناڅاپه یو انسان وایې داشي نه دی . یا وایي

داشی بدی اونور په پټو سترګو د هغو خبره منی . یاامرکوی او یو قانون جوړ وی . یا یوه ډله یا یوه خبره تصویب کړی او نور انسانان دویری یا عادت له رویه وربانندی مجبور کیږی . نو د غلطه ډیرکرته انسان د فطرت له تقاضا څخه اوړی .

دنیا ډیره موده د ښځو په حقوقو پښی ایښی وی او ښځی لکه دغلام او مریی په صورت ژوند کاوه . چه څو دغلامی ړ رسم له دنیا نابود شو ، ور سره د ښځو د حق خبره دانسانانو دمحافلو منځ ته راغله . په دې باندې ډیر بحثونه او د لائل ردو بدل شوه . عقلائو مفکرینو او مصلحینو په دی موضوع کښی ډیر څه ولیکل او ډیر څه یی وویل چه څو انسان په دې قائل شی چه ښځه هم د آدم(ع) او حوا اولاد دی او د یو انسان په شان د حیات حق لری: تعلیم ، تحصیل ، کار ، فن ، تملك د خپل ځان د حق اختیار ، دکار او شغل انتخاب چه څنګه د نر حقوق دی هغسی ښځه هم حق لری . یعنی ښځه د نارینه په لاس یو غلام او بندی نه دی . څه رنګه چه «آدمیت احترام آدمی است» ښځه به د نر حقوق پیژنی او نر به د ښځی په جائزو حقوقو سترګی نه پټوی ، د آزادی معنی بد اخلاقی نه ده . د آزادی معنی داده چه یی انسان د ې د غلام ، بندی او محبوس په صورت نه ساتل کیږی . څنګه چه خدای پاك ټول ژنده سر او انسانان آزاد حر او اصیل پیدا کړی دی ، هیڅوك دې د قوت زور او رسوخ له امله د چا جائزه آزادی نه سلبوی . هو ، دګناه او جرم په وخت کښی ښځه او نر باید یورنګك

مجازات کړی شي . نن ورځ دد نیا زیـات ملل او اقوام په دغه خبره پوه شوی دی او ښځه پکښې دیـو انسان او آدم (ع) او حوا د اولاد په حیث دخپل حق سره موافق ژوند کوی . اروپا، امریکا، روسیه، چین، هنـدوستان ټولو کښې دښځو حق منل شوی دی او س نو ممکـنه ده چه زمونږ ځینې خلك ووایی داخلك خو ټول کافر دی او مونږ مسلمانان یو . نو زه ویلی شم چه عرب ، تـرك ایران پاکستان خوهم مسلمانان دی . و به ګورچه دهغه ځای دښځې او دځینې پسمانده ممالـکو دښځوپه حقوقو کښې فرق شته او که نه؟ په دی وخت کښې زمونږ ځینې خلك داویلی شي چه مونږ دنورو خلکو په تـقلیـد او پیروی څه مجبور یو . زمونږ دین اومذهب چه څه وایی په هغې مکلف یو ، دلته خبره حقیقت ته نزدی کیږی . که دا خلك مونږ سره په قرآن او شریعت فیصلـه کوی مونږ خوشحاله یو . اسلام ښځې ته دتعلیم، تملك، کـار کسب، میراث، نکاح ، تجارت ، حج ، غزا محـکمې تـه حاضریدو، دعوی، شهادت، جمعې ته حاضریدو، خطـبه اوریدو حقوق ورکړی دی . او مونـږهم د دپـنه زیات څه نه وایو . اونه نوره دنیا دد پـنه زیـات څـه حقوق ښځې ته ورکولی شي . دستر په باب لمانځه کښې لاهم مخ ، قدمونه لاسونه ښکاره کیدل ممنـوع نـدی . اونور ځایونه لوڅول بیناکی ده . ګـمان نـه کوم چـه زمونږ په جامعه کښې به کوم معقول څوك د بیپـاکـی طرفداروی .

(۵) ښځه او پښتانه :- قومي عادات او رسوم او اجتماعي دود او دستور باندې هغه وخت استنا د کېدی شي چه کوم داسې ځای او محیط په نظر کښې ونیول شي چه هلته قوم په خپل سذاجت او خپلو اخلاقو پاته وي .
هغه محالات او احاطې چه هلته قوم د بل چاسره په تماس کښې وي او یا نورځه تاثیرات راغلي وي چه په قوم یې اغیزه کړې وي، هغه امثله دقوم کلچر او خوی نبودلو دپاره دلیل نه شي کیدای . مطلب دادی چه پښتانه دهرځه ځای اهلو له کبله چه دی ځی له ښارونو لیری په غرونو کښې میشت شوی او پراته دی ښار و نـه اکثره نورو قومونو اشغال کړی دی او که پښتانه په ښارونو کښې پاته هم وی، نو هغوی په خپل سذاجت نه دی پاته نودادی چه دپښتنو لی ددوددستور ځیړلو او معلومولو دپاره باید دپښتنو دهغه مختلفو اقوامو او قائلو ګذران اوژوندته چه اکثره په غرونو کښې پراته دی مراجعه وکړی شي . او له هغو ځخه نتیجه واخستلی شي . نو دغه سبب دی چه دښارونو داوسیدونکو رواج په نظر کښې نه نیسم او خاص دپښتنو ملی او والسی حیات ته رجوع کوم نو په دی وخت کښې چه خاص دپښتنو جامعه او په هغې کښې دښځې حیات له دقت لاندې ونیولی شي نو د انتیجه لاس ته راځي .
(۱) پښتنې ښځې بوقره نه کـار وی . بلـکـه اکـثره پښتانه چادری او بوقره عیب ګڼي . وا یې دا دپښتـنو رواج نه دی . پښتنې ښځې که پیغلې او نـا وی وی نو دنا شنا سه نامحرم ځخه ستر کوی . مګر داستر داسې نـه

دی چه ځان په کښېږه کښی آچوی. یا به ځان په کلا کښی بندی کوی. بلکه ددی ستر معنی داده چه پلو به نیسی اوخپل زیور، ګانړه اومخ به نه ښکاره کوی، دضرورت په وخت کښی به خبری کوی مګر په پټ مخ د دو لس کالو نه ښکته اوډخلو یښت کالو نه پورته جنکی ښځی ستر نه کړی. ځنګه، پړده، حیاکول دهری پښتنی ښځی عادت دی. ددی اصولو مراعات هم پخپل فامیل کښی اوهم دپردوخلکو په مقابل کښی په ښه شان کوی.

(۳) په پښتنو کښی دښځی دپاره کار کول عیب نه دی. پخلی، کالی مینځل اوګنډل دمال ټول پرانستل، لو شل شاربل، داولاد پالنه، په پټی اوکروندو کښی کار کول په کاروان کښی باروتو ښکته پورته کول، میچن یاژرندو کول، اوبه راوړل اوداسی نور، اکثره ښځی کوی. مدعا داده چه ښځه په فامیل کښی پوره برخه اخلی اوعمده وظیفه اجرا کوی. فقط دومره ده چه سړی د کالو ګنډل وینځل اوپخلی نه کوی، اوښځه قلبی اوجنګک بی له مجبوریته نه ځی اوحجره نه چلوی. نور ټول کارونه دښځی او نرپه مینځ کښی شریك دی اویود بل په همکاری یی اجرا کوی.

(۴) پیغله دخښتن په انتخاب کښی رایه نه څرګندوی مګر مورو پلار یه ممکنه ذرایعو دهغی میلان معلوموی او تر ډېره حده ئی مراعات کیږی. که ښځه کونډه وه نوصراحتاً یی رایه اخستلی کیږی. که پښتنی ښځی دچا سره وعده وکړه نو بیا ورته ګرځی هم نه! ښځی اکثره دخپلو خپلوانو په ذریعه ورکولی کیږی ځکه نو ډېر کرته وربا ندی ظلم هم کیږی.

(۴) دولور رواج :- په کندهار او پکتیا کښې ډېر دروند او کمر شکن دی. په لغمان،خوګیاڼیو، مهمند و او اپریدیو کښې هم چندان آسانه نه دی. دصافو، شینو ارو یوسف زیوررواج معتدل. اودبا جوړ بیخی آ سا ن او په سمی لاره برابر دی.

دباجوړ په رواج دښځې دسرروپې ددری زروافغانیو څخه په هیڅ صورت زیاتی نه دی. او په دی کښې آختر، برات، نقد جنس هرڅه چه ورکولی کیږی مجرا یی خوری، ګاڼه، کالی او خوړه تقریباً دځوم په خوښه وی.

(٥) دښځو دپاره دلیك لوست کم دی.

(٦) دښځو اونرو میلی او ټو لنی بیلی بیلی دی.

(٧) اکثراً ښځه په تور سره وژلی کیږی. او خو ن یی هدر دی.

(٨) په شینوارو کښې دښځې پریښودنه بالکل آسانه کاردی. هریو سړی دڅه مقدار روپو په مقابل کښې چه راضی شی خپله ښځه پر یږدی. مګر دښځې دپر یښو دلو دپاره څه داسی وجوهات پکاردی چه مو جب دمړګ نه وی اودښځې دسپکوالی سبب وی، دوی پری پوهیږی او که نه. مګر داهماغه خلع ده چه شریعت جا ئزه کړیده.

یوه ورځ په لویه ډله کښې دپښتنو په دغه عا دت بحث کیدو په دی ډله کښې دشینوارو یو ملك هم نا ست ؤ. حاضر ینو دشینواروعهدو پیمان، میلمه پالنه، توره او ډیرخصایل وستایل. په آخره کښې یی دښځو دپریښو دلو مسئله تر تنقید لاندی ونیوله. ملك ته دټو لو مخ وروا ړ او ؤ چه داکارخو دپښتنو سره مناسب نه دی. ملك وویل: تاسو

زمایوه‌خبره واوریږ، «مونږه ښځی نه پریږدو، کوم وخت
چه دکورګذران خراب شی. یا په ښځه کوم تور ثابت
شی نو په دی وخت کښی ر ږ په رږه مونږ دغسی ښځه نشو
ساتلی. نو که ګناه غټه او خرګنده وی خو وژنو ئی.
او که تر دی کمه وی نو پریږدو یی.

(۹) ټول پښتانه د«طلاق» نقط بد ګڼی. دطلاقی لفظ
د(دوس) دلفظ سره دد وی په نز د برابر دی. ځینی هغه
کسان چه په ښځی کښی بدګذرانی او بداخلاقی ګوری
نو که ستر ګی ور باندی پټوی، نو دابه کار نه دی. شرم او
پغور دی او چه ښځه اصلاح کولی نشی او ټول عمر جنګک و شور
کوی نو طلاق او پریښودنه یی بهتره ده. راغلو دښځو قتل
اووژلو ته. په محض اتهام او اشتباه دښځی وژل لو یه
ګناه ده. البته په دغه وخت کښی چه خپله ښځه د نامحرم
سره په یقینی صورت و نیولی شی، هلته خاو نـد
کولی شی چه چاره ئی وکړی.

(۱۰) په پښتنو کښی ښځه احترام هم لری. دښځو پلو
محترم دی. دقتل، ناموس، او نوری سختی فقری چه په
هیڅصورت نه فیصله کیږی چه ښځه پکښی واسطه شی،
اود چا مخی ته خپل پلو یوسی، نو غیور او ننګیا لـی
پښتانه دښځی پلوتش نه پریږدی. نو دهری مدعا د پاره
چه ښځه ننواتی راغلی وی. اکثراً منلی کیږی. او پښتون
سړی چه «هو» ووائی بیا «نه» نه‌وائی.

(۱۱) کونډه بل چاته نه پریږدی. داهم په پښتنو کښی یو
عادت دی، چه په‌هره کورنی او قبیله کښی ښځه کونډه شوه
دمړی اقرباء لکه‌ورور، دتره‌زوی او ئم‌فشم دغسی خلك به

یی په نکاح اخلی . اجنبی خلك به یی نشی کولی . په دغسی خبرو همیشه جګړی او جنګو نه پیښیږ ل . خواوس کم شوی دی .

(۱۲) د پیغلی دولور او د کونډی په باب اکثره داسی هم کیږی چه ښځی په ډیر غیر مناسب ځای کښیږور کول کیږی .

(۱۳) ښځی اکثره د میراث مطالبه نه کوی .

(۱۴) د ښځی حضور محکمی او عدالت ته عیب ګڼل کیږی . ښځو ته دا ختیار او حق نه قا یلید لو بیخ اوریشه

دهـند چین ، اوعر بو دقبل الاسلام او مخکښی روایاتو او فولکلور پوری رسیږی ، په دغه روا یا تو کښی ښځه د شرارت اوفساد ماده ګڼلی شوی ده له دغو قمدیمو روایاتو اوقصو

څخه چه د جاهلیت له عصره پاته دی « بهار دانش » اوطوطی نامه » هـم دی .

بهار دانش یو فارسی شاهکار دی چـه د مـغو لو پـه عصر کښی له هندی څخه په خورا ښېنګه او ادبی فارسی نثر نقل شوی او لیکلی شوی دی .

طوطی نامه دخجستی په نامه همشهرت لری د پښتو په مثنوی نظم سره یو قصصی کتاب دی چه ددی ماخذ هم هندی روا یات حـا بیږی .

دی دوا ړو کتا بو نو ښځه یو منحط ، مـکار ، فـاسد او شیطانی مظهر ښودلی دی .

داسی کتا بو نه نورهم ډیر دی . دغو قصواو روایاتو په مونږ کښی هم تا ثـیر کړی دی .

خلاصه : د پښتنو په جامعه کښې د ښځو په باب ډیر ښه
روا جونه هم شته او بد هم موجود دی . په پښتنو کښې
د ښځې د مسئلې د بد اړخ اصلاح په دې اړه نړی چه په
پښتنو کښې تعلیم عمومیت پیدا کی . او چه تعلیم عام شی
نو دولور رسوم به خفیف او آسانه شی . او چه په ښځو
پیسې نه اخستلې کېږی او نه ورکولې کېږی نو هغه وخت
به د دې ښځو ته د حساب او حق او د یو انسان په
ستر گه و کتلې شی . او د یو انسان و صلت او محبت د هغه
د رضامندی پوری اړه لری نو هغه وخت به ښځه د حق ، رایی
او اختیار میسره من وی . او چه ښځه انسانه حساب شوه نو بیا به
زموږ اولادونه هم لا ښه شی . نو هغه وخت به دنیا هم زموږ
په حقوقو قایله شی . دا اوس زمونږ خپله خو ښه
ده چه په دی خبرو زر ځان او قام پوه و او که پس ته

✿✿✿✿✿

# دشیطان نذر

وایی چه یوسړی دکوم شیطانی کار کید و دپاره شل روپۍ دشیطان پهار وا نذر کښېښود.

چهدا کار وشو. سړی لهکوره راووت، یولاروییی مخې ته راغی روپۍ یی ورته راو ایستې چه واخله کاکا داشل روپۍ دشیطان پهار وا نذر!

هغه ویل: ولې زهدرته کافر ښکاره شوم چهد شیطان نذر ماته راکوې، او روپۍ یې هیسته وغورزو لې!

دغسې یې بل ته وویل هغههم همدغسې جواب ورکړ!

دریم اوځلورم هم په همدغه شان وتراته. چه خو په پای کښې دیوهښیار سړی سره مخامخ شو. دې هوښیار سړی ورته وو یل چه دا روپۍ په دې درې کسانو کښې یوه ته و رکړه: اول هغه ښځه چه سر خې سفید ه کړې لوخ سر بازارته و و زی. دریم هغه سړیچه دجمعې د نمانځه په وخت کښې په بازار کښې سودا کو ی. در یم ملك او قریه دار!

سړی را روان شویدی په خوارۍ یې چېر ته دغسې یوه ښځه پیدا کړیده ویل یې واخله خورکۍ دا دشیطان پهار وا نذر دی ماته چا ویلیوو چه کهدغسې یو ه ښځه دې پیدا کړه هغې ته یې ورکړه. ښځې ویل: اخ وروره کهګناهګاره یم کا فره خو نه یم. ولې به یې اخلم. زما دې توبه وی! بیا به په فیشن اولوخ سر نه راوزم.

سړی لاړ او ګرځېدو چه خوی یـې د جمعې په ورځ داسې
سړی ولید چه د نمانځه په وخت کښې سودا کوی . ده زر
ور ته روپۍ نیولې دی، ویل یـې وا خله کاکا دا د شیطان
په ار وا نذر دی ؛ او قصه یـې ور ته تېره کړه . سړی
دواړه غوږونه ونیول ویل یـې زما دې توبه وی بیا به داسې
کار نه کوم . زه خو نه پوهېدم چه دا دومره لویه ګناه ده !
په آخره کښې سړی راغی ملک ته . ویل یـې وا خله
ملکه ! دا شل روپۍ دی . ملک ویل : د څه بابته ـ ده
ویل د شیطان په ار وا مې منلې وې، خو اوس یـې څوک
اخلی نه ! او په ګرځېدو مړ شوم . ملک ویل : واه ،
همدادی که نورې هم شته . سړی ویل : دستی خو همدادی .
ملک ویل : کور دې ودان، هر وخت چه دې دا نذر
منلو ، ما ته یـې راوړه !- لاس یـې کړو ، او روپۍ یې
جیب ته واچولې .

«خادم»  اتحاد مشرقی ۳۹ کال ۴۵ ګڼه

✡✡✡✡✡

# متعدی ګناه

زمونږ په یوه قریه کښې یوه زلمی یوه پیغله وغوښته اوپس له خبرو اترو پیغله دزلمی په نکاح کښې راغله، اودکوژدې شرائط په ځای شوه . اوس پاته شو واده . دواده دپاره د سړی وسه نه وه . ځکه چه د نجلۍ تبر دهلك نه ډېرې روپۍ اورواج و دستور غوښت؛ اوهغه دده دلاسه نه وو پوره . هلك ځوزله مړ کې جرګې وکړې خودده دشړی سره چا پښې و نه ځخولې : اوترې غوښته یې هغه څه چه دده له لاسه نه کېدل .

په دې دې کښې میاشتې او کلونه تېر شول . مګر نه تقدیر هغو مره دارائی چه دده واده پرې شوی وای ، ده ته ور کړه . او نه دنجلۍ دمورو پلار په دې ځوان او پیغله زړه وسو . میاشتې او کلونه تېر یدل . ځوان په مسافرۍ اوپیغله په په کاله کښې دځوانۍ دارماندونو په تاو کښې وریتېدل .

په آخره کښې یوه شپه نجلۍ وره که شوه . صبا ئی چه خلکو لټو ن وکړ ، دکور نه لرې وړا ندې ، په یوه بیدیا کښې ، نجلۍ په وینو ککړ پکړه و میندل شوه . چه وکتل شوه په کیتار یو سوری او غلبېل غلبېل وه .

حاکم راغی . تحقیقات شروع شول . د ملکا نو او خانا نوخبتې مړې شوې . خلك ور بړول شول . مګر جانی میندہ نشو . ځکه چه دې مظلومی غږ نشو کولی . او بل چا حق نه وایه . څوپه پای کښې د نجلۍ چنغول چه په دې

ور ځو کښې چېر ته نـزدې راغلی ؤ حکو مت جلب کړ او داستنطاق لاندی یی ونیو . سړی چور منـکر شو چه زه خبر نه یم .
پس له څو مودې بنده اووهلو ټـکولو ، قا ئل شو . ویل یـی هو ، زما ښځه وه اوما وژلې ده .ــ آخر ولې ، په څه دې ووژله ؟ ــ «بد چلنه وه» ده په جو اب کښې وویل .
پېغله په داسې بدصورت په قتل ور سپد ه او ځوان بندی شو . داخله ؟ دا ، ددې دپاره چه واده سخت ؤ . او خسر ګـنې ؛ ناجائزه ناروا پیسې اودسورغو ښې؛ غوښـتې!
د نجلی ؛ په بدچلنې ؛ به خدا ی خبر وی . مګر داخبره یقینی ده چه پښتانه بد بختان په تش طعن او پیغورد ښځو دقتل مر تـکب کېـږی .
وروسته معلومات وایـی چه سړی ما ښام په تیار ه کښې تللی ؤ او په هره ذریعه چه وه ، چنغلی ته ؛ یـی داخبره رسولی وه چه زما اوستا واده خو هسی هم نه کېږ ی ، بیګا ته به دواړه وزو ، او ځو به .
ساده نجلی ؛ دشپـې راوتلې ده . او ظالم مېـړه په ظلم سره په کـټار یو قطری کړ ه .
دخدای لعنت شه د پیسو په اخستو نـکو !
« داده متعدی ګـناه ! »
«خادم» اتحادمشرقی

✿✿✿✿✿

# د قبايلو زلمي

په يبلو پښو او انځرو و پښتو په سکرو ټيزو ستر ګو او
نمرو هلي مخ ، پر ترو غرو نو ځيز ی ، نه ديځني ځ پروا
لري ، او نه د ګر مي ځ !
خړ کالي او ګر د جن تور و يښته يې په خاورو سپيره
دي !

غاړه کي ځ په غاړه او توپك يې په اوږه دي !
ستر ګي يې ليري او نژدی په تيز او ځير و نکي نظر وينی !
سور بخنی غو نډی ځ او سر مئي غرونه يې هری خوا ته
غځيدلي دي چه ځيني ځايو نه يې لوخ او ځيني يې په ځنګل
پټ دي !

سيلابي او به دهمده غو ندي په غرهار او تيزی ځ او په
شو رو او پيچو تاب دغرو نو له خوکو ځخه شنو درو ته
لاندی را لويږی .

دا يې وطن دی ، او هغه هم دی خپله !
ځوان دی ځکه چه خپل زور ئې دغرو نو په ختلو او
ښکاره کولو ازميلي دی !
زړور دی ، ځکه د تر برو نو او سيا لا نو په مخکښي يې
ماتي نده کړی !
ازادی ځ ځکه ترننه يې دچا فرمان ندی وړی !
د زمری په ځير وږی دی ځکه چه لاس يې په توپك
بند دی ! او بل کار تری نه کيږی !

متعرض نه پریږدی چه په وطن کښې یې شپه تیره کړی ؛
هو، هر څه چه لری میلمه ته یې په مخکښې ږدی! .

دنجونو غټې او توری سترګې ئې خوښې دی، تیار
دی چه خپل سر ددوی په یوه خندا وښندی او خپله هستی
دلیلا په اوربل قربان کړی .

کور ئې په داسې غره بانـدی دی چه لوړ دی او غاړه
یې جګه نیولی ده .

دایو داسې کورګی دی چه کله کله ورنه شین لوګی
پورته کیږی او په لاجوردی آسمان کښې ورك کیږی .

دی آرام دی، مګر راحت یې نه دی لیدلی، دی مغرور
دی ځکه نه پوهیږی چه ترده بلاضعیف هم څوك وی!
افسوس په هغه قوت چه ثمر نه لری!
افسوس په هغه مټ چه په ماتولو لګیا دی!

افسوس په هغه زړه چه د کینې د اوردو هیڅ شی، او
کینه یې هم هغه چاته وی چه ورته نزدی پروت دی او له
ټبره ئـې دی!

کله دا زړه د هغه سړی په ټټر کښې وای چه فکر یې
کولای او دامټ د هغه سړی وای چه کله ئې سنجش
کولای، نو ګوندی داسې ماته یې جګه کړی وای چه د جهان
د ضرر لاس نه وای ور رسیدلای!

کور ئې وران او پټی ئې خرابه پروت دی؟ قلبې تر
اوسه په دغه بکره خاوره خط ندی را ښکلی:

کوچنی ئې خپله وړو کولینه د مور په اراده غیږ کښې
دوړی په ټوکړه نده تیره کړی! هو، دی مغروردی:
په ځان فخر کوی او جهان خپل محکوم ګڼی ګمان کوی چه

جهان دغه وحشي دره! ده جهان هغه غرنۍ علاقه ده چه نه كور
لري او نه ليا ره !

جهان هغه ځای دی چه دی او باز پری حكمراني كوی
دومره پهخپل ځان او خپلو خولو كښې ډوب دی چه فكر
ئی دخپل نظر دافق نه ورهاندی نه الوزی او پرته له هغه
چه ګمان كوی نور څه نه غواړی چه وائی خلې .

ژوند څه شی دی ؟ ژوند دده دپاره ځپېږ يدل او فخر
كول دی چه دی وسله وا خـلی اود خـپلوانو كسات له
نز ديـكانو وكا ږی !

و تپيږی ، و ځغلې او مرګك هم وكړی ، تر څو چه دكومي
تړی لاندی ياشر شری پهخوا كښې پهګولی ولګی او له
جـهـا نـه ولاړ شـی .

بی له خپلو بل دښمن نه پيژنی چه وطن ته ئه راشی هغه
وخت هر څه قربانوی او ځا ن فدا كوی .

بايد دده ددرواوغرو باسكوت برهم نه كاندی ، كه نه
نودی اوسيالان بهئی داسكوت دژو نداانه په بهاء بيرته
تامـين كا نـدی !

ښهر څه شی دی ؟ په نظر كښې ئی هغه زندان چه پههغه
كښې لاس و پښې تړلی خلك او سيږی !

دهقان څوك دی ؟ هغه سړی چه نور څه نه مومی او
كروندی ته يی ملا تړلی وی !

كتاب څه شی دی ؟ د سوالګر ملا بازيچه ! قلم څه شی
دی؟ دحيله ګر ميرزا حر به ! دی دوسلی سړی دی ، دتوری
په برښنا اود ټوپك په دود عاشق !

دی خپله ډوډۍ پهزور اوغلبهحاصلوی او کهورئی نکړی نواخلی ئـی !

دکروکیلی حوصله نهلری. ترڅو به ګوری چه پسرلی بهشی اوورېځ بهوژاړی ، ترڅو به ناستوی ، چه دانه به ورې نیسی! دی نهغواړی چه په دکان کښی کښینی ، او مال، لیاروی تهعرضه کاندی ، او دیو بلکلاس ته کښینی!

ددهخوښه ندهچهپه ځنګ اوسندان وسپنه موم کاندی اود طبیعت په خشونت فایق شی ، اویا پهځښتو اوځتو بنا جوړه کی . او پهسیوری کښی ئی ژو ندون وکړی !

ځکهله هغه وسپنی نور کار اخلی ، او په هغه بنا کښی نور کښېنی !

دید نورو دخدمت دپاره ندی پیدا شوی، دی باید پهزور خپله ګولهتر ستونی کړی ، دچامطیع دې نهوی او په یوځای دې میشت نهوی !

دیدهغه باز سرهفرق نلری چه پهلویه تیږه ناستوی اود غرو په هوا کښی بې له مقصد اوهدفهالوتنه کوی !

افسوس پههغه قوت چه ثمر نهلری .

افسوس پههغه قوی زړه چهدزر ګونو غشو نخښه ده ولی دهیڅ شی سپر ندی شوی !

افسوس پههغه قوی مټ چه په جهان کښی تهداب نړدی.دی دباز سره فرق نلری ! ولی ډېر افسوس چه ددغه غرنۍ سلسلی باز دنورو بازونو پهشان دی، مګردی بنیادم دی !

دخدای خلیفه پهځمکه !

دلویو ښهرونو آبادوونکی !

دویالو ایستونکی اودونوکرونکی !

دناجوړو تیمار دار ، د کوچنیانو ښوونکی او

دازاد ګانو دازادۍ مدافع ! مرد هغه دی چه د ځان نه وی دخپل ټبر وی ؛ د دې هم نه وی د خپل وطن او وروسته د جهان !

ای ښې یېلې وزیه ، اوای غړنده معذبه ! سعادت ستا په مخکښې دی وګوره !

له مخه ئې پرده پورته کړه ، دجهان خدای تا ته نیکبختی درکړی ده او د هغې د خزانې کیلی یې ستا په لاس کښې ایښې !

په کار لاس پوری کړه ، روانی اوبه په تورو خاورو جاری کړه ، غنې او وسپنه دځمکې په زړه کښې ورننباسه دغنمو دانې و شینده ، و بزې واخله چه ستا د زحمت محصول وی ! -

ځه : اوهغه ړوړېږ دی دښځې او کوچنیانو سره وو ښه اودشپې دړیوی په رڼا کښې دې دکوچنیانو مخ ته خانده ، زړو ته سلام کوه ، دعاجزانو لاس نیسه اودنورو سره یوځای شه او ښارونه ودان کړه !

ای سرګردانه دشپې ګرځېدو نکیه ! کوچنیان دې مکتب ته ولیږه چه علم زده کړی ، د راحت و سائل تا او نورو ته ونښئ .

هیڅکله مه ویرېږه ، هغه ورځ هم مه ویرېږه ، ځکه ته هماغه یې چه سینه دې سپر کوله . مګر افسوس په هغه سینه چه دوررور دګولۍ سپر شی !

افسوس په هغه روح چه دقبیلې دانزوا په لیاره کښې قربان شی . کوم وخت چه متعرض ستا په وطن ستا په کروندې اوستا په هموطنانو رامنځه کړې ورسره خپرې لګوه ،

هغه خاوره چه په او بودې خړو به اوپه‌دانو دی زمردینه کړیده دده په وینو یی ککړه کړه !

اندیښنه مه کوه په‌هغه زړه کښی چه دنورو مینه ځای ونیسی دکینی غشی پکښی نه‌ځی او په‌هغه‌وطن‌چه‌ځامن‌یی یو تن‌وی متعرض نه کامیا بیږی ، زړه ورهغه سړی‌دی‌چه ارامی تامین کاندی . دخپل وطن ثروت زیات کړی او دخپلو همنوعانو بدبختی کمه کړی ، اوپه‌خپله اندازه زیار وکاږی ، چه‌ټولنه یی دنیکیۍ ، جمال او اتفاق خواته ولاړه شی !

اصلاح ۱۳۲۵

✡✡✡✡

# ملت او حکومت

حکومت هغه منظم صاحب اقتدار جماعت ته وایـی چه دیووطن دادارې واکې دهغه په لاس کښې وی ! او ملت هغه مجموعه افـراد دی چه د د غـې یو ټو لـګی تر اداري لاندې په یووطن کښې ژوند کوی !

که دحکومت افراد د خپله ملت څخه منتخب شوی ، او دحکومت ډله یـې تشکیل کړی وی ، نو په دې صورت کښې حکومت او ملت بـې له یو اعتباری فرق څخه کوم حقیقی فرق نه لری !

بلـکه په دی صورت کښې چه دقوم اداره د اجنبـی افرادو په لاس کښې نه وی اودقوم دخپلو اجزاؤ په لاس کښې دی حکومت دملت تنظیمیه قوه بللی کیـږی :

په دی صورت کښې چه دحکومت او ملت په منځکښې کوم فرق دی صرف اعتباری دی . مثلا هماغه یوه او نه ده لاندی حصی ته ئی بیـخ وائی او پاس ته ئی ډډ یا ښاخونه یا مثلا هماغه یو دریاب دی هغه حصی ته ئی چه د نور دریاب څخه پورته او په حرکت کښې شی موج یا چپه وائی!

یا ـ مثلا یو فرد را واخله چه د مختلفو اندامو څخه جوړ شوی دی هر اندام ئی بیله بیله وظیفه اجرا کوی دماغ ، زړه ، سږی ، معده ، پښتورګی ، ټول بیله بیله وظیفه لری او په عین زمان کښې دهمدغه فرد دحیات او په همدغه وخت کښې دځان دپاره خدمت کوی .

نو وګورئ ونه او بیـخ ، دریاب او چپه ، شخص او اعضا ئی کوم بیل شخیت لری ؟ نه ـ نه ئی لری : بلـکه کوم فرق چه لری فقط دکل او جزء فرق دی او دا معلومه ده

چه جزء بې کله او کل بې جزه مستقل وجود او حیات نشی لرلی .

دغه رنګه حکومت هم چه دخپله ملت څخه وی دملت څخه حسابیږی .همدغه افراد دی چه لږ شانی برجسته‌ګی په کښې پیدا شی او دملت اداره په لاس کښې و اخلی نوحکومت شی . حکو مت دملت اداره او تنظیم کو ی او داعتلا خواته ئی سوق کوی !

په عین همدغه حال کښې چه حکو مت د ملت خدمت کوی او دملت ژوندګی ساتی دځان دپاره هم همدغه کار کوی . ځکه چه دحکومت اوملت ژوندګی ځانته متمایزوجود نه لری . چه ملت نه‌وی حکومت به هم نه‌وی اوچه‌حکومت یعنی تنظیم نه وی ؛ ممکنه‌ده چه ملت هم‌ملت پاتی نشی .

مدعا داده چه زمونږ په ژوند کښې حکو مت او ملت کومه متمایزه معنی نه لری . زمونږ حکومت دخپل‌ملت دافرادو له خوا دی او په داسی حکو مت کښې ملت او حکومت په اصل کښې یوشی وی .

هو ؛ یو بل ډول حکومت هم شته چه هغه دادی چه دیوقوم اداره دبل یو اجنبی په لاس کښې وی دلته نو دحاکم اومحکوم ملت او حکو مت په مینځ کښې ډیر لوی فرق وی :

په دی صورت کښې حکومت قهار اوملت مقهورګڼل کیږی اوحکومت دملت دفائدی په غم کښې نه‌وی بلکه په دی فکر کښې وی چه څنګه به د دی لا س لاندی خلکو څخه‌ګټه وکړی‌ګویا حاکم انسان‌وی او‌محکوم حیوان تیښته دې وی خدا ی ته و ی خدای‌ته مه‌ئی وینی دغسی ساعت ! ❊ ❊ ❊

# د اجتماع جراثیم

څه رنګه چه د طب د نوو تحقیقاتو څخه ثابته شو یده اکثره بدني مهلك امراض له جراثیمو څخه پیدا کیږي ؛ دا رنګه د اجتماع د پخوانو تدقیقاتو څخه دارا پاته ده چه انساني اجتماع هم مهلك امراض لري . او دا مهلك امراض هم د یو نوع مخصوصو جراثیمو په واسطه پیدا کیږي او نشر یږي . دو مره قدري خبره ده چه د بدني امراضو جراثیم بی له ذره بینه څخه نه لیدل کیږي . مګر د اجتماع جراثیم غټ غټ د هرچا په مخکښی ګرځي او هر څوك یي وینی او ګوري ئې . د بدني امراضو د جراثیمو څخه ځان ساتل په اوږ کوښښ سره هر څوك کو لـ شی ؛ لیکن د اجتماع د جراثیمو په غیږ کښې هر څوك ، پخپله ځان غورځوي . او نه پوهیږي چه د او ضعیت دوی ، او د دوی ټولو هم صنفانو ته مهلك اثر لري !

نو د ا د جمعیت جراثیم څه شی دی ؛ دا بلې خواه دی . چه د مهلکو جراثیمو غوندې د اجتماع حیاتی منابع مسموم کوی او فنا ته یې سوق کوی . د دی خبري دلیل دا دی چه په هر ملك کښی چه بلې خواره پیدا شی د هغوی په واسطه حق او باطل ؛ رښتیا او دروغ سره ګډوډ شی . بیا نو ، نه په حق او رښتیاو خپله ثمره مرتبیږي او نه په باطل او

دروغو باندی خوك ترقل کیږی . بلکه تله داهم وشی
چه حق اوربنتیا ویونکی د باطل او دروغ پالو نکو له
خواداسی غوبل شی لکه بوس دخرو دپښو لاندی . په دغه
شان سره بهری خواره په هر اجتماعی مقصد کښی خپلو
شخصیاتو ته دخل ورکوی ؛ او له دغی پلوه څخه دظلم په
ترویج کښی کومك او کومنښ کوی .

اودا څو صحیح حدیث دی ؛ «الملك يبقى مع الكفر و
لا يبقى مع الظلم .»

نو په آخره کښی دیوی اجتماع دیوال له بیخه را ولږی
اویو ملت تباه شی .

✡✡✡✡

# وطن مور

وطن عبارت دی د هغه ځمکې او خاورې څخه چه سړی پکښې پیدا شوی او لوی شوی وی ، وطن هغه خاوره ده چه د هغې نه سړی خوراکې او څښاکې وې . او په هغې کښې یې لوبې کړی وی ، او د هغې په هوا کښې یې تنفس کړی وی ، او پکښې اوسېدلی وی !

وطن ته ولې مور وایی : ځکه چه هر شخص ته تر هر څه ګران خپل حیات دی . په جسمی حیات کښې د هر سړی حیات د مور د غېږې مرهون دی . د مور شفقت او مهربانی ، د مور زیار او زحمت ، د مور قربانی او فداکاری بیمثله دی . که مور نه وی بیشکه چه اولاد به هم نه وی . د غه رنګه وطن هم دی !

دلته دومره قدرې خبره په زړه کښې تېرېږی چه لکه څنګه چه د اولاد وجود د مور د حیات مرهون دی ، دا رنګه د پلار د حیات هم دی . نو وطن ولې مور ته منسوب وی او پلار ته نه ! خبره داده چه په څېړنه ، تربیت ، پالنه او حتی اصل پیدائش کښې مور د پلار نه ډېر زیات اهمیت لري . ځکه بې پلاره اولاد پیدا شویدی او بې موره نه ! لکه حضرت عیسی علیه السلام .

وطن هم مور ده بلکه د مور نه زیات ! راځی اصل افرینش او زندګۍ ته : ژبنتښه او ډېر عمده نعمت چه خدای انسان ته ور کړی دی ، هغه د حیات او د ژوند نعمت

دی . علم ، دانش احساس، خوښول ، خښل ، کتل او ربدل
بخښه، اولاد ، دوستان عزیزان ، اقرباء او نور نور پس له
ژوندون احساس کېدلی شي .

ژوند او ژوندکی لکه بی ډلاره چه ممکنه ده ، بی مورو
پلاره هم ممکنه د ه . لکه بابا علیه السلام چه بی مو رو
پلاره پیدا شویدی . لیکن بی دما دروطن دوجود نه انسانی
حیات هیڅ ندی متصور ! بابا آدم علیه السلام مورو پلار
نه لرل هغه راسآ دخاورو نه یعنی دمادر وطن دوجود نه
پیدا شوی او پاخیدلی دی . نو په دغه لحاظ دمادر و طن
حق او حیاتی اهمیت دمورو پلار دواړو نه زیات دی !

نو وطن ته ولی مادر وطن وایی ؟ مونږ مخکښې اشاره
وکړه چه په حسی حیات کښې ژوندکی دمور دغیږ ی او
حیات مرهونه ده اګرچه په اصل کښې وطن تر هرڅه زیات
اهمیت لری ، مګر انسانی داخبره داحساس نه لری شویده
نوځکه دوطن دمحبت او حقوقو دمینې اظهار د «مو ر »
په کلمه ادا کوی شي . په حسی حیا ت کښې د د ینه
شیرینه کلمه نشته . که نه ، نودوطن حقوق دمو ر نه ډیر
زیات دی .

حیات ، قدرت ، اقتدار ، عظمت ، شرافت ، قوم، اجتماع
مدنیت حکومت او نور هرڅه چه تاسو ته دحیات تزئینات
او ضروریات معلومیږی ددی ټولو منشأ او بیخ وطن دی !

یو وارداسی فرض کړه چه وطن نشته، بس ددی خبری معنی
داده چه ځمکه نشته او چه ځمکه نه وی انسان نشته . انسانی
حیات او ژوندکی نشته ، نباتات نشته ، حیوانات نشته

معادن نشته ، غرونه نشته ، او به او دریا بو نه چه د ځمکی پەسرجاری او متمرکز د هغه هم نشته !

قرآن کریم په مختصر مگر خورا بلیغ نظم کښی د ځمکی او وطن اهمیت بیان کړیدی ، وایی . منها خلقناکم وفیها نعیدکم ومنها نخرجکم تارة اخری .

یعنی د ځمکی نه می پیدا کړی یی . او همدی ته به مو ور گرځوو او د همدی ځمکی نه به مو دوهم وار (دقیامت په ورځ) پاځوو !

# د کامیابۍ لیار

اکثره اشخاص د بدو طالعو شخه شکایت کوی . اوخپله ناکامی فقط په هغو حواله کوی . دا کسان دا نه شی کولی چه دخپل ذکاوت ،عقل اوفکر شخه استفاده وکړی : یادا چه په خپلو بدو اخلاقو او بدو کر دار و بد گمانه اودعلاج ځنی یی مایوس وی . دا قسم اشخاص هم خپل معائب او نواقص هیڅکله نشی اصلاح کولی . بالعکس هغه کسان چه خپل مرضونه پیژنی اود هغو علاج لټوی اودرفع کولو کوښښ یی کوی ،ددغه قسم اشخاصو دپاره دا لاندی طرق او وسایل د کامیابی بهتر ینی چارى حسا بیږی !

ددغه نقائصو دعلاج لو مړی شرط دادی چه انسان خپل ټول عادات افعال اواقوال دژور تحلیل لاندی ونیسی . که چیری په خپل حیات کښی یی د ناکامی احساس کاوه . یاداچه ور معلومیده چه په ذهنی خمود اخته دی نو خپل نفس دی په غباوت سره نه متهم کوی . بلکه بایده دی چه دخپل نفس دضعف علل او عوامل ولټوی ترڅو چه دخپلو معائبو په پیژندگلوی موفق شی او بیادی په علاج شروع وکړی !

آیاخو مره تعلیم اوتهذیب لری؟ دالو مړی سوال دی چه په کامیابی کښی دخل لری باید دخپل ځان ځنی پوښتنه وشی ،چه څومره لغات یی یاد دی ، او څو مره لغات

مستعملولی شی . یوسړی ددی دپاره چه دخپلو افکارو
څخه عمیق تعبیر وکولی شی ، محتاج دی چــه لس زره
لغات یی یادوی او مستعملو ای ئې شی .

دهری ژبی لغات د۶۰۰۰ زرو کلمونه کم نه دی . هر کله
چه سړی په دی خبرو پوه شی ، کولی شی چه دخپل تهذیب
اوعلمیت اندازه وسنجوی . لغات دعقل د تعبیر د پاره
دآلاتو اوسامان غوندی دی . چه دهغو په واسطه انسان
کولی شی خپل لیاقت په ښه اندازه سره اظهار کاندی !
څو مره چه دعقل په لاس کښی دا اسباب ډېر او سی
هما غومره خپل احتیاج هم ښه رفع کولی شی !

ژور تعبیر

۞۞۞۞

ددی دپاره چه سړی دخپلو افــکارو څخه عمیق تعبیر
وکړی شی ډېر مواد ورته لازم دی . لــکه څر نــګه یوه
ښه پېغله چه دښه ښایست اوښه ښکاریدو دپاره ښو جامو او
اوګاڼو ته احتیاج لری ، دار نــګه فصاحت ، او دخبرو
کولو طرز او همدار نــګه دآواز رونق اوآهنګ دخبرو
دپاره دضروریاتو څخه شمیرل کیږی . دغه زیاتوالی
په دغه پورته مسائلو کښې اهمیت لری . اوخبرو ته دسحر
تاثیر ښښی . کلالت اونور نواقص له ژبی څخه لــرې
کوی . دتــکیه کلام استعمال په خبرو کښې لوی عیب دی .
په جګک آواز خبری کول اوخصوصا په هغه وخت کښی
چه خوك ورته غوږهم نه ږدی دمعائبو څخه حسا بیږ ی .
همدا رنــګه عیب دی چه سړی داسی په ورو خبر ی کو ی
چه خوك ئی نه اوری اوورته نه ملتفت کیږی . نو په دغه

لحاظ لازمه‌ده چه سړی خپل آواز اصلاح کړی ، ځکه
د آواز په‌واسطه سړی په اوریدونکو ډیر تاثیر اچولی
شی او ځان ته ئی راغب کولی شی . جګک آواز دغرور
او ټیټ دویری او ضعف علامه‌ده . غو ږو نـه او زړو نه
آهنګک دارو آوازو نو ته میلان کوی .

صحت : دموفقیت او دحیات دضرو ریاتو څخه د ی .
باید انسان خپل صحت ته‌ښه ملتفت او سی . نـا کـا ره
عملو نه د نظافت عدم مراعات ، دو رزش د اهمیت نه
بیخبری ، په‌خوراك ، خوب ، حرکت او څکو ن ، جماع
او نورو کارو کښې داعتدال اندازه نه‌ساتل ، په کار کښې
بی انتظامی او بی تربیتی ، افراط او تفریط ، اوهام او
ترددات داټول صحت تباه کوی . باید سړ ی د صحت په
باب ښه ملتفت اوسی . که څه مرض ورپیښ شی دستی دی
ی په‌ازاله کښې کو ښښ کو ی . او د صحت داصو لو
مراعات دی کوی . که صحت ښه نه‌وی ، بیانو انسان هیڅ
کار په اساسی ډول نشی کولی . ضعف او ناتوانی دټولو
ناکامیو بیخ دی .

دظاهر ی وضع اصلا ح

ښه اوستره وضعه دکامیابی دمهمترینو عناصر و څخه
ګڼل کیږی . ځینی کسان په‌تـکک ، ناسته‌ولاړه ،خبرو
او خندا کښې مرغوب وضعیت اری . او په د غه واسطه
سره دخلـکو توجه ځانته راجلبوی . هغه کسان چه له
دغه اصولو خبر نه‌وی ،هغوی اکثره دخلـکو د تمسخر
لاندی راځی او خلك ورپوری خاندی .

## د بدو عاداتو اصلاح

ددغه ټولو خبرو سره ځینې بدعادتونه هم زمونږ په وجود کښې کله کله پیدا کیږی چه زمونږ په عقلی او اخلاقی نواقصو باندی دلالت کوی مثلا یوسړی چه په کوم مجلس کښې یوه بی اهمیته خبره د بل سړی په غوږ کښې پټه کوی ، ، دا ددې د لیل دی چه دی په مجلس اعتماد نه لری او په دغه لحاظ سره خپل ځان دحاضرینو په مخکښې بی اعتباره کوی ؛ همدارنګه هغه کسان چه دچاپوری استهزا او مسخری کوی او نور خلق په چاپوری خندوی ، دا عادت هم د بدو اخلاقو څخه حسابیږی د اسړی خپل ځان ، خلکو ته حقیر ښکاره کوی او خلك د ځان نه متنفر کوی . داسی کسان د نورو عیبو نه څرګندوی ، او په فضائلو باندی ئې پرده آچوی . ځکه نودا کاردسړی په بی شرفی او کم عقلۍ باندی دلالت کوی .

## ظرافت او تمکین

ظرافت او تمکین دحیات په ټولو شانګو کښې ضروری دی . او د کامیابی دمهمو عناصرو څخه ګڼل کیږی ، له دی جهته هرسړی ته لازم دی چه دظرافت او خوش طبیعۍ څخه پوره برخه ولری او په خپلو ټولو تصرفاتو کښې که اقوال وی که افعال ! دظرافت څخه کار واخلی ، تر دی پوری چه ظرافت دسړی دطبیعی سجایاؤ څخه وګرځی .

## دوخت نه استفاده

هرانسان په شپه اوورځ کښې ۲۴ ساعته وخت لری سړی کولی شی چه ددغه ساعتو څخه یوه حصه دکوم مهم کار

دکولو دپاره مقرره کوی او ډیره لازمه ده چه انسان
دژوند په ساعتونو او اوقاتو کښی دقیق او سی او خپل
وخت بیځایه صرف نکړی . بایدچه دسړی وخت په کوم
یو مفید ، لوی او ښه کار باندی صرف شی . او که کوم
وخت یو ساعت له لاسه بیځایه ووځی .هغی باندی دځانه
سره حساب وکړی لکه چه سړی دپیسو په ضایع کولو
ځان سره افسوس کوی .

## دوستان او یاران

دا دانسان وظیفه ده چه خپل ځان سره صادق وی ،دخپل
ځان په نصیحت مشغول اوسی ،او ددښمنانو دتجاوزونه
ځان وساتی او همدارنګه خپلی مطالعی او استفادی
دپاره ښه کتابونه مجلی او اخبارونه غوره کړی ؛ او
دبدو کتابونو دمطالعی نه ځان وساتی ، داخبره ډیره
ضروری ده چه ددوست په انتخابولو کښی فکر وکړی
شی . ځکه چه ځینی دوستان ډیر رښتینی او فائده رسوونکی
وی او ځینی نور ډیر مضر او آزاری وی .

## دځان پیژندګلوی

په آخره کښی داهم لازمه ده چه سړی دخپل کارونه
وزګار شی خصوصا دخوب په وخت کښی دزندګی ټول
کاردنظره تیر کړی او ښه ده چه هغه وخت خپل ځان او خپلو
نواقصو ته متوجه شی او یو څه سوالونه دځانه څخه دصحت د
بهتری ، دسعادت دتکمیل ، دمادی او ادبی موفقیت دټینګوالی
اودخپل ذکاوت ، فکر ، اوعقل او اودشخصیت دتقوئی په باب
وکړی او علاج ئی ولټوی مثلا لازمه ده چه له ځانه پوښتنه وکړی
چه په دی حیات کښی څه اعمال او آرزوګانی لری ؛ او کله ئی

همددغه دپاره څه کو ښښ کړی دی او که نه؛ اوددی دپاره چه خپل محیط کښی شهرت حاصل کړی ، او په بدن روغ او جوړ اوسی ، او په خپل کار کښې بریالی او موفق وی په خپلو مطالبی پا بند ، او په خپله ږ له کښې دشرافت خاوند وی ؛ کله ئی همددغه دپاره سعیه کړیده او کنه؟ هر کله چه سړی په دې تو لو اطرافو کښی غور او فکر وکړی او د خپلی ناکامیء عوامل ولټوی او خپل فطری کفایت ، لیاقت ، او استعداد ئی په علاج کښی صرف کړی نو دا خبره یقینی ده چه دکامیابیء لاره به ده ته خلاصه شی ، او په آسانتیا سره به لوړو مدارجو ته ورسیږی .

✲✲✲✲✲

# ادبي قاچاق

قاچاق یو ترکي لفظ دی د ګرېزۍ او پټو تیرولو په معنی . یو تاجر چه وغواړي په خپل تجارتي مال باندې د ګمرک قانوني محصول ورنکړي ؛ او خپل مال د ګمرک د مؤظفو مامورينو نه پټ وارد کړي یا يې صادر کاندي دغې ته قاچاق وایي . قاچاق یوه اقتصادي او ګمرکي اصطلاح ده، خاص په اقتصادیاتو او ګمرکي چارو کښې مستعملېږي مګر موږ په يو مناسبت سره غواړو چه په ادبیاتو کښې هم دا کلمه مستعمله شي . دغه مناسبت دادی :

لکه څنګه چه یو تاجر خپل مال په غیر قانوني صورت سره ، خلاف د مقرراتو ، په غلا تیروي ؛ او د خپل شخصي مفاد د پاره قانون او د جماعت ښېګڼه تر پښو لاندې کوي ځینې لیکوال هم کټ مټ دغه شان دي .

مثلاً هغه کسان چه غواړي چه خپل قلمي زحمت کشۍ باندې ځان ته شهرت او دولت حاصل کړي ، نو دوی باید لږ شانې دا فدا کاري هم وکړي چه په سړه سینه سره ځان ته معلومه کړي چه د دوی دا لیکنې جماعت او ټولنې ته څومره مفیدې دي؟ او د اجتماع متوسط ذوق تر څه حده د دوی د لیکنو طرفدار او تر څه حده ورنه بېزار دی. دغه طرفداري او بېزاري څه معمولي خبره نه ده . د حسن او قبح ، ظرافت او ښه والي ، بابیزتوب او بد والي معیار فقط هم دغه شی دی . کوم شیونه او صنایع چه د اجتماع

متوسط ذوق ورته ښه ووايي هغه ښه دی او چه بد ور ته ووائی هغه بد دی . او چه هيڅ پکښې و نه وايي ، هغه هيڅ نه دی !

د اجتماع د متوسط ذوق د معلومولو تله صحيح او اساسی انتقاد دی هغه وخت چه د يو ليکونکی کوم اثر د انتقا د په تله و تلل شي ، نو بيا د هغه د قيمت اندازه معلو ميږی ناقدين چه د صحيح ذوق او کامل معلو ماتو خاوندان وی ، او په صاف ضمير سره د جماعت د فائدی د پاره تول کوی ؛ هغوی حق لری چه د جماعت د متوسط ذوق ښخه نما يند ګی و کړی !

اوس نو هغه کسان چه په خپل کوم اثر بې د صحيح انتقاد د تول ته په نورو ذرائعو ډېل قيمت غواړی ، او هيڅکله نه راضی کيږی چه د دوی متاع دې د انصاف په تله د انتقاد په ميدان کښې و تلل شي ، فقط مقصد يې دادی چه د څو کسو ستر ګې و تړی او خپل مال ګران خرڅ کړی ، ځو لئي ته پکښې نقص وی او که فائده ! آيا دا کسان يو قسم قاچاق نه تيروی ؟ ښه نو ، که دا سې کارونه په ادبياتو کښې وی ، نو بې له «ادبی قاچاق» يې نور څه بلـلی شو !!!

۞۞ ۞ ۞

# ننګرهار

په آریا کښې د(نګار) د کلمې په تحقیق کښې داسې لیکي : نګار - یا نګارا؛ د ننګرهار یا د نګار ا هار ا د منطقې د مشهور وښار و څخه دی .او دا هم زیات احتمال لري چه ددغه ښار د نوم د شهرت په واسطه - (نګاراهارا) عمومیت مو ندلی وی او په یوه منطقه یې اطلاق شوی وی .

محلي افسانې مخصوصاً د کنړ د خلکو دخولې قصې په دې دلالت کوی چه (نګر) یا (لو ننګر) یا (نګار) په اصل کښې دیو پادشاه نوم دی : آه دا خبره حقیقت لري نو د(هار) کلمه چه د ښار و په آخره کښې راځي او ظرفي معنې لري نو په ددغه مناسبت به «ننګرهار» د ننګر د ښار معنې ورکړي.

نګر - نګار - او نګارا ځینو خلکو په ښار ترجمه کړیدی . او ځینې خلك په دې کلمو کښې د (نګك) یا (نك) مـا خذ ګوري چه د سنکرت د(ناګا) څخه راوتلې دی؛ او ډیـری معنې ګانې لري: لکه نمر، غر، مار، فیل وغیره .

ځینو د(نګر کوټ) ښار چه البیرو نی د کابل شاهی په سلسله کښې ذکر کړیدی ، هم ددغه (نـګار) ګڼلی دی . داشو کا استو چه په ۳۰۰ قدمه جګو الی ئې دراود، وایی چه ددغه ښار نیم میل مغرب ته پرته وه ، ( مسن ) انـګریز وایي چه ددغه ښارنه ـ دری فرسخه مشرق یا جنوب مشرق تـه (نـګر) یـا (نـګا رغو نډ ی پر ته ده (نګار) ددغه علاقې د پای تخت په صفت هم ذکر شوی دی . کننګهم وایي

چه دهیون تسانګک دعصر پایتخت چه (ننګار) یی بااله، په بګرام کښې چه د جلال آباد نه ۳ میله مغرب ته پروت دئ ؤ.

سن مارټن - ددغه ښار موقعیت لږ شانی د بګرام نه مغرب ته په یوه لوړه، د کابل او سرخاو دسیندونو تقاطع ته نژدې کوم ځای ښیی.

په هر صورت (ننګرهار) سره د خپلو ټولو مختلو لهجو پخوا دیو لوی ښار نوم ؤ چه ددوسر کی نه د سرخاو د پله او بیا د کوز سلطان پور دغونډیو پورې په ډې مینځ کښې واقع ؤ دا ښار په خپل وخت کښې دار السلطنه ؤ. وروسته دی نوم شهرت پیدا کړ او په ټول لغمان، کونړ، او ډکې نه ترجګدلي پورې په دې علاقه یې اطلاق وشو.

✲✲✲✲

# بډې

د پښتو یوه کلمه ده ، غواړو چه په دې کلمه باندې اصولي بحث وکړو . د یو فاضل قاموس نګار دخولې بیان دی چه بډې رشوت ، مولك او رشپت ته وایي . د یو ښاغلي فیلولوجست څخه مې په یاد ده چه بډې بډائي نه جوړه شویدې ، ځکه چه بډائي دتمول او شته منۍ په معنی ده او په بډې هم سړی شته من کیږي !

لیکن دمولانا رجب خان مرحوم غفرله په خاص بیاض کښې ئې راوړي چه «بډو ته ځکه بډې وائي چه اخستونکي یې پس له دې چه په لستوڼي کښې ئې پټې واخلي ، نو دتفتیش او باز پرس دور ځي له ویرې یې دستي په بډو کوي !»

دمولانا دابیان که څه هم په یو دقیق منطقي بنیاد مبني دی ، لیکن ددوی دځینې رشیدو شاګردانو له پلوه چه شاید ښاغلي طلب خان وي ؛ دانتقاد لاندې نیول شویدی لکه چه وایي : «ممکنه ده بډې خوړ دی بې پرتوګه وي ، په داسې شان چه یوازې پټلون دې ئې اغوستي وي ، نو هلته خودا بیان نه صحیح کیږي» .

ولې ددې سوال ځواب دځینې نورو علماؤ له خوا داسې ورکړی شویدی چه دپټلون او کرتۍ جیبونه ؛ دلاسې بکس قاطونه ؛ دچپنی غوږی ؛ دا ټول دبډو کار ورکوي . هو ، ځینې نور صورتونه لکه دکاندار ان ، آشنایان ، روشناسان ، ملګان ، چپراسیان . چه ددوی په واسطه اخستل کیږي ، دلته تسمیه دکل ده په اسم دجزء .

یا دا چه دا قلیل دی؛ او قلیل له ده حکم دا کثر دی. انتهی.

د ځینی عصری علما ؤ په نظر یه چه هغوی په اجتماعیا تو او فلسفه کښی توغل او پیچش کوی ، بلی ی دیو مهلك اجتماعی او مدنی مرض نوم دی ، چه قومونه او ملل تباه کوی. دا مرض چه په هر فرد ولګیږی. نو د مرض د شدت او ضعف په لحاظ سره یی چاره د مریض لاس لنډ و ل؛ او عمری د ولی نه بیلول ، او احیانا د کو تکو په واسطه چا پی کول؛ او دهغه دارایی ضبطول دی. چه په دغه واسطه سره مرض نورو روغو کسانو ته سرایت و نکړی!

سره ددی پورته فاضلانه تحقیقا تو ، مو د دی دپا ره چه مضمون بنه تکمیل شی؛ د بنا غلی ادیب عجب خا ن خریطة الجواهر په دقت مطالعه کړه، او د الاندی بیا ن موتری اقتباس کړ :

«بلی هغه پیسو او کوتی ته وایی چه یو رسمی مامور او موظف یی پرته د خپلی مشاهر ې او معا ش نه د خپلی وظیفی په اجرا یا په اعمالی ء له خلکو اخلی. نو که دا اخذو جر دو ظیفی د اجرا په صورت کښی وی؛ یعنی یو مامور تر هغه پوری دیو سړی کار نه اجرا کوی چه څو تری پیسی وا نخلی ، نو دا خو بلی ی دی. لیکن که یو ما مور پیسی و اخلی او حق نا حق کړی؛ یا د خپلی وظیفی غلطه اجرا کړی نو پیسو اخیستلو ته بلی ی ، او غلطی ا جراء یا اهما ل ته غدر او خیانت وایی!»

و ګورو چه نور فضلاء په دی باب کښی څه فکر لری؟

جلال آباد ۱۳۳۴

✲✲✲✲

# ګډون

امریکایان چه کله دچا صفت کوی نو وائی : فلانی ډیر ښه سړی دی چه دهر چا سره ګډ او خلط خوی لری . په هر مجلس او هره ډله کښې داسی خوشحاله وی لکه چه په خپل کور او خپله کورنی کښې وی ، او د هر چا سره چه مخامخ شی دهغه سره آمیزش کولی شی .

دا د بعضی اشخاصو خواص دی او په هر چا کښې نه وی .

دانسان له مهمو وظائفو څخه یوه دا هم ده چه باید په هر قسم اوضاعو او مشکلاتو بریالی شی . او د هر چا سره معاشرت او آمیزش وکړی شی . که انسان دخپل دی خاصیت څخه استفاده وکړی ښه منافع هم حاصلوی شی .

داسی کسان چه هر چا سره آمیزش نه شی کولی ، دا کسان اکثره ځان کښې چرت وهی او خپل ځان ته متوجه وی . داسی کسان باید خپله توجه دنورو خلکو خواته وګرځوی او د نورو په احوال کښې فکر وکړی . هغه څوک چه فکر ئی تل ځان ته متوجه وی هر کله چه دنورو اوضاعو او واقعاتو سره مخامخ شی . ، دده ټول فکر دی خبری ته مبذول وی چه دا مسایل به زما په حق کښې څه تاثیر وښنی ، نود همدی املهٔ هیڅ وخت دچا سره آمیزش نشی کولی ځکه دا ځان ته توجه د ده او دنورو ترمنځ یو حایل پیدا کوی .

ددی نقص بهتر علاج دادی چه سړی لږشانی ځان د ځان څخه بیعلاقی کړی او وړو وړو او آنی خبر و ته اهمیت ورنه کړی او خپل نظر او توجه نورو ته واړوی او دخلکو

دعقایدو او افکارو دمعلومولو پسی ولګیږی چه آیا هغوی هم دده په حق کښی همدغسی نظریات لری لکه دی ئی چه دهغوی په حق کښی لری او که نه؟ ځکه چه ډیر ځله یوه موضوع دیوه په نظر کښی ډیر اهمیت نه لری. نو باید چه سړی دخپل نظر دایره ډیره وسیعه کړی او دنورو نظریات هم ځان ته معلوم کړی. مدعا دا ده چه معاشرت او ګډون یو له ضروری خویونو څخه دی چه انسان باید ځان ور باندی روږدی کاندی.

ساده او ټیټ ژوندون په دی دنیا کښی دیوازی توب ژوندون دی. دیوازی او تنهائی ژوند ناقص دی ځکه چه دانسان وجود هم لکه دکار یو مکمل ماشین داسی دی چه دخپل اکمال دپاره ډیر احتیاجات لری او په یوازی توب وجود نشی کاملیدای که انسان لکه غڼه په خپله محدوده دنیا کښی ژوند کوی او دده حیات نورو ته نتیجه ونه لری او نه دی له نورو ځینی استفاده وکړی نو دده فکر او روحی قوه به هیڅ وده ونه کړی.

ځینی خواص او استعدادونه چه په هر فرد کښی منحصر دی، دافکارو دتبادلی په اثر یعنی دمعاشرت او آمیزش په واسطه کاملیږی او وسعت مومی. کوم مهم اتفاقات چه ددنیا تاریخ ته حرکت ورکوی او په جریان کښی ئی تغیر پیښوی داهم دمعاشرت او آمیزش نتیجه ده.

یو نویسنده وائی یو تن انګلیس چه یوازی وی، لیونی دی، او دوه نفره ئی ښه ملګری او معاشرین دی. او دری نفره ئی ملت دی.

❀❀❀

# دویری اود شرم علاج

ډېر خلک په خپل حیات کښې پیشرفت او ترقي نشي کولی ځکه چه خپل ځان ته ئې څه امید نه کیږي او په خپل حق کښې بدبین وي ، دا راز کسان ډېر شرمناک او په خپلو کارو کښې متردد وي ، ځکه چه دوی په خپل ځان و یسا او اعتماد نه لري او له هغو کسانو څخه چه ددوی په شاوخوا کښې وي ځانونه ټیټ گڼي .

په دې مرض باندې اکثره هغه ځوانان مبتلا کیږي چه د ښه تربیت ئې نه وي موندلی یعنې په کوم اجتماعي هیئت کښې نه وي داخل شوي او د خپل فکر ، دماغ ، قوت او طبیعي مواهبو تجربه ئې نه وي کړې ، دوی فکر کوي هغه څه چه نور خلک ئې کوي دوی ئې نشي کولی . ددوی فکر همیشه ځان ته متوجه وي او ددې په ځای چه خپل فکر په کار کښې صرف کړي په خپل و ضعیت کښې ئې صرفوي . دوی گمان کوي چه ټول خلک ددوی په باره کښې فکر لري . او بس بل کار ئې نشته . دوی په دغه شان خپل وخت ضایع کوي او دیته نه گوري چه هیڅوک دې خبر و او کنترول ته وزگار نه دی .

ددې مرض اصلي او بهتر علاج دا دی چه داسې خلک باید له کار سره شوق او میل پیدا کړي . او د هماغه کارو څخه چه ویریږي ځان وروړاندې کړي ، چه ور معلومه شي چه دوی څومره طاقت او قوت لري . او هر کله چه دوی د کار سره شوق پیدا کړي او ځانونه په کار بوخت کړي نو فکر به ئې د جزئي مسایلو څخه راوگرځي ، او هغه بیځایه

خپلګان او ویره چه ددوی به زړه ئی تسلط کړیدی ورځ‌په‌ورځ به لاړه شي . هر څوك په خپل ژوند کښی یو معین مقصد او مرام تعقیبوی ، ډیر ډیر مشکلات ورته په دغه لاره کښی آسانیږی او د موفقیت لاری ورته بیرته کیږی . اکثره دغه کسان چه په خپل حق کښی یو معین مقصد او مرام نه لری او خپله فکری قوه ددی پرځای چه باید د ترقی د لاری په پلټلو کښی ئی صرف کړی د خپل عمل او رفتار په تجزیه کښی ئی صرفوی .

هر څوك چه یو معین مقصد او مرام لری او په کامل اعتقاد دهغه د حصول دپاره کوښښ کوی هغوی هیڅکله دا فرصت نه مومی چه خپل وخت او قوتونه په بیهوده افکارو ضایع کړی ، هغه په عوض ددی چه دا فکر و کړی چه خلك زما په حق کښې څه فکر لری د نورو خلکو په رفتار او اعمالو کښی فکر کوی او سنجوی ئی .

مقصد او مرام او شغل او مصروفیت همیشه یو قسم قوه او زړه ور تیا په انسان کښی پیدا کوی او هر ډول غلط او ناکاره افکار له سره ځنی لری کوی .

هر څوك چه خپل مقصد په نظر کښی لری او مستقیما هغه لوری ته روان وی هغه هیڅکله دومره وخت نه مومی چه د خپل مطلب له لاری یو د خوا او بله خوا ته ګرځي .

✿✿✿✿✿

# د ننګرهار منظره

ډېر خلک به داسې وي چه ننګرهار به ئې نه وي ليدلې ځينې به داسې وي چه پرې تير شوي به وي خو فکر به ئې نه وي کړي. ځينې نور به داسې وي چه يو ځاى به ئې ليدلې وي او بل ځاى به ترې پاته وي. ليکن که دغه ټول يو ته ميـرشي چه دا وطن وګوري نو ارو مرو به خوشحاله شي. ښې منظرې ، نوې ځايونه ، ښکلې رودونه ، او چته غرونه سرسبزې درې، ودان ولسونه چه يو سر ئې زمستان او بل سر ئې تابستان وي دچا نه دې خوښ چه وئې ګوري !

مګر ديو کلي يا يو ښار يا يوې نا حيې کتل چه دسترګو ښکار ورته رسېږي آسان کار دى ولې ديو داسې وطن ليدل چه په ۴۰ کروه طول او ۳۸ کروه عرض کښې پروت وي هغه هم په دې شان سره چه سړى په کور کښې ناست وي ډېر مشکل امر دى مګر زما مدعا داده چه دغه مشکل امر تاسو ته آسانه کړم او په هر ځاى کښې چه تاسو اوسيږئ زه خپل دغه وطن درته په آسانۍ وښيئم.

هو دومره ده چه زه څه وايم منې به ئې دغه دى درته ئې وايم ښه ورته فکر کوئ: تاسو برابر مخ په نمر پريواته ولاړ يئ: ښى لاس ته مو ديو داسې سيند لخزار ساحل دى چه دنمر پريواته نه سم نمرخاته ته بهېږي. کيڼ لاس ته لـر شانـې ريګستان دى چه وړو وړو او خړو غونډيو ته منتهي شوى دى.

ددې سيند نه ښى لاس او کيڼ لاس دواړو خواؤ ته ونې ،

کلاګانې، شنه فصلونه ښکارې ددینه وړاندې نظر پهوړو وړو تپو اوغرونو لګیږي چه پر له پسې هر وروستنۍ دمخکښې نه لږ جګګ دی چه خو په آخره کښې دوا ړه پلوه نظر په لوړو عالیشانو اواوچتو غرونو چه شرقا اوغربا پرا ته دی اوسرونه ئې په سپینو واورو پټ دي را بندشي . ددې سپینو غرونو څوکې دآسمان شنو لمنو سره لګید لی دي .

د ښي لاس غره ته «کونړ» اود چپ لاس غره ته «سپین غر» وا ئي .

نودغه دی اوس ئې درته وایم چه دا ته پکښې ولاړ یې داجلال آباد دی . ښي لاس ته دی په زر قدمه کښې د کابل سیند بهیږي دسیند نه هغه غاړه آبادی بهسود دی چه وریجې ئې په ټول افغانستان کښې شهرت لري، ورینې ، هغه ګوري، دونو په مینځکښې سپینې سپینې کلاګانې ښکاري .

دری څلور مربع میله وړه علاقه ده خو ښه ودانې لري . نیمئې بهسود دکابل دسیند نه او نیمئې بهسود کنړ دسیند نه او به څښي .

ګوره ، دغه د بهسودو ونې او کلاګانې : نمر خا ته خوا ته تر یوه حده متصلې معلومیږي بیا په منځکښې لږه فاصله ده ، هغه خوا ته بیا بڼو نه دي، برجونه دی او بنګلې د ی دغې آبادی ته «کامه» وائې دکامې رقبه د بهسودو پهدوه هغومره ده . دلته هم ټول فصلونه کیږي مګر ګوره او ګڼې ئې شهرت لري . د بهسودو او کامې په منځکښې دغه فاصله چه معلومیږي داد کنړ سیند دی . چه شرقا دمخامخ غرونو نه راوتلې دی؛ د ښیوې نه ئې د جلال آباده پورې چه دلته دکابل دسیند سره یوځای کیږي دشپږ کروه په

احاطه کښې ئې یو کمان جوړ کړی دی او بیرته ګرځېدلی دی مخ
په نمر خاته تللی دی .

د بهسودو نه هغه پلو ته ددوه کروه په فاصله ددغه
غره شاته چه بهسود ورته لګېدلی دی شګه او شیوه پراته
دی او بیا متعدد د ی د ر ی د ی چه د کو نړ دغره نه
د کنړ سیند ته راوتلی دی او ددغه سیند دواړه
خواوی چه د کنړ په حد کښې د شرق نه غرب ته بهېږی ، دغو
ته کنړ وائی . کنړ په شاتو غوړو ، لرګو او اعلی صحت مشهور
دی . د شګی نه نمر پریواته ته یو ډاګ دی چه «ګمبیری»
ئی بولی دغه ډاګ کنړ او لغمان بیل کړی دی او ددغه
سپین کوڼې په مینځکښې «نورستان» دی .

رابه شو دې بلې خواته د سپین غره غربی سر د جګدلی
دغرو د سلسلې څخه جدا شوی دی او کوز د تیرا او خیبر
غرونو سره لګېدلی دی . ددی غره هغه خواته کورمه او
غلجی اقوام پراته دی او ددی خواته ئی شنواری خوګیانی
او د حصارک غلجائی پراته دی . ددغه ځمکو انګور ، انار
مڼې او توت د ستایش وړ دی او د ژرندی پلو نه هم ددغه
خواو څخه راځی .

راځه چه اوس مخامخ نمرخاته ته ودریږو او وګورو .
دغه نزدی غر ګوری ؟ دادسمر خیلو غر دی . دلته د میا علی
صاحب زیارت دی چه لیونیان ورته د ډیرو لری لری ځایو
څخه راځی . که دا غر نه وای نو بتی کوټ ، چاردهی ، باسول ،
انبارخانه او هزار ناو به مو له ورایه لیدلای او نظر به مو
د کمکی خیبر او ډکی د غرو په څوکو تیر شوی وای . د خیبر غرونه
به مو نظر ته راتلی .

د جلال آباد نه ۳۰ کروه فاصله لري .

ښه، د جلال آباد نه غربي خوا ته د اسلسله ودانۍ « سره رود» بولي د سره رود ودانۍ همدغه غره ته چه په «تورغره» يا ديږي مشهور شوي ده. دی غره لغمان د حصارك او خوګيانو نه بيل کړيدی که دا غر نه وای نو د « کلالي » او جګدلي د غرو سرو نه به موليدلای. ټول لغمان به په‌ړاګک ښکاريدای. د جلال آباد نه به جګدلي ته هم دومره مسافه وي لکه له دی ځایه تر ړکي. د کونړ او سپين غره د امني داسي يخي دي چه اوړي هم پکښي بېر ستني آغوستل کيږي مګر د کابل د سيند غاړي دومره تودي دي چه ژمي هم خوك نمر ته نشي تينګيدای !

د کابل سيند د تنګ غارو په دره په غرونو کښي ننوتلی دی او لاندی لغمان ته راوتلی دی. د چار باغ په حد کښي ورسره د اليشنګ او الينګار سيندونه هم ګډ شويدی بيا يي په تورغره کښي ځان ته لاره پيدا کړيده، دغلته ور باندي پول ايښودل شويدی چه ددغه ځای په نامه «ددرونټې پل» يادېږي .

په دغه شان سره د کابل سيند لغمان ښه‌سود، کامه، ګوشته خوازئي، ازلعلپوره د ړکي باسول، ښينکوټ، جلال آباد خوګيانۍ حصارك نه بيل کړيدی. دغي ټولي حوزي ته ننګرهار وايي. ننګرديوه پادشاه نوم دی چه د اسلام نه مخکښي يي په دی ملك پادشاهي کوله دا ملك بيا ورو ورو ټول د هغه په نامه يادشو .

✲✲✲✲✲

# امانت او خیانت

خیانت دامانت ضایع کولو ته وایی . دژوندانه قید د انسان په غاړه یوه سلسله امانتونه ور اچول‌یی دی. دا امانات انسان په خپلو اوږو اخستی او قبول کړیی دی. لکه چه قرآن کریم هدایت کوی: «مونږ آسمانونو او ځمکی ته امانت وروړاند کړ، نودوی قبول نه کړ او انسان په خپلو اوږو واخست»

دا امانت هغه وظیفه ده چه انسان ته له آسمانونو څخه تاکل شوی او تعین شویده، چه هغه دعقل په مقابل کښی تکلیف دی. جمادات او حیوانات چه عقل نه لری هغوی تکلیف هم نه لری که څه هم لوی او عظیم الشانه هستی لری لکه ځمکه، دریابونه، غرونه، آسمانونه او غټ غټ حیوانات، انسان په دی لحاظ چه عقل لری نو ده ته لوی اودراندهوظایف هم راجع دی .

دانسان وظیفه په اختصار سره داشیونه دی: خپل خالق سره محبت اودهغه دقدرت او تخلیق د مقتضا دحکمت سره سم ځان اداره کول، اوعمل کول خیر رسول او له شر او فساده ځان ساتل، دخدای دمخلوق سره مینه کول او هغوی دسعادت اوخوښی خواته رهبری کول دی .

دا الهی او فطری امانات مونږ ته وظیفة راجع کیږی. اوهره وظیفه په مقابل کښی مسئولیت لری نودغه وظایف له یوی خوا مونږ دخالق اوله بلی خوا د مخلوق پوری مربوط کوی . خالق بی نیاز دی هغه ته نه مونږ خیر

رسولی شوا و نه شر. نو ځکه د هغه ټول اوامر او نواهی زمونږ د خیر او بهبود د پاره دی. مګر دغه خیر او بهبود د جمعیت او ټولنی په مرکزیت مبنی دی افراد د باید هیڅکله خپل خیر په فردی لحاظ تعقیب نکړی.

امانات باید مونږ حفاظه کړو. که دا امانات د اشخاصو پوری مربوط وی نو مونږ ته امر دی چه «بیشکه خدای تاسو ته امر کوی چه امانتونه خپل اهل ته وسپاری ءِ!» او که په جمعیت پوری مربوط وی نو ارشاد دی چه «تاسو مو یو پر بل پسی خلیفه ګان ګرځولی ئی او اقتدار مو درکړی دی او ځینی مو په ځینو په درجو، اختیارا تو او جاه او حشم له نورو پورته کړی یاست. د دی د پاره چه په تاسو امتحان وکاندی په هغه څه کښی چه درکړی یې دی تاسو ته» نو ددولت، جاه وحشم، اختیار، واک، رسوخ او اقتدار په مقابل کښی خدای په مونږ ابتلا او امتحان کوی چه مونږ د هغه امانت په ځای کو و که نه؟ خپله غاړه د وظیفی په اجرا خلاصوو که نه. نو ور پسی د تخلف په صورت عذاب دی او د اجرا په صورت اجر او مغفرت دی.

نو که مونږ د چاسره وعده کوو او بیا مخالفت کو و نو دا خیانت دی. که مونږ د چاسره دروغ کوو او غولوو یې نو د صداقت په مقابل کښی چه پری مخالف بو خیانت دی. که په ناجایزه، ناروا او بی د کوم کار او خدمت له رویه د چا مال آخلو او خورو یی نو خیانت دی. که په کومه اداره کښی د چا د لاس لاندی عهده قبلوو او بیا کار او اطاعت او صداقت نه کوو نو خیانت دی. که مونږ سره اقتدار وی او عهدی نالایقو کسانو ته سپارو او لایق موجود وی

نو خیانت دی. که مونږ په اجتماعي وظایفو کښې شخصي ګټه او مفاد لټوو او د جماعت حق پرې قربانوو نو خیانت دی. که مونږ غواړو چه خلک دې احمق وي چه بیا یې اغفال کړی شو او سوء استفاده ور څخه وکړو نو دا خیانت پر خیانت دی.

خیانتونه هم مدارج لري. څومره چه د خیانت د ضرر دایره ارتېږي هماغومره خیانت هم لوی او مهم حسابېږي تر دې چه که په سړي خودغرضي، شخصیات د جاه او مال مینه دومره تسلط وکاندي چه د ځان د ګټې او بهبود د پاره د ټولنې او جماعت بهبود په لته وهي او د اجتماعي نظام د تهدید او تخریب سبب ګرځي نو دا «غټ خیانت» دی.

قوم هغه افراد دي چه په مشترک تهذیب، کلچر، قانون او متحدو روایاتو د یو ملي بیرغ لاندې په یو وطن کښې ژوند کوي. وطن هغه خاوره ده چه د یوه حکومت د اداري لاندې په کښې د افرادو د سعادت او حریت د ساتلو د پاره نظام جاري وي. د وطن بهبود او د قوم سعادت او د اجتماعي نظام اصلاح د هر مکلف فرد وظیفه ده. که څوک د اجتماع حریت، آزادي، امنیت او نظام په ځان قرباني نو دېته زمونږ مقدس دین «اسلام» فتنه او فساد وایي دې «په ځمکه کښې فساد مه لټوی» سره یې داخوی رد کړیدی.

«خدای فساد نه خوښوی» سره یې د دغه نه بیزاري ښکاره کړیده.

«فتنه او فساد جوړول د قتل نه سخته ګناه ده» سره یې د دې ګناه اندازه ښودلې ده، قتل قرآن کریم کفر ته نږدې ښودلی دی. نو تاسې پخپله پوهیږئ چه فتنه او فساد هغه هم ملي او وطني څومره لویه ګناه او څومره لوی خیانت ګڼل کیږي!

# ګله اوخوابدی

«نور نویوه کلـکه ګله اوخوابدی له تانه زه او نور ملـګری لرو. په بهانو به نه خلاصیږی .» دایـوه جمله ده چه زمایودوست شاید زما په کومه اجتماعی نظریه باندی دانتقاد کولو په تصور ماته لیکـلـی ده . څو مـره چه دالیکونکی په ماګران دی، هغومره دده دجملی شرحه او بسط په ما لازم دی :

ګله - دهغه شکر رنځی اظهار تـه وایی چـه دد وه دوستانو په منځکښی دیوه دبی اعتـنائی څخه دبـل پـه نسبت پیښه شوی وی، اوپخپله فاعل ور ته ملتفت نه وی خوپه دی شرط چه اظهار ددوستی دعاطفی دتحریك په صورت وی چه څوپیښه شوی ناملائمی رفع او بیا مکرره نشی- چه کدورت او «خوابدی» ته منجر نشی . کـه ددی حد نه تجاوز وکړی، نوګله دانتقام مقام ته رسیږی چه هغه ددوستی سره منافاة لری. ګله- شکوه- مانی یوشی دی .

خوابدی: کوم وخت چه یو دوست تیقن حاصل کړی چه زما دوست زما په مقابل کښی قصدا اوعمدا ددوستانه تعهداتو اومقرراتو نه مخالفت کړی دی، نودلته خفقان خوابدی اوزړه بداوی پیدا کیږی .

ګله اوخوابدی هغه وخت کـکه ګڼه او خوا بدی کیدی شی چه شاکی ته دمقابل جانب په سرو اوغلطی پوره علم او استدلال حاصل شی . اودا هغه وخت کیږی چه دمشتکی عنه فعل ټول ظروف اودزمان اومکان شرائط

پوره معلوم وی . او که دشاکی شکایت د کوم حاکی دحکایت یادکوم داسی سند له رویه وی چه په خپله په هغه کښی دشکایت دجنبی نه دآفرین جنبه غالبه وی نو هلته گیله اوخوا بدی هیڅو معنی نه لری . - بلکه د داسی شکایت نه باید سړی شکوه وکاندی !!!

کوم وخت چه دگیلی گیلی اوخوا بدی د لفظ سره داعبارت یوځای شی چه «په بها نو به نه خلا صیږی» نودشاکی په سوء ظن اوعدم اعتماد دلالت کوی . داسی چه شاکی دخپل دوست دقول او دلائلو او براهینو اقامې ته چه دمثبته فعل په تصفیه اړه لری، بهانه وایی اواوریدو ته یی لاهم تیار ندی .

که اصل معامله دشخصیاتو له جنبی وی ، نو په هغی کښی بهانه کول پایه بهانه ځان خلاصول البته احتمال لری . نو په مقابل کښی ورته داعبارت استعمالول چه « په بهانو به نه خلا صیږی » یوه خبره ! او که اصل معامله اجتماعی وی ، اود کوم شخص دخوشحالی ء اوخوابدی ء له مقامه پورته وی ، نوهلته دپورته عبارت استعمال دحال دمقتضانه مخالف دی !

په هرصورت : دیوشخص منطقی استدلال ته « بهانه» ویل ، اوهغه ته دغوږ اینښودو نه ځان چور خلاصول او اوحتی دعذر مو قعه هم نه ور کول دراییی په قطعیت یااستبداد یاسابق عدم اعتماد اړه لری. دقطعیت نه مو نږ بحث و کړ . دفکری استبداد اوعدم اعتماد چاره بی له دینه چه دصبر اوسکوت په ړال و اخستی شی بله نشته . یوسړی که څه هم دبل دوست په «رنجیدگی اوخوا بدی ء »

خپه کیږی ، خوچه هغه یې خبروته غوږ نږدی ؛ نو خپړل فائده نه کوی .

که یو سړی ښه کوی ؛ ښه نظریه لری ؛ او اصلاح ته اړم وی . او ځینی نور ړوندپه ړنده ، دهغه دنیکو، اعمالو اوښو افعالو تاویل په بدی ء سره کوی ؛ نودا دهیڅچا په قدرت کښې نده چه خوك په زور قائل کاندی . داښه عامل باید خپل کار دحق اوحقانیت ، خدمت او اصلاح په نظریه په په پوره آزادی ء تعقیب اوادامه کړی . داتر خه په رڼه تنلږه وځښې . اوداغزو په دغه پولیو پښې کښېږدی . او مخکښې ولاړ شی تر څوچه زمانه پخپله حق او باطل ، سره اوکوټه ، ښه او بد بیل او متما ئز کاندی . اویقینا دا دزمانې کاردی ! «ای څښتنه ! مونږ په تا ، له بدو ځکما نو اووسوسو نجات غواړو !!! »

ماږو : ۳۰ر۳ ۲۷

☆☆☆☆☆

# د ملیونر خیرات خور خوب

زمونږ یو لیکوال د «ملیونر خیراتخور» دعنوان لاندې په اتحاد مشرقی کښې لیکلې دي ای خوار او اوبې وزلو پښتنو! هر څوک چه غني او دولتمند وي، میاوې، که ملا، سیدوي که پیر او پیشوا، هغه دخیراتونو او زکاتونو مستحق نـه دي!

هغوي باید تاسې غو ندې عاجزانو ته خیراتونه او زکاتونه درکړي او په تاسو زړه وسو زي، که تاسې نه دریږئ، او اروړو نوروته څه‌ور کوئ نو دقصرونو او باغونو خاوندانوته څه مه ورکوئ، بلکه ګوډ، شل ړانده، کونډې، یتیم، بندي او مسافرته یې ورکړئ چه په آخرت کښې په ښه درشي!»

څه‌چه دغلته لیکلي شوي‌دي سم‌دي، مګر دغه ښاغلي لیکوال باید ملتفت کړي شي، اودده جګر خوني باید کمه کړي شي ځکه چه‌ددانې سر بل‌دی، دغه نه‌دی لکه چه ده تصور کړی‌دی دمقالې په‌اخر کښې یې لیکلې دي!

«لږې سترګې وغړوئ، اولږغونډې هوښیار شئ! آخر ړانده خو نه یاست، داڅه کوئ؛اوڅه در باندې کیږي! ستاسې په‌خیراتونو خلکو په‌عمرونو عمرونو مزې چړچې اواورمیږونه وکړه،اوکه رښتیا ووایم نوشرابونه هم‌پرې وا خیستل شوه، اوفحاشې هم‌پرې وشوه!

تاسې خپلو شلیدلو جامو، خپل فقر او مسکنت او ددوی مال اودولت ته وګورئ چه‌ددوی څنګه دي؟ او

تاسي څنګه ياست؟ که دوی نه شرميږي او ستاسي خير اتو نه قبلوي ، بلکه غواړي يې ، تاسي ددوی له حيثيت او شان څخه و شرميږئ ، او ددوی ترقيا مته او په قيامت کښي مه تحقيروی ئ!»

مګر حقيقت دادی چه ورکړه او بذل چه دغه ليکوال ليدلی دی ، دادخيرات او زکات په صورت نه دی ، دلته يوازی ورکړه نه ده بلکه د «ور کړی اورا کړی» مفهوم وجود لري . تاسو به او ريدلي وی : «چه زيارت له څه ور وړې څه به راوړی» « آه پير خس ذی ده و ريد بس دی» تاسو ته معلومه ده دغه سخت او مشکل کارونه چه دهيڅ چالاس نه ور رسيږی پيرانو ته اسانه دی . خان او ملك خو د ذوی مراعات کوی . او « ډېرې و سپيني ددوی په نظر و يلی کيږی » .

زه دغه ليکوال ته وايم چه ستا خوار او غريب قام اوس هم هوښيار دی . دوی دخپلی فائدی پسی روان دی . نه دميا ، ملا او سپين پکړی دښيګڼی پسې ! - داچه ما و کړه د تعجب خبره نه ده . لږ په سړه سينه بايد غور و کړو ، او بيځايه بايد غم او غصه و نه خورو . داقام ړوند نه دی . ښه بينا دی . دغه ذی زه يې در ته وايم :

فرض کړه ته يو غريب سړی يې پينبغ دی شو ، او اينغ نيغ شوې يادې په سر دردشو ، اوجهان در باندی تورتم شو . زوی دې په غټو دانو پريوت يا شری و نيو . يادې کور کډول تبو اوملير يا رانګير کړل . يادې قلبه ئی غولی يا لنګه غوا ټا کوونيوه . يادې د کور کوم نفر ليونی شو يا پيريانو ونيو . يادې کوم زورآور په مال هال تصرف

وکړ ، یا درته قاضی ، حاکم ، اوقو ما ندان خـوش په خوشه رنګشول ، ددې پرځای چه په ظالم در شی په تا را وګرځیدل ، یادسړی ښځه په لنګوال کښی سخته شوه یا ښځه او ناموس دسړی نه خسر ګنډی ٔ ستون کړ او کمر شکن دوديی غوښت . یا کوم ځای کښی کوم زلمی طلب وکړ اوپه نا داری ٔ وکړل شو ، دغسی یوجهان در دونه او آفتونه موجود دی . . . . . .

ښه نو داسی ښدی بېړی ٔ به څوك روا نوی ؟
ددغو بلاګانو مخه به څوك نیسی ؟
اوددغو مظلومانو په داد به څوك رسی ؟

بیشکه چه بی میا ، ملا ، پاچا او سپین ږیری ، دم ئوا تاویذ ماویذ ، روی وریا او وا سطه بازی ٔ هیڅ چاره نشته . ددوی دې لاکور ودان وی چه په لږ څه سړی تـه ډیر کار کـوی ! ، . . .

په یو وطن کښی چه دصحت او معالجی ، اواجتماع او ټولنی ، قانون اوعدالت ، حق او انصاف ، دین او آئین اصول ټول مخلوط او بی ترتیبه وی «چـه هیسته ګـو رم پرانګ دی چه پیسته ګورم پانږ» نوهر څوك دخپل نجات دپاره په کومه وسیله توسل کوی ، اوځان ته لیار باسی! نودیولوی شر او آفت نه ځان خلا صولو دپاره که سړی نسبتا څه لږ مالی یاجانی ایثار وکاندی، نوچه نه یی کوی څه به کوی ؟ ستاسو څه ګمان دی ؟ داخلك چه میا ، ملااو سپین ږکړو ته څه ور کوی ، دا ګو ندې خیرات او زکات دی ؟ او ګو ندې خاص دخدای دپاره یی ور کوی ؟ دا به ډیر ه کمه لیدل شوې وی چه کوم موږ میا ، ملا به زړی

پښې په پښو کړې وي ؛ زاړه کالی بهٔ یې اغوستي وي دخلکو نه بهٔ یې خاص دخدای په نامه څهٔ غوښتي وي؛ او خلکو بهٔ څه ورکړي وي . اغلبا داسي کیږي چه پینځ یا سر دردیې درتهٔ دم کړ او تاڅه ورکړه . پېریان یا مرګي یې درله پاڅول او شکرانه یې درنه واخسته . تبې، زیږي یې درته وتاړه او په څهٔ دې خوشحا له کړ .

تعویزیې درتهٔ وکه او مراددې حاصل شو، بندیې درته وکړو او خدای زوی درکړو . کوم زور آور ته ستاد پاره ولاړ او ستا کار وشو . دده په دم دی غواغویي له مرګه راوګرځید . دعائي درته وکړه او ستا نیستي وشلېده . بنه نو . په داسي صورتونو کښې بهٔ هم څه نه ورکوی؟ - که نه یې ورکوې ، خو چوره ناشکري ده .

دا بهٔ دې هم اوریدلي وي، فلانی فلانی ته بښېر ې وکړی ، او لیونی شو . فلاني دفلاني شکرانه ور نکړه ، او دقلبې غویي یایې زوې مړ شو . فلاني دفلانـي خبره و نه منله هغسي ورپیښه شوه . بنه نو که داسي خبرې موجودې وی، نو بیادغه شان ورکړې ته خیرات اوزکات نه وایی . دغه کسان خیرات خواره هم نه دی؛ ملیونران وی او که فقیران، دا بېله خبره ده . دغو ته « نذرو نیاز» وایی . دنذرو نیاز په ورکړه او اخستو کښې یو عالم احتیاجات مجبوریتونه او عوامل موجود دی لکه چه مخکښې مو ورته اشاره وکړه . ترڅو چه په یو ملت کښې دغسي عوامل موجو دوی، نو دغسي ملت دغسي خلکو ته دا شي چارو ناچار باید ورکړي !!!

داتحاد مشرقي په ۳۹ ګڼه ۳۰ کال کښې نشر شو

✿✿✿✿

# خیر خیریت دی

چیرته دیو لوی کور ریو مشر ؤ، ده خپل لوی کور دیوی ځنډی دغمخورګیء دپاره، یوسړی هلته وتلی او ویـی لـیږلـو!

رالیږل شوی سړی دآغا اوحکمدار په مغروررانه وضع راغی، او په یوه عالیشانه او ښکلی مانۍ کښی کښیناست او په ځان یـی پیری ودرولـی!

کله به چه داغمخور او بارخواست کوونکی دوړاندی وروسته محافظینو په منځکښی دمانۍ له دروازی راووت دخوارانو، مظلو مانو داد خوا هانو تیپونو به ورته دسرك له هری خوا د خا رو ځځه سرونه راپورته، او هرچا به پهزړه کښی زرګونه عرضونه تکرار کړل!

ده، بهچهدی دومره خوارو لغړوته وکتل نودرحم په ځای بهیی قهرراغی - مګر دپسرلی دبرښنا پهشان بهیی کله خلکوته وخندل، او کـله به د رعد غـو ندی وغړمبید! او په تندیء بهتیر شو!

منتظرینو به یوله بله پوښتنه کوله: وموليد؟

چا بهویل: نهما خو ونهلید.

چا بهویل: ماولید، خوچا ورپرې نښودم.

چا بهویل: ماځان ورورساوه، کاغذ می ورکړ خو دی پهقهر شو او کاغذ یهځیری کړ!

پهدغه شان خلك پهتمه وو او دی بیغمه!...

ده دافکر کاوه «چهسردې نهخو بڼیری داغ پری ځله

بندی» رشتیا چه داهغه سرنه ؤ چه د نورو په در دخوبېږی!
ده په خپل تش کدو باندې خپلې ږینګه کړی وه او
نظر یی په بل څه ؤ . او ددې مطلب دپاره ده ښه سنجش
کـړی ؤ !

ټولو دزور او غرض خاوندانو سره ئی جوړه وکړه؛ او
په دغه شان یی لېوان ، په رمه کښی خوشی کړل .

هری میږی به چه رمباړه وهله هغه به یی مخـکښی
ماتوله په تېرلی انګړ کښی مـیږې او لـېوان ټکلوو ووو
یوازې دی ، بیرون ؤ او مراقبت یی کاوه چه او از د باندې
و نـه وځـی !

دکور مشر له دې غمه بیغمه نه ؤ . هغه: بـه همیشه
پوښتنه کوله : «څه حال دی ؟» ده به ویل : «خیر خیر یت
دی ! » چه هغه به څوك راولیږه چه خیر خیریت مـعلوم
کاندې ! ده به هغه دوخته پیژندلی ؤ ، او په یوه غټه مړی
به یی دهغه خوله هم بنده کـړه !

د کور خاوند ، نه پوهیږم ولی د ده نه هیڅکله دا
پوښتنه ونکړه چه تا څومره مظلومان دظالمانو له پنجې
خـلا ص کـړه ؟

څومره وږی بر بنډ بیکاره دی د کا رـپـه واسطه پټ
مـا ړه کـړ ل ؟

څومره ناپوه او بی سواده دې پوه او بـاسواده کړه ؟
څومره بی کوره خلکو ته دې کو رونه ، او څـ مره
بی جایدادو ته دی جایداد پیدا کړل؟

ځومره خرابی دېاباد ی کړی؟ځو مره مر ضو نه دې دفع اوډځومره کو نړو یتیمانو غم‌دی و خوړ اوڅه قسم اصلاحات دې و کړه ؟

دده دیته همفکر نشو چه ووایی : راهیسی که تاسره پخوا ځوپیسی وې اواوس در سره ځودی ، او دادې له کومه کړی ؟

داراز هغه وخت افشاشو چه لوی کور سپیره ړا ګک شوی ؤ اوددی کور پههره خواکښی همد غسی وضعیت جوړشوی ؤ اوټولو یوه اتحادیه جوړه کړی وه .

اوس نوددی «شر» دفع یوازی ددکلک ایمان پهقوه کیدی شوه او بس !

کیلغو ۲۵ داسد ۱۳۴۹

# ژوند څه شی دی

که موږ ړومبی له حیات او ژوندانه صحیح معلومات ولرو او د حیات په معنی پوه شو او هدف ئی و پیژنو ، نو موږ به د مقصود خواته سم روان او سو ؛ او هغه کوږوالی او اعوجاج چه یا منزل او ږدوی او یا مطلوب ته د رسیدو مانع ګرځی کم به مخی ته راشی او په ژوندانه کښی به زموږ د سیر او حرکت فعالیت کامیاب وی او زموږ د ژوندانه ونه به میوه داره او سی . زموږ خلقت او آفرینښ عبث چټی او بی مقصده ندی دازل باغوان د ژوندانه ونه زړی او تخم بی ارادی نه دی کرلی ، او زموږ د حیات اراده ئی بی له مرامه نه ده کړی . دی غواړی چه د حیات بڼ دی تازه ، او د ژوندانه صحنه دې ښکلی او د زندګۍ هنګامه دې تو ده وی ! جمال او کمال د حیات غایه ده ، دنیا په همدغه طرف روانه ده او دغی خو اته درومی !

د کائناتو د ډیرو حقایقو په شان د ژوندانه مسئله چه له خورا مهمو مسائلو څخه ده ، تر اوسه غامضه او پټه پاته ده ، د ژوندانه اسرار چا نه دی کشف کړی لیکن بیا هم نه ویل کیږی چه موږ د همدغه مسائلو په باب چه زموږ د تعمق لاندې دی معلومات نه لرو . یا زموږ دغه معلومات بی نتیجې دی . موږ ډیر شیو نه پېژنو ، او دهغو له پیژند ګلوۍ او معرفت څخه مو فائده اخستی ده . لیکن زموږ اکثره علم داشیاؤ او دهغو دخواصو

او ممیزاتو له مخه دی .

کوم وخت چه موږ د ژوندانه او ژوندو له موضوع څخه بحث کوو ، ګورو چه ټول ژوندی اجسام له مړو اجسامو څخه په خپلو دغو خواصو متمائز دی چه ژوندی اجسام حرکت لری ، نمو کوی او غذا خوری . د نبات او حیوان حیات دارا دی په لحاظ یو تر بله جدا کیږی .

حیوان اراده لری او نبات ئی نه لری . مګر د ژوندانه مبحث چه کوم وخت انسان ته رسیږی نوری معنی ګانی پیدا کوی او مخصوصا هغه علاقه مندی چه ادب او اجتماعیات ئی د حیات سره لری ، پر ته له هغو شیانو څخه ده چه ساینس او طبیعی علوم ور څخه بحث کوی . که څه هم د حیات ارتقاء د انسان په درجه دریږی ، خو تر پورته هم د هغه د کمال پوری درجی موجو دې دی .

ادب په دی چه ژوند تنفس ، تغذیه ، اراده او حرکت دی ، قناعت نه کوی داوائی حیات قوت او اقتدار دی . زندګی زور او اختیار دی . د حیات په تعریف کښی د ادب نصب العین د ساینس او طبیعیاتو څخه جدا دی ځکه د ادب موضوع چه حیات دی په دی لحاظ دی چه حیات د احساس د خاصی او د احتیاج د ممیزی له کبله چه لری ئی د خپل خواو شا سره په تماس کښی دی او د کمال په طلب کښی . ادب ژوندون د تاثیر او اثر ، فعل او انفعال او د خیر و شر د او جمال او کمال د مدارجو له رویه مطالعه کوی هغه جر ثومه چه له یوی خلیې یا سیل څخه متشکله ده هغه هم قوت او اقتدار لری . ځکه نو زمونږ د ژوندانه معرفت له دغه ځایه شروع کیږی او د نبات او حیوان څخه

تېرېږي ، انسان تەرسي . دلته دهغو مدارجو په لحاظ
چەقطعه کړی ئیوی دحیات خاصه چەقوت او اقتدار ،
یا په بل عبارت زور او اختیار دی خوپو ه یو ته ختلی
اوسي ، تردی پورته هم هرڅومره چەقوه اواقتدار زور
اواختیار زیاتیږی اوکامليږی حیات او ژوندکـی هم
هماغومره دارتقاء او اعتلاء مدارج طی کوی ترڅو چه
حیات دخپل کمال اعلی درجې ته ورسیږی چه هلته پرې
زوال اوضعف تسلط نشي کولای .

انسان دضعف اوقوت ،اقتدار اوبی اختیاری ،احتیاج
اواستغنا ،انحطاط او کمال دمدارجو په مینځ کښی ولاړ
دی . حیات ددغه پل او مرصاد ، اوددغه معبر اوممر څخه
عبور کوی ، کوم وخت چه دارتقاء مدارج او د تنز ل
لیاری لنډی وی . داخبره دەچه انسان له سجینه تر اعلی
علیینه مکان اوقرار ګاه لری.دی کولی شی او اختیا ر
لری چه په یو ناپایاوەدریاب اولایتناهی فضا کښی دخپلی
ارتقاء اوتـکامل دپاره هری خواته چه وغواړی لامبو
ووهی او والوزی ؛ یاتیټوالی او دنائت په ځان قبو ل
کړی اود حیو انا تو نه لا ندی درجه ځا ن ته ومنی .
د حیا ت د غه معنـی د معـا صر و ا د بـا ؤ څخه یـو ه
په یوه وجیزه کښی ځای کړی‌ده چه ذکرئی بی مورده
نـه دی :

«حیات قوه دی او اقتدار دی
ژوندګی زوراوواک واختیاردی»
«چەدا دوه څیزه پکښی کامل دی
هـغه وا جب دی پر ور دګـار دی»

انسان یعنی دغه یو موټی خاورې چه له یوی خوا کمزوری او له بلی خوا قوی دی . یوه برخه ئی ظلمانی او بله ئی نورانی ده : دسر پاسه ئی دعشق همـا سیوری غورځولی اود پښو لاندی ئی دعقل ساحر زرین فرش غوړولی . دعلم په وزر په هوا کښی الوزی اود فلسفی په تعمق ددریابو نو تل وینی؛ دین دی تجرد ، اوروحانیت ئی مجرد اتو ته راکاږی ! بنی لاس ئی «حسب خـیر » او کین ئی «حسب نفس» کلك نیولی دی ـ هغه چه رحمان غواړی دی دې شاغل وی ، او شیطان غواړی چه مشغول ئی کاندی . هر څو مره چه قوی او مقتدر وی ، په هماغه اندازه له حیات اوژو ندانه څخه مستفید او فیضیاب دی . دقوة مدارج اود اقتدار مراتب لامحدود دی . هغه زور او اختیار چه انسان ته ور کړی شوی دی په اندازه کښی نه دی راغلی . هغه قوة او استعداد چه یوه فرد ته اعطاء شوی دی دهغی په ذریعه هم انسان له نورو مخلوقاتو لوړ دی . لیکن هغه وخت چه یو شخص خپل قوت له بل سره مجتمع کړی هغه قوت یو په دوه کیږی . اودری هغو مره کیږی کوم وخت چه دری کسه سره متحد شی . او څلور هغو مره کیږی کوم وخت چه څلور کسه سره موافقت وکاندی . او همدغه شان تر آخره پوری . ددی اجتماع اتحاد او موافقت معنی داده: لکه څرنګه چه فرد په جماعت کښی مؤثر دی دی باید اختیاراً تاثر او انفعال هم و منی لکه څرنګه چه دی غواړی دده خبره دی واوری یدل شی ، دی دې هم د نورو خبری واوری او څنګه چه دی استفاده کوی مفید دی هم واقع شی .

ترڅو لو ړ و مبې نن چه افراد مجتمع کوی او جمعیت آزادوی ، فعالیت او قوت ور کوی قانون او انتظام دی قانون که د «حب خیر» دغریزې د تاثیر لاندی وضع او اجرا شی نو دعمران او خوشحالۍ نتائیج ور کوی . ددغه دوه شیو نو فقدان یا سوء استعمال غم او خرابی راولی .

هغه غم چه عام او عالمګیر وی هغه ضمیر چه دخیر او ایثار تخم پکښې شین کیږی ، دسم معارف په ذریعه ایجاد کیږی هغه معارف چه عام وی او دملت درد پری دواشی د ثروت او اقتصاد له ځمکې زرغو نیږی .

لیکن دشجاعت او بیغر ضۍ په او بو خړو به کیږی هو ، که ژوندګی قوت او اقتدار وی ؛ او هغه چه ښه قوی او مقتدر وی ، ښه ژوندی حسا بیږی ، نو دقوت او اقتدار اسباب باید و پلټو : دشخصی قوت او اقتدار ددی وخت یو مفکر په څلورو شیو نو منحصر ګڼلی دی .

او په لاندی طور ئې په یوه و جیزه کښې ځای کړیدی «زور او قوت دی په څلور څیزه ۞ در ته ئې وایم ځما غریزه» « صحت دولت او علم و شهرت دی ۞ ښه یې په یاد کړه اهل تمیزه » یقیناً صحت ، علم ، دولت او شهرت شخص ته قوت او اقتدار ښښی ، لیکن شخصی قوة او اقتدار کوم وخت چه د بل سره ضم نشی او دخیر د پاره نه وی ضعیف ناخیزه ګڼل کیږی .

هغه صحت چه کار تری نه اخستل کیږی ، هغه علم چه دګمراهو رهنما نشی ، هغه دولت چه دخیر په کار و کښې استعمال نشی وجود او عدم یې مساوی وی . او که ضرر رسوی نو عدم یې اولی دی .

هغه عقل او معرفت چه خدای انسان ته بښلی دی دهغه
په برکت انسان کولی شی خپل صحت ، علم ، دولت او
شهرت ته ترقی ورکړی . نوی عصر ددی هر یو دپاره سپینه
لیاره جوړه کړیده که انسان دفطرت دقوا نینو په تقاضا
تګ کوی نه کمزوری کیږی . او که کمزوری او ضعیف
وی قوه ئی اعاده کیږی . مکاتب ، جرایدا و کتابخانی
دعلم دپاره عمده وسیلی دی . کار او دجمع وخرخ توازن
انسان مالدار کوی . ښه نیت او ښه عمل انسان ښه شهرت
ته رسوی . او که څوك داشیونه دناروا ؤ لیارو څخه طلبوی
نو پوه دې شی چه کوم بارتر مزله نه رسیږی . لکه چه
مخکښی مووویل شخص باید خپل ځان دصحت ، علم دولت
او شهرت په واسطه قوی کاندی او بیا دې دغه قوت دنورو
افرادو دقوت سره ضم کاندی او اجتماعی قوه دې وجود
ته راوړی . ترڅو چه دغه اجتماعی قوه دفطرت په ذخائرو
او مجا زنو لاس وموهی او ښه لوی قوة تر ې تشکیل شی :
او داچه دغه قوت دبشر په خیر او صلاح کښی صرفوی
انسان ته وجدانی حظ او باطنی استراحت بښی چه داعین
سعادت او نیك بختی ده . زندګی همدغه شی لټوی او بس!

«عنیا هغه کنفرانس دی چه دمشرقی ددرالحکو مګی
په صالون کښی د یوی لو یی ډ لی ملکی او عسکری
مامورینو او علماؤ او ادباؤ په حضور ایراد شو .»

(۳۱ دثور ۱۳۳۶ اتحاد مشرقی)

✲✲✲✲

# د نوو اکتشافاتو په رڼا کښې

## قدیم حقیقت

په دې زوړ جهان کښې چه انسان دې نوی حال ته رسیدلی دی، څنګه ورورسېد؟ په دې کښې د آدم د ډېرو غوره اولادونو دژوند کارنامې دخل لری. دا هغه کسان دی چه بې د غرض او مفاد له ملاحظې څخه یې دخپل زړه اودماغ دزیار او زحمت محصول د اخلاص په لاس نو دبشر جامعې ته وړاندې کړ یدی، چه د خدای ټول بندګان ورنه بې له فرقه مستفید او متمتع شی.

پیغمبران، حکماء، علماء، نوابغ او محققین هر یو په دې لیاره کښې سهم او برخه لری. یو له دغو ټولو علمی کسانو څخه پرو فیسر آینشټائن ؤ چه لږ ی ورځې مخکښې وفات شو. د آئن شټاین دعصر نه د بشریت علم او فلسفې نوی رنګ غوره کړ، او په دې کار کښې دپر و فیسر آینشټائن کارونو ش او اکتشافات ډېر دخل لری.

لو مړی باید په دې خبره پوه شو چه ددنیا ددغه لوی نابغه او نامتو شخص اخلاق او ګذاره څنګه وه؟ په دې باب کښې دا لاندې جملې کفایت کوی:

«البرټ آئن شټائن یو داسې سړی و چه علاوه د فوق العاده علمی استعداد څخه پکښې بشری حمیده صفات په اوړه اندازه موجود وو. ډېر منزوي ن، صاف نیت، سپېڅلی. او له هر قسمه دنیوی آزاو حرص څخه منزه و. ده نوران کولای چه دجاه او مال په باب ددنیا دخلکو د حرص او آز توجیه وکاندی. دغه قسم مصروفیتونو ته به یې په

تعجب او تا ثر سره کتل . دهٔ دژوند مزه بی دحقیقت له کشفو لو اودخلکو دخدمت نه پرته په بل شی کښې نه لېده . دده ژوند ډېر سادهٔ په یو وړوکی کور کښې یې دخپلې خور سره په پرینستون کښې ژوند کاوه . له تجمل او تکلف نه به تښتېدو . هیڅ خوښ نه ؤچه دده او نو رو په منځکښې دې فرقوی . دی دهغه تجلیل څخه چه ده ته به کېدو نا آرام ؤ . اودایی دخپل ژوند له مقد را تو څخه ګڼله چه بې دده له خوا هش څخه د ې د خلکو د تعظیم مورد وګرځی . آئن شټائن دا نسان د نوعی دعلمی او اخلاقی نوا بغو څخه ؤ ، اودا نسا نیت دکمال نمو نه وه . د آینده انسانانو دپاره به آئن شټائن داخلاقو ، نوع پالنو وظیفی پېژ نـدلو ، او خدا پرستی ءعلمی سمبول وی .

آئن شټائن انسانان دیو نوی عالم په مقابل کښې چه دریاضی فار مولو نو څخه جوړ دی ودرول . داهغه عالم دی چه چه له یوی خوا چه څو فکر کار کوی اتساع لری . او له بلې خوا چه څو مره عقل رسائې کولی شی په وړ و ذراتو منقسم کېږی . نو مونږ ګو یا دیو دا سی عالم په سر حد کښې واقع یو چه دوسعت او کوچنیوالی په دوا ړو خوا ؤ کښې لا یتناهی دی . نور د نمر له کری څخه ځمکی ته په (٨) دقیقو کښې رارسېږی . او په یو کال کښې لس تریلیو نه کیلو متره مسافه طی کوی . او یواځی د کهکشان قطر سل زره کاله دنور په رفتار مسافه ده .

اودغسی دخدای عالمو نه کهکشانو نه په فضا کښې موجود دی . له بلې خوا همدغه اتساع دانقسام اوداخل لو ر ی

څخه هم دلایتناهۍ خواته ځي . وايي چه دنور دموج اوږدوالی دمتر د٦ دمنهاد ۱۰ په قوه دی . دیو اتوم قطر ۱۰د۱۰ دمنها په قوه دی . داتوم دهستې قطر ۱۰ د۱۵ دمنها په قوت دی . دغه ذرات په خپل منځکښې د صغر په خوا کښې همدغسې شمسي نظام لري . لکه دلويې په خوا کښې ځمکه ، سپوږمۍ نمر او کهکشا نو نه !

دعالم په دغسې مرموز ، مجهول اوحیرت آور عظمت کښې نالیدونکې ذرې چه الکترون او پروټون نومېږي ګرځي . ددغه رنګارنګ شغلو اوذراتو ګرځېدو طرف اوواسطه یوشی دی چه (اثیر) یې بولي . د آین شټاین په زعم سره ، که څه هم مونږ دغه شی د ذات او ماهیت ته خبر نه یو ، او نه ئې ترتهما دویلی شو او نه قوه ، مګر په هر صورت وجود یې دهغه شغلو او ذرو له وجود ده ښه صریح اوښه ثابت دی چه په منځ کښې یې سیر او انتقال کوي .

دعالم په دغه نامتناهی لويوالي اوکوچنیوالي کښې چه د ریاضي دفار مولو څخه جوړ دی ، د آین شټاین د نسبیت فرضیه په کاو لویدلی ده . اودغه فار مولونو د طبیعیاتو ډېر هغه مشکلات حل کړی دی په پخوانی فزیك حل کولی نه شول . ولی ددې خبرې ځواب چه ددغه مظاهرو څخه ماوراء څه شی دی او څه حقیقت لري ، نشي ویل کېدای ، نو زمونږ دعقولو ددغه خود ساخته فارمولو څخه په هغه خوا هغه کلي عقل ، وجود لري چه زمونږ عقلونه دهغه په رڼا منور دي .

آین شټاین اودده معاصرینو اوهم فکرانو لکه

هنر ی پوانکاره ، پلانك ، رو درفورد ، بوهر ، میز نبرګك او داسی نورو بشریت ته دا وښوده چه بشر ی عقل هم دفضاغو ندې ګرددی ، او تل په خپل ځا ن ځر خی . عقل ګمان کوی چه په علومو کښې دکوم مطلق هدف خو ا ته روان دی ولی په لږه تاریخی زمانه کښې معلومه شو ه چه دانسان علم دیوځو نسبتی تجربو اوقضاوتو نو پو ری محدود دی .

یو وخت دا سی ؤ چه طبیعیا ت د ار سطو په ځلو رو عناصرو او نجوم د بطلیموس په منظومه ، اوطب د بقراط ، جالینوس او بوعلی سینا پر مبانیو ټـنګک کاوه . ابږ موده پس دغه سلسله د نیوټن ، کوپر نیك ، کـپلر ، ګـالیله ، دیـکارت ، پاستور او ددغو په شان خلقو په پیدا کېد و سره پرې شوه ، او نوی عالم چه دجاذبی او معلوم زما ن او مسطح مکان په قانون ،اوداو قلیدس دهندسی په اصولو اداموا جو په فرضیه ، او دایثر دطبقی اوذراتو او جوهر له مخی جوړ شو ، اود میلاد د اتلسم او نو لسم قر ن ریاضیو نو به په خپل فزیك او میخا نیك با ند ې افتخا ر کاوه ، او خپلې تجر بې ئې دهغه ذراتو دوجود اوقوانینو پر اساس کښېښودی چه ګویا په زمان او مکان کښې محققی وې او ځینی مادی علما ؤ به په هما غه تحکم سر ه چه دمنځنیو پیړیو مـتـکلمینو به ځمکه او آسما ن په یو ه سلسله عقلی قیاساتو توضیح کول ، دوی به هم هر څه دمادی پر اساس توجیه کول ، ولی ددې دوری عمر هم ډېر پاته نشو . او نوی فرضیی او د بـر ق او ا لـکتـرو مقناطیسی ا کـتشافاتو اودعناصرو زیاتیدل او نوی کیدل

(د نورد کوانتم یاوحداتو زیاتیدل) اود کروی فضا منځ ته راتنگ ، او په آخره کښې د آئن شټائن د نسبیت نظریې هغه مادی تحکمات او متزلزل کړ او عقل یې په حیرت کښې واچول . د دقت خبره داده چه له ډیر پخوا څخه اد یان او فلاسفه دې خبری ته متوجه وو چه د عالم د کثرت نه هغه خواته اساسي وحدت درك کړی . ننني طبيعي علوم او د آئن شټائن تعليم همدغه هدف ته متوجه دی . د اسې بریښي چه د طبیعت جواهر یا امواج یا اشعه له یو اصل څخه راځي ، او یو اصل ته ځي . سر ه ددې چه د کوانتم فرضیې اشعه د فوتون د ذرې یا مقدار او واحد مرحلې ته راورسول . او د ملیکان غوندې خلکو د دقیقو تحلیلو نو هغه دوړه لطيف وښود چه ګویا دایتم او موج یادما دی او قوة په منځکښې هیڅ فرق نه پاته کیږی نو د کثرت جهان د وحدت خواته روان دی . معلومه ده چه آئین شټائن په آخره کښې دا کوښښ کاوه ، چه دخپلې ریاضی داستدلال په قوه او دخپل رسا فکر په زور کوم داسې فارمول پیدا کړی چه د طبیعت په ټولو مظاهرو احتوا وکړی او ټول دیوې معادلې لاندې راولي . استاذ هدف ته نږدې شوی ؤ خو و نه رسید مګر دعلومو مقدمات د دغه نتیجې زیری ورکوی .

د آئن شټائن په مغزو کښې د عالم د وحدت فکر د بشر د روابطو او د مللو د مناسباتو په لیار کښې هم په کار ولوید . د ډیرو کلونو داده آرزووه . چه د مللو اختلافات د صلح او صفا له لیاری څخه حل شي . نه د اضطرار او انفجار له پلوه ، لنډه داچه دغه د طبیعت دنیا د آئن شټائن

اودده د ملګرو دوینا له قراره په واقعه کښې عقلي عالم
دی . یعنې د بشر دعقل او استدلال له مخې تر کوم ځایه چه
امکان لری پیدا شوی دی ، وایی چه کنه او حقیقت یی
دخفاء د پردی لاندې پټ دی . جینس اودده غوندې نور
وایی : مونږ دانسان توده چه ددې عالم دشئونو او ظاهریاتو
اسیر کړ ځېدلی یو هیڅکله به موفق نشو چه حقیقت
یی کشف کړو . دهغو مطالعو په اثر چه دادینګټن ، جینس
او خپله آئن شټائن غوندې خلکو کړیدی ، او همدارنګه
دهغو محاضرو څخه چه آئن شټائن د برګسون او رابندرانات
ټېکور دامثالو سره ئې کړیدی وایی چه مونږ هر یو چه
ددغسې معضلی سره مخامخ یو کولای شو چه دهغه عالم
په باب کښې چه د محسوساتو او تجربیاتو له پردی نه هغه
پلو ته واقع دی دخپل فطرت او شوق ، او استدلال او شهود
په حکم هغه نظریه چه زمونږ روح ورسره آشنا ده قائمه
کړو ، که څه هم دغسې نظریه محض په برهان ولاړه
نه وی بلکه ایمان او عرفان هم پکښې اثر وکاندې .
لکه چه ادینګټن د خپل کتاب « د عالم حقیقت »
په آخر فصل کښې ددغه ایمان او عرفان قیمت ته قایل شوی
دی نو په دی صورت کښې دا چه د طبیعت د عالم د علمی
نظام شاته یو نظام شته یو حقیقت دی نه بل څه !

او هغه معنوی حقیقت قدسی اراده او کلی عقل دی .
او د عالم کثرات او ظهورات هغه پردې دی چه د بشر هره
ورځ زیاتیدونکی بصیرت به یې په تدریج سره پورته کړی
او حق به جلوه وکاندی .

داهغه حقیقت دی چه د بر پخوا ورته انسان ور رسیدلی دی، او د انسانیت آخرنی دین: (اسلام) ور باندی دختم مهر لګولی ؤ، مګر په منځ کښې یوه دوره انسانان ورنه منحرف شوی وو. او اوس بیرته په خپل دایروی سیر کښې هماغه نقطې ته ور نزدی شول چه ورنه تللی وو او تری وره که شوی وه. دنن ورځی هرملت چه ددغسی حقایقو په بنیاد خپل حیاتی تهدا ونږدی، نو هغه په مشرف با لزوال او په سست بیخ به ولاړ وی.

ولله المشرق والمغرب فاینما تولو افثم وجه الله!

✡✡ ✡ ✡

# نیکی هدف دی که واسطه؟

ګرانه استازه ، ستاسو په صحبتونو کښې مونږ ډیر کرته د نیکۍ او احسان په باب سفارش او تاکید اورېدلی دی، اوس که اجازه وی زه دا پوښتنه کوم چه « نیکی هدف دی که واسطه ؟هیله ده چه د نن ورځی په ټولنه کښې دا موضوع تر څېړنی لاندې ونیول شی !

استاذ : اول باید وګورو چه نور ملګری او ورونړه هم ددی پوښتنی طرفدار دی که نه !...

ټولنه (په یوغږ) هو، نن باید همدا خبره وسپینه شی .

استاذ: ددی خبری سرپه دې کښې دی چه، « ژوند دژوند دپاره دی که نه ،څه غایه هم لری ؟» ، په دی کښې ستاسی مفکوره څه ده ؟

یوشاګرد : داستاذ ددی پوښتنی سره دانسانی ژوند او حیوانی ژوند فرق په نظر کښې نیول په کار دی .

استاذ :البته،زمونږ عنوان هم نیکی ده ، په دې کښې شك نشته چه«نیکی - یا- احسان » انسانی حیات ته راجع کېږی .ځکه چه حیوانی افعال وایی چه میکانیکی دی .

بل شاګرد : دلته به دا پوښتنه ښایی چه بیځایه نه وی که ووایم چه «آیا نیکی او احسان یوشی دی؟ »

استاذ: هو، دلته مونږ نیکی او احسان هغه ښیګڼې ته وایو چه د کوم بل عوض دحصول دپاره نه وی .

دریم شاګرد :هو، خبره په دی کښې ده چه د انسان ژوند په خپله غایه ده او که بله غایه تری مراد ده ؟

استاذ : دلته‌چه مونږ فکر وکړو ، نو پوهیدای شو چه‌ژوند خو به‌پخپله هدف اوغایه نه‌وی ځکه چه دذیل نامسعود مایوس اودردناك حیات په وخت کښې ډېر انسانان خودکشی کوی نوکه ژوند پخپله مراد وای خلکو به ولی قطع کاوه .

څلورم شاګرد : مونږ ډېرداسی خلك وینو چه‌هغوی په‌خوړلو ، څښلو پیسو راغونډولو قانع دی ، او کوم بل شی یی په‌زړه کښې نه تیریږی .

استاذ : داخو تاسو تصور کویٔ که‌نه‌نو ، که دغه کسانو فطرت دانسان له‌درجې نه دحیوان درجې ته‌نژدی نه‌وی ، یاټیټ پریښودل شوی نه‌وی ، نو دغه اشخاص دکمال په‌دوره کښې چه‌پس له‌دیرشو یاڅلویښتو کالو شروع کیږی ځان په‌یو عالم حرمان ، حیرت ، اوخسران کښې ګڼې او په یوسخت باطنی عذاب مبتلاوی . ځکه‌چه دغه مزخرفات دانسان‌د ضمیر دسوالو نوځواب نشی ورکولای .

دځوانیٔ په‌عمر کښې اوهغه وخت چه تجربه اوشعور کمال ته نه‌وی رسیدلای انسان قوت ، مال ، دولت ،ښځه اونور شهوات غواړی او ډېر ورته لیوال وی خو چه دااشیاو لیدل شی یاشعور او عقل کمال ته ورسیږی نوبیا داشیان دبوډیٔ دټال نه زیات حیثیت نه‌لری . په دغه‌وخت کښې که‌انسان ته د حیات د سعادت د حقیقی ارکانو رڼاچه یوله له‌هغو څخه نیکی او احسان یعنی «خدمت» دی حاصل‌وی ، نوپه‌دغه‌وخت کښې په‌خوشحالیٔ سره دژندګی ادامه‌غواړی .

که نه ، نو دژوند په وروسته مراحلو کښې خبره هیڅ نه پا ته کیږی . او انسان ددغه بی مزی ژوند په قطع راضی او خوشحاله وی .

داعیناً داسی وی لکه بی ثمره او بی سیوری ونه چه یوازی خس ورځخه مراد وی ، او هیڅ کوم یو دلیل یی دبقا او دوام دپاره چیرته نه وی مو جود .

شاګرد : که سړی داسی وکړی چه دژوندا ولنی مراحل دهماغه مراحلو په تقاضا چه دغه شیان دی چه تاسو ونبودل تیر کی ، او پس له څلو یښتو نیکی او احسان ته ملا و تړی ، نو ځنګه ؟

استاذ : زیات خلك چه د محیط له جریانا تو څخه د دوی طبیعی شعور او سنجش ګډوډ شی په دغه فکروی ، یا بی فکره : همدغسی کوی ، خو تاسو یو هیږی ، هغه و نه چه بی ثمره او بی سیوری وی ، پس له نیمائی عمره میوه داره او دسیوری و نه کیدی شی ؟ کوم وخت چه انسان دخدای ورکړی استعداد او فطرت قهراً په غلطه لیار صرف او ضائع کړی ؟ او په خپلو اعمالو د «قهرالرجال» او فساد محیط مرتبه ځان ته پخپله وکتې ، نو ځنګه کیدی شی چه دستی په دغه په «سا تل شوی لو حه» باندې لیکل شوی وران کړی او په ځای یی نور څه ولیکی . که څه هم په دې پوهیږو چه تو به په هر حال کښې مخکښې له ځنکدنه دقبلیدو ده . خودا دخدای په نزد : یعنی دضمیر فشار کمولی شی . مګر محیط یوازی په عمل او اخلاقو روښانه کیږی ، نه دضمیر په عزم !

له پولی څخه یو شاګرد : آیا داستاذ مراد دادی چه انسان

دی له ابتداء څخه «نیکی او احسان» خپل شعار وګرځوی او بس !

بل شاګرد : نه، د استاذ مراد دادی چه انسان دی ځان دحیات په بنکلا ؤ ترممکنه حده مزین لری ، اما باقیات الصالحات چه دخدای په نزد دثواب او امید دپاره له نور هر څه نه ښه او بهتر دی ، داول دعمر څخه دې یی مشق او تمرین نه پریږدی !

استاذ : شابس ، ښه دی وویل ۰

بو شاګرد : استاذ صاحب د تیر بحث حاصل څه شی دی مونږ غواړو چه مطالب مو ، ښه ذهن نشین شی ۰

بل شاګرد : که د استاذ اجازه وی زه به څه ووایم ۰

استاد : ښه ده کړه !

شاګرد : دتیر بحث خلاصه داده چه انسانی ژوند عبث نه دی او یواځی د«پهلوان زنده خوش است » په اساس سړی باید ژندګی خوښه نکړی ۰ یواځی عیاشی او تجملات اوخور دونوش انسان قانع کولی نشی ، او دده حیرت استعجاب ، لیون او تجسس نه شی غلې کولی ، اوځان نیمګړی او نیمه خوا ګڼی ، اودغه شیان هماغو مره ښه دی چه له ورایه ښکاری چه سړی ورنږدې شی هیڅ هم پکښې نه وی ۰ یا یواځی هم اوغم پکښې وی نو دژوند دسعادت دحقیقی ارکانو څخه نیکی ، احسان ، خدمت او ښیګڼه ده ۰ ځکه چه په دغی سره انسان ته حقیقی سرور ، دنفس اطمینان او رضایت حاصلیږی او ثمر ، میوه او عاقبت یی تل ښه او خوږوی ۰

نو ګویا «نیکی» هدف شو ـ څنګه استاذ ؟

استاذ : آفرین ، نیکي په همدغه اساس سره دژوند
غایه او هدف دی .

له ټولنې ځخه یو شاګرد: ګرانه استاذه یوه مهمه اشتباه دلته شته!

استاذ : ښه ، هغه څه ده ؟

شاګرد : زه دا وایم چه هر کله « نیکي » دژوند
دسعادت رکن شو ، خو سعادت هدف شو نیکي واسطه
شوه . او هر چا لا که اواستفا ده جوی نیکي دمظاهری
په صورت داستفادې دپاره واسطه ګوي . دوی سعادت
همدغه مزینات تجملات او ظاهریات ګڼي . هغه ټول
کارونه چه نیکان یې کوي ، دوی ئې هم تقریباً کوي ،
مګر هغوی یې دیو شي او دوی ئې دبل شي دپاره ، او
مشکله داده چه هریو خپل هدف سعادت ګڼي .

استاذ : هو ، دا انتقاد دغور وړ دی . مګر په دې
خبره لږ و ډېر بحث شوی دی چه دژوند مزینات او مزخرفات
دحاجت نه په دباندې اندازه سره دنصب العین په صورت
متعین ګول ، او دقبلې په شان ټوله مخه ورته ګول او په
هغې کښې محوه کېدل سخته پښېماني او سرګرداني پیدا
کوي . چه انسان پرې بدبخت کېږي . راغلو دېته چه سړی
نیکي داستفادې دپاره واسطه ګاڼدې او تظاهر ، ریائې
او دوام غوندې شي یې وګڼي نو بیا نیکي نیکي پاته نشوه
هغه نیکي چه پورته فوائد ورباندې مرتب ګڼو هغه هغه
نیکي ده چه د نیکۍ دپاره شوی وی او بس !

شاګرد : ښه شوه ، خو په هر صورت : که نیکي
دسعادت رکن وی خو نیکي واسطه شوه .

استاذ : که مونږ د نیکي نیکۍ دپاره ومنو ، او نیکي

دحیات معیار وی خو خبره بیخی واضحه ده . مګر که
ته ارو مرو منطقی بحث کول غواړی نو ووایه چه حقیقی
شی حیات دی که سعادت او نیکی ؟

شاګرد : حقیقی شی حیات او ژوند دی.

استاذ : ښه نو ، سعادت، څه شی دی ؟

شاګرد : سعادت ، حالت ، کیفیت دی او
أضافت دی .

استاذ : نیکی څه شی دی ؟

شاګرد : نیکی اعمال دی چه وجود لری .

استاذ : په هرصورت ؛ سعادت یو کیفیت او اضافت دی،
چه دکیف له مقولی څخه دی او پخپله په حیات پوری
یوځای په تصور کښې راتلی شی . نو په دې حال کښې
نیکی دژوند رکن شو ، چه اعلی او کامل معیار یې په
تصور کښې و نیول شی . نو نیکی هدف وګرځید .

مجلس : (په یو غږ) وخت ډیر تیر شو .

یو شاګرد : داځواب غواړم چه خلك وایی :
«هرشی خپل جنس زیږوی مګر نیکی بدی زیږوی.»

استاذ : داد معجلینواو استفاده جویانو قول دی .
چه تخم ئې لا کرلی نه وی ، دستی ئې ځولیۍ نیولی وی او
میوه تری غواړی . ددهقان کار کرل دی . او تر ټولو
غټه خبره داده چه نیکی پخپله او په هرصورت خپله بدله
ورکوی چه هغه په نیکیۍ خوند او مزه اخستل دی چه
دامزه په بل هیڅ شی کښې نشته .

که څه هم ظاهراً او مادتاً په ضرر نتیجه ورکاندی .

نو - نیکی حسن دی . نیکی جمال دی . نیکی
ژوند دی . او نیکی دژوند غایه او هدف .

خلاصه او آخره خبره دادهچه نیکی هغه کار کول دی چه په انفرادی صورت سره افراد او په اجتماعی صورت سره جوامع او ملل دخوشحالۍ او ارتقاء خواته سوق کوی اودغی ته «خدمت» هم وایی.

(قدرت زندګی اود زندګی معنی په نیکۍ کښې ایښی ده.)

✿ ✿ ✿

# د پسرلی سیمه

دلته د ایشیا په منځ کښې یوه بیله جامعه او یـو بیـل مملـکت موجود دی . ددغه مملـکت په یوه خوا د دنیا خورا لوړ غر چه د دنیا بام یې بولی ولاړ دی . یوی بلې ته ئی له دغو غرو څخه خورا لوی سیند چه آمو نومیږی بهیږی . جنوب ته ئی بحر او دریاب په دایمی مد و جزر سره زندګی تمثیلوی . شرق ته ئې دایشیا لوی سیند چه د سیندو نو پلار دی ، او (اباسیند) نومیږی په مستۍ له خولی ځګونه غورځوی ، او له از له دا بد خوا تـه روان دی !

☆☆☆

دغلته چه سړی په قوس او جدی کښې له اباسینده راپوری وځی نو د پسرلی هوا ، تازګی ګلان او شنیلی لیدای شی !

د پېښور ژمی هیڅوك ژمی نشی ګـڼلای !

دلته د پسرلی مرغان ، هغه چه پسرلی په کابل کښې لېدل کېږی ، ټول د ژمی دلته موجود وی !

پېښور ، مردان ، کوهاټ ، بنو ، ډېر ې ، سیوی ؤ ترشکار پوره هغه ښارونه دی چه دعقرب له نیما ئې څخه بیاد دلوی د نیمائې پوری پسرلی هلته هستو ګـنه لری !

☆☆☆

چه دلوه په آخر کیږی نو پسرلی خپله ګلپه راواخلی ننګرهـار ، خـوست ، چمـن ، کـلات او د اباسی

پسې کندهار، مزار او هرات ته راځي. نرګس، شبو، او نور رنګارنګ ګلان او دحوت په آخر کښې دنارنجو بهار په جلال آباد کښې شروع کيږي.

دحوت په آخر، او د حمل په ابتدا کښې د کنړ دری، دسليمان او سپين‌غر لمنې؛ دهرات، کندهار، فراه، ميمنې، مزار اودقطغن ورشوګانې شنې کيږي، او دلته سپين، زيړ، شنه، سره بانجانې اورنګا رنګ‌ګلان سرونه له خاوره راپورته کوی اودژوندانه تبسم کوی.

ونې شنې کيږي، ولې ګل کوی، زردآلو، شفتالو، منې، دپسرلی دراتګ جشن نيسي. اوپه ډيرو ښايسته ګلانو آرايش کوی.

دغنمو پټې سمسور شی. نجونې په پټو کښې سا به کوی. زلمې اوپيغلې ميلوته‌وځي. او دسونځو لوګلان فضا په خپلو خوږو وږمو نمانځی؟ يووخت په ثور کښې زه هرات ته تلم. چه دهرات دښار اطراف کښې داخل شوم، شپږ کروه زمونږ موټر په سرو، سپينو، زيړو ګلانو کښې‌چه دسړك په منځ کړل شوی‌وو، تګ وکړ! په ثور، جوزا، سرطان اواسد کښې پسرلی لاندی اوټيټې ځمکې دتوتو، الوچو، زردالو، لوکاټو، بادرنګواو نورو خوږو اوخوش مزه ميوو اوترکاريوته پريږدی؛ پخپله کابل، کوټې، نورستان، بدخشان، ګرديز، چترال، غزنې ګلګيت سوات اودغور لوړو مېنوته په ورو، ورو مخه کوی.

له دغو غرونو اودامنو څخه دوا ورو سپين خادرونه پورته شوی وی. دپسرلی مرغۍ يو پر بل پسې راغلې، دهقانان له تاوخانو راوتلې، او شپانه په دشتو نواو

ناوونو کښې خپلو مېړ و، وزو، اوزمو پسې شپېلۍ غږوهی او دپسرلی هنګامه تودوی !

دجلال آباد دښار د نار نجو دګلانو غو نـدې چه پـه حوت کښې سپرل کېږی د کابل ښار په جوزا کښې دا کاسی اوسو نجلو دګلانو له خوشبوئي څخه موج وهی !

✿ ✿ ✿

دجلال آباد اوسپین غره اوکونړ دلمنو، پـه موسم کښې ۴۰-۴۵ ورځی فرق موجود دی، دجلال آباد او کابل په فصل کښې پوره دری میاشتی تفاوت شته، ګرديز اوغزنی اوهمداسی غور اودپامیر لوړی څوکی متدرجاً یو پر بل پسې یخی دی. هرات له کابله ګرم، اوله کندهاره سوړ دی. جلال آباد اوخوست به سره یوشی وی .

کندهار په هوا کښې له جلال آباده لږ ښه دی. ګرديز له کابله، اوغزنی له ګرديزه یـخ دی ... دپـېښور او جلال آباد په موسم کښې به هم ۳۰ ورځی فرق مو جود وی .

بنو، کوهاټ، ډیری دپیښور غوندې دی .

کابل په یخه منطقه کښې دی. دکابل نه کښته مناطق ګرم حسابیږی. په یخ ځایونو کښې پسرلی اوژمی؛ او په تاودو ځایونو کښې پسرلی، اوړی، منی اوژمـی وجود لری. ځکه نودکابل دخلکو په محا وره کښې دبهار او زمستان نه بیر ته دخزان اوتابستان کلمی نه استعمالیږی .

✿ ✿ ✿

د یخو منطقو پسرلی دحمل څخه دسنبلې پوری ګڼل کېږی. اوتردی وروسته ژمی دی .

دلته اوړی او مڼی د پسرلی ضمیمه شوی دی .

ځکه نو غنم، شولې، جوار، شوتل، مولی، پیاز، گندنا، ټیپر، پالک او همداسی توت، زرد آلو، قیسی، انگور، مڼې، هندوانی، خربوزې، او ناک سره یو ځای او پر له پسی رسېږی. دغور په مناطقو کښې د مېزان په میاشت کښې له یوی خوا غنم رېبل کېږی او میده کېږی او له بلی خوا کرل کېږی .

دا خبره صحیح ده چه پسرلی له ښکلی او مڼی له د پاسه راځی . داسد له شلو څخه په یخو منطقو کښې هوا بدلیږی . او دغه مڼی دی چه د سنبلی له پنځلسو څخه په گرمو مناطقو کښې ظهور کوی . مڼی په گرمو مناطقو کښې د پسرلی دویم ظهور دی . په دغه ترتیب سره پسرلی د پامیر او هندوکښ له څوکو څخه بېرته راگرځی، او دا باسیند غاړو ته ځی .

✿✿✿

زمونږ د هیواد کوچیان څی مره خو شبخته دی چه د پسرلی هوا ، گلانو او مرغانو سره د آمو له غاړو څخه رالېږدی او د اباسیند تودو ساحلونو ته ځی . په قوس ، جدی ، دلو کښې د پسرلی سره دا باسیند په غاړو کښې هستوگنه کوی .

او بیا په همدغه ترتیب سره کوچ کوی پور ته ځی .

رنگارنگ ښایسته گلان، قسما قسم خوږې مېوی، تازه او مفرحه هوا، رڼې او صافی اوبه ، بدیع او ښکلی مناظر، صحت او تندرستی ، جمال او جلال د دغه ځمکی خصوصیات دی چه مونږ ورته «د پسرلی سیمه» وو یله .

ای زیبا ښکلی وطنه ✿ ای د سر و گلو گلشنه .
ته جنت یی د جهان ✿ ای وطنه دافغان .

✿✿✿✿

# کوشانیان څوك وو؟

علم دانسان خاصه ده، دوطن مینه او هیواد سره مینه لرل ، دحیواناتو مشترك خوی او خصلت بلل کیږی ، خو کوم وخت چه دا شیز علمی رنګ غوره کوی نودحیوانی دایری څخه راوځی ، اودانسانیت د ممیزاتو په احاطه کښې ننوځی . زمونږ هیواد افغانستان چه نن ئې دائره ډیره تنګه او پخوا ئې خورا پراخه او پخپلو طبیعی او قدرتی حدودو اوفواصلو مشتمله وه ، دتاریخ ددلچسپو او حیرانو واقعاتو مرکز دی .

دآمو او اباسیند په مینځکښې هیواد چه جنوب ته ئې سمندر اوشمال ته ئې ددې ځمکې دغرونو دخورا لوی غرچه په دنیا کښې ترټولو سرلوړی شیز نشته ، د هغه څوکه (پامیر) ولاړه ده . دغه ملك په دنیا کښې تل همدغسی ټوټی ، ټوټی بی نومه ، اوکوچنی نه ؤ ، دوه زره کاله مخکښې هغه وخت چه یواځی دروما امپراطوری اودچین لویې پاد شاهیء دنیا خوځوله ؛ پورته ، دروم د قیصر اوښکته دچین نوم یادیدلو ؛ نوپه دغه وخت کښې نوره دنیا څنګه وه اود افغانستان څه حال ؤ ؟

دغه وخت په افغانستان باندې دکوشانی بادشاهانو دوره وه . دی دور دمسیحی عصر داولی پیړیء څخه تراتو سوو کالو پوری دوام درلود .

کوشانی عصر دافغانستان دخورا مسعودو ، نیکبختو او مترقی اعصارو څخه ګڼل کیږی . هغه وخت د لته یو متحد ، لوی ، قوی اودعلم ، فن او مملکته داری په

هغینو اساسونو استوار دولت موجود ؤ چه د روم او چین
د لویو حکومتو نو په مینځکښې ئې د اتصال د کړۍ حکم درلود .
او د دواړو سره ئې برابری او سیالی کوله . دوه زره کاله
لږه موده نه ده . دغو مره موده مخکښې چه هغه وخت
د موجوده وسایلو هیڅ نښه نه وه . د باختر ، کابل او
ننګرهار څخه د افغانستان موجوده ځمکه د هند د بنارس
او د چینی ترکستان په سنکیانګ کښې ختن او کاشغر او
د بلوچستان او د آمو د پورې غاړو او د خزر د سیند پورې
اداره کیدله ؛ او دا ملکونه په یوه کوشانی امپراطورۍ
کښې داخل وو . هغه وخت دلته طلائی سکه چلېد له چه
هم دلته ضرب کېده . زمونږ په هېواد کښې « دور یښمو
مشهوره لاره » د هغه وخت له یادګارو څخه ده په دغه
لیاره باندې د چین او هندوستان او وړاندی شرق تجارتی
کاروانونه د خپلو نفیسو تجارتی مالو سره روما او مغرب
ته تلل . دغه وخت افغانستان د مشرق او مغرب دتجا رت
او د اقتصادی چارو مرکز ؤ ، او ددینه معلومېږی چه
څومره به ودان او پور او معمور ؤ . یو وخت د افغانستان
د کوشانی دولت او د چین د خاقان په منځکښې د رقابت په
سبب بد بینی او سوءِ تفاهم پیښ شو ، خاقان خپل عسکر
د «پان چاو» چینی جنرال په قیادت د پامیر شرقی لمنو
( کاشغر او یارکند) ته چه د افغانستان په اداره کښې وو
سوق کړل . د افغانستان شهنشاه «ویما کد فیزس» د خپل
نائب السلطنه د فرمان لاندې چه (سی) نومېده د چین د تعرض
د ځواب په صورت اویا زره سپاره د پامیر د درو له خوا
اغلبا د واخان ، او تاشقرغان په لیاره ولیږل اګر چه

دلیاری مشکلاتو اوکغذا نشتوالی اوحیوانی او انسانی امراضو ، دوی وځپل اوپه دغه سبب ئې فتحه په نصیب نشوه ، اوتباه شول ، مګر دهغه وخت ددغه امپراطورۍ په عظمت او شوکت باندې د اواقعه پوره دلالت کوی .

ښه نو ، ددغې لویې امپراطورۍ مـو سس څوك او کوم قوم ؤ؟ د تاریخ دالویه واقعه څنګه پیښه شوه؟ او په دغه موده کښې ، پښتو او پښتنو څه حال درلود؟

ددغه پوښتنو ځوابونه د تاریخ په عبرتونو کښې په لاندې ډول ولولۍ، د تاریخ د علم ماهران وایی : چه پخوا (پوچی) نامی یوه قبیله وه چه دا قبیله د(تو ئن هوانګ) او (کی لین) په منځکښې او سید له چه دغه ځای دسر دریاب فرغانی او سنکیا نګ په حدو دو کښې دی . داځمکه د آریا یانو هیواد دی . پو چیا ن هم آریایان اوشر قیان دی . په دغه وخت کښې (هوانګ نو) یوه بله قبیله وه چه دپوچی قبیلې سره یی د ښمنی او عداوت درلود دغه قبیله له زیړو اقوامو او مغو لې نسل څخه وه . دلرغونو آریائی ټبرونو په شان پو چی قو م هم ډیرې پیړۍ د زیړو خلکو او زیړ پوټکو مغولو سره په تماس او تصادم کښې پاته شو یدی . دې جګړو او جنګونو دهغه وخته پوری دوام درلود چه څو د زمانی انقلاب او د«هیوانګ نویانو» فشار دوی هغه لیکی ته راوستل چه نورو ارو پائي قبائلو هم تعقیب کړې وه ، یعنی له خپل ځای او ټاټوبی څخه راوکوچیدل او د(ایلی) او(تارم) له رودو څخه تېر شول دسر دریا ب او آموسیند په منځنۍ منطقه کښې میشت شول . دغه وخت

د آمو دریاب په شمالي سواحلو او فرغاني کښې یو بل قوم اوسیدلو چه (اسکائي) یې باله .

یوچیانو اسکایان د آمو له شمالي غاړو څخه جنوبي غاړو ته وشړل . اوس راشيء بله خبره واورئ :

همدغه «هوانګ نو» مغولي قبیله چه یوچي اریائي قبیله باندې غالبه شوله او له ملکه ئې وایستله د چین دهغه وخت امپراطور (ووتي ۸۷ - ۱۴۰ ق م) سره ئې هم جنګ او جګړې درلودلې . ووتي دهیوانګ نو یانو له حملو او ضررو څخه په تنګ شو ؛ او په (۱۳۸ ق م) کښې ئي (چانګ کین) نامي دایلچي په صورت یوچیانو ته چه اصلا دهیوانګ نو یانو پخواني دښمنان وو ، ورولیږه او له هغو څخه ئې د هوانګ نو یانو په مقابل کښې مرسته وغوښته چانګ کین ایلچي د سفر په لاره کښې لس کاله د(هن یانو) په لاس کښې بندي پاته شو . چه خلاص شو ، ځان ئې فرغاني او سغدیانې ته د یوچي قوم کره راورساوه دغه وخت د آمو نه پورې غاړه د جنوب پلو ته په بدخشان او بلخ ( بکتر یانا) کښې یو قائم آباد ؤ ، چه خپل حکومت ئې درلود . دا قوم په (تاهیه) سره یاد یدو چه مرکز ئې (لان شي) ؤ چه اغلبا به په او سني بدخشان کښې وي ، چانګ کین ، یوچي او تاهیه دواړو قومونو ته ننواتي وکړه ، خو څوک د(ووتي) امپراطور کمک او مرستې ته حاضر نشول . وایي چه چانګ کین لومړی سیاح دی چه د چین په اصطلاح غربي ممالکو ته راغلی دی . او دده په قلم خورا مهم معلومات په تاریخ کښې پاته شویدی . اوس باید بیرته ولاړ شو او د اسکایانو له حاله ځان خبر کړو چه دوی د یوچیانو له لاسه د آمو له شمالي غاړو څخه

جنوبي خوا ؤ (باختر) ته راغلل تودلته ئې ځه وکړل ؟

د۱۳۵ ق ،م پورې چه لا پوچیان د آمو په شمال کښې وو، او اسکایانو ددوی له لاسه د آمو جنوب ته هجرت وکړ، نو دهندوکش په شمالي کښې ئې د باختري یونیانو بادشاهانو نفوذ چه «دیو کراتیدس» او (هیلو کلس) هم په دې حمله کښې دی لتاړ کړ. اود (تاهیا) - یا - (داهیه) سره چه دیونانی مورخانو په وینا (تخاورا) ده، ګلهشول او تر اوسه ئې لاداسکائی سلطنت اساس نه ؤ اینښی چه دشاله خوا ورپسې دیوچیانو فشار زیات شو، په دغه واسطه سره اسکایان تر یوه حده د باختر د هوار و صفحاتو په مخ دهندوکش دلوړی اود آمو دریاب دجریان د خط په منځکښې دغرب خواته ولاړل، اودیوی سلسلې جنګونو څخه وروسته چه د« پارتیانو» سره ئې وکړل سا کستانیا (سیتان) اوله هغه ځایه «ارا کوزی» یعنی کندهار ته راغلل او بیا دانهوس دلتائی ته ورښکته شول، دیونان کلاسیك تاریخ لیکونکی وائی چه کوم وخت په باختر حمله وشوه اود یونانیانو لاس ئې له هغه ځایه پرېکړ، په دغه حمله کښې (۱۴۰ - ۱۳۰ ق،م) ازیو، پازیو ن وا، تخاورا، ساکارا او نورو قومونو ګډون درلود. ✲

دیوچیانو دغه فشار چه داسکایانو پسې موجود وو،

---

✲ سکائی - اسکائی - سهاك لکه چه یوشی دی. او دا لکه چه هماغه قوم دی چه دغوریانو نیکونه دی داخبره هغه وخت به زړه کښې لا کلکه کښېنی چه سړی به تاریخ کښې اولی چه سکائی او ساکی ژبه پښتوته نږدې یوه ژبه وه. «خادم»

اوپورته يادشو ، لږ وروسته كـلك شو ، اود (۷۰ ق، م) په‌خوا وشا كښې يوچيان له‌آمو دريا به راپورېو اته ، اود (تاهيانو ـ يا ـ تخاريانو ) په‌كومك ئې چه د دوی سره متحد يادوی دنفوذ تابع شوی وو ، په‌باختر كښې نفوذ پيدا كړ . ترديې وروسته يوچی اوتخار ـ يو د بل مترادف شول مخصو صاهند ی مو رخينو او څو تنو مستشرقينو «يوچی»او«تخار» يو شی بللی دی. وايـی چه مخكښې تردی چه يوچيان دآمو جنوب ته راپوری وځی تاهيانو چه يو تجارت پيشه اومتمدن قوم ؤ ورسـره موده ديوچيانو سره، همسايګی تـنګ راتـنګ، ور كړه راكړه، اومناسبات درلودل. نوپه دغه شان‌سره يوچيان ورو، وروله آمو دريابه را پور يوتل اود «تا هيا نـو: تخاريانو» په منځكښې ميشت شول، او ددوی سره يې دوستی او خو يښی قايمه كړه ، او په دغه تـر تـيب سره د باختر علاقی ددوی په لاس ورغلی .-

قصه دا سی ده چه د يو چيا نو له ر اپو ريو تو څخـه مخـكښې دآ مـو جـنـو بـی غـا ړ و تـه د بد خشا ن او باختر په علاقو كښی د تاهيانو پنځه امارته مو جود وو . كوم وخت چه يوچيان راپوريوتل اوپـه دی ځمكو ئی قبضه وكړه نوداپنځه‌امارتونه ددوی د امر لاندی اداره كيدل . ددغو پنځو امارتونونومونه‌دادی.

هيومی چه پايتختـ يې(هيومو) دی شو ا نـګك می چه پايتخت يی «شوانګك مې» دی . (كوی شوانګك) چه پای تخت يی (هوقسا)دی . هيتون چه پايتخت يی(يوماو)دی كاوفو چه پايتخت يـی هم (كـاو فـو) ذكـر شوی دی.

دمدققینو دوینا له مخې دغه پنځه حکمرانۍ ء، په واخان بدخشان، بکتریان (بلخ) نورستان، پروان او کابل کښې وی. په هره علاقه کښې یو امیر یاحکمران چه (هی هو) به یې باله موجودو؛ دچین مشهور تاریخ لیکو نکی (هوهان شو) لیکی چه سل کاله وروسته ددغو پنځو برخو در ئیسانو څخه یو یعنی (کوی شانګګ هی هو ٭)چه (کیو تیسو- کیو) نومیدو نور څلور رئیسان دځان تابع کړل او پخپله یې ځان ته دپادشاه نوم ورکاته، اودخپل سلطنت نوم یې (کوی شوانګګ یعنی کوشان) کښېښود.

له دغه تاریخه وروسته زمونږ په ملك کښې د(یوچی) دکلمې ځای (کوشانی) ونیو په دغه شان سره هرکله چه دآریانا یعنی (پښتیانا) لرغونی افغانستان کوشانی قبائل په خپل منځکښې د«کیو تسیو کیو» نامی (کوی شا نګګ هی هو) یعنی کوشانی رئیس داداری لاندی متحد شول نو نور شمالی قبایل هم ورسره یوشول، او هغه سدچه له ۱۳۰ ق م څخه راهی خوا دیونانو باختری شاهانو ددوی په مقابل کښې دروله وله منځه واخیست او تر پخوا زیات دغرب او مخصوصاً دآریانا جنوب ته را خپاره شول په دی ځای کښې چینی منابع داسې وایی چه کوزولو (دکوشانیانو لمړنی بادشاه) پارتیا (نکانسی) کابل (کاوفو) او کاپیسا (کی پن) ونیول نو ور وسته بیا په یوتایانو چه دغزنی په خوا وشا کښې پراته وو هم غالب شو.

---

٭ کوی شوانګګ هی هو - یعنی دکوی شوانګګ باچا. کوی شوانګګ اغلباً دبلخ دعلاقی نوم دی. (خ)

واله دوپوسن فرانسوی لیکی چه (پوتا) باید په (پښتو) یا (پوختو) مقایسه شی . (۱)

زمونږ دوطن فاضل مورخ احمد علی کهزاد وایی: حقیقتا دفرانسوی مورخ اشاره بیځا یه نه ده ځکه چه پښتا نه قبائل عموماً دهندو کښ په جنوب کښی اوسیدل اوهیڅ شك نشته چه دکوشانیانو سره به ئی دغزنی په خوا وشا کښې مقابلې کړی وی» کوم وخت چه یوچیان یا کـه پـه صـر احـت سره ووایـو کـوشا نـیـا ن دهغه وخت دآریا نا او دا وس محاورې په لحاظ دافغانستان په شمال کښی خپاره شول نو دهندو کښ په جنوب اود کابل اوکا پیسا په خوا وشا کښې یونیان ، په اراکوزی کښې پهلوایان (۲) اودانهوس په حوزه کښی اسکایان میشت وو .

دهغه فشار په واسطه چه دشمال جنوب غرب او نمر خاته له خوا حس کیدو یونانیانو بیخی مخه پریښوده او کابل هم دارا کوزی د پهلوا یانو په لاس کښیوت او (کجولاکد فیزس) هماغه «کوزولو» دکوشانیانو لومړنی پادشاه دکابل ځکه له (گندو فارنس) مشهور یونانی بادشاه څخه واخسته ، په دغه کارسره دکوشانیانو نفوذ

---

(۱) پوتا باید دپښت او پـښکت دلوی قر پوه پښه یا قبیله وی ځکه چه دپښت او پکت تر لمنی لاندی کـوشا نی ، سـکا ئی ، پارتی او نور ډیر اقوام راتلی شی .

---

(۲) پهلوایان هم پهتیان یا پکـتیان دی . ( افغانستان بیك نظر دغبار تالیف )

پهٔ توله آریانا (پښتیانا) کښې قائم شو . تردهٔ وروسته دده زوی (۱) (ویما کد فیزس) دهند فتوحات و کړل او د «لوی کـنشکا» اودده خلیفه ګانو پهٔ وخت کښې دکوشانی امپراطورئ نفوذ دهند پهٔ پراخه سیمه کښې تر بنارس او پښې پوری دګـنګا پهٔ غاړو کښې ، اود تارم د سیند دحوضې پورې بهٔ چینی ترکستان کښې پراختیا موندی .

دتاریخ مدققین وائی د(کوشان) دکلمې اصل د هغو توکو تلفظونو او لهجو دملا حظې سره چه پهٔ دې کښې موجودې دی ، کوشی او مـبدأ ئـې ( سیتی ) د ه سیتی دآریائې قبایلو خانـګه ده چه (اسکائی) ئې هم جـز دی نو( کوشی) مفرد اوجمع ئې ( کوشانو) ده .(۲)

---

(۱) د(ویما) شرحه مورخینو نهٔده کړی . خوداسی معلومېږی چه (ویما) هماغه دقدیم بخدی (یاما ـ نیمه ـ هوما ) شاهی لقب دی چه کوشانیانو هم افتخاراً قبول کړی وٌ . لـکه نن چهٔ دابران اوافغانستان بادشاهان پهٔ همایونی فخر کوی . همایون د (هوما + یون ) څخه جوړ دی . ( هوما ) یو مرغه وٌ چه تاج ئی دجمشید (یاما ـ ویما ) پهٔ سر ایښی وٌ . اودکوم مشروب نوم هم وٌ ، او(یون) اوس هم پهٔ پښتو کښې تـګک تهٔوائی . (هما) اوس هم یو خیالی مرغه دی . وروسته (همایون) دمتبرك اومقدس پهٔ معنی تراوسه پاتی شوی دی .

۲۶ دحوت ۱۳۳۷ «خادم»

---

(۲) دتاریخ پهٔدی صراحت باندی سیتی هم پښتانهٔ کېږی . او پهٔ دی تعجب نهٔدی پهٔ کار ، ځکه چهٔ دپښتنو تاریخ تراوسه خپله د پښتنو پهٔ لاس نهٔدی تدوین شوی اوچه دا کار وشی داسی ډیر عجایبات بـه راووځی او دتاریخ دېری غوټی بهٔ پرانستل شی - ۲۶ دحوت ۱۳۳۷ (خ)

(کوشانی) دهمدې کلمې نه جوړ شوی صورت دی چه په مسکن دلالت کوی . ښاغلی کهزاد وائي: «اصل کلمه (کوشی) ده چه په کومه قبیله ئی دلالت کاوه . د غه قبیلې ته چینیانو (یوچی) ویلې دې .» دغه کلمه بیا دجمعې په وخت کښې (کوشانو) شویده ، او دظرفیت په وخت کښې (کوشانا) ګرځیدلې ده . لکه آریانا ، ساکتاتا ، بکتریانا اوداسې نور . وروسته ئي بیا په ټولو هغو قبائلو اطلاق کیدو چه دکوشی قبیلې بادشاه دځان تابع کړی وو ، دلته باید دومره توضیح وکړ ی شی چه (نا) لاحقه ، دپښتو ګرامر په قانون ظرفیه لاحقه ده ، چه کوم وخت په اسماؤ پوری ولګیږی نوظری مکان تری جوړوی ، اوداستو ګنې په ځای د لالت کوی . لکه (آریانا ، بکتریانا ، پکتیانا ، پښتیانا ، لودیالا ، او داسې نور) چه دغه ټولی کلمې دظرف د پاره دی او دسکونت پر ځای ئي اطلاق کیږی . یعنی دآریا ، بکت ، پکت پښت اولودی قوم داوسیدلو ځای یاسیمه . نو «کوشانا» د «کوشی» قوم وطن یاهیواد معنی ورکوی ، چه دپښتو ژ بې دقانون په اساس ساز شوی لفظ دی . همدغه (نا) لاحقه (نه) هم استعما لیږی لکه آریانه ، لو دیانه ، پښتیانه او نور . په ځینې محاورو کښې (ن) په (ڼ) هم بدلیږی لکه (خوږ یاڼه دخوږو ځای) یا (وښیاڼه دوښو ځای) یا (پښتیاڼه دپښتنو ځای) خوږ یاڼی ، پکتیانی ، پښتیانی په (ن) یا (ڼ) او ملیښه: (ی) سره دهمدغه ظرفی کلمو څخه جوړ شوی نسبتی صفت یااسم منسوب دی ، هر کله چه منسوب اسم دمکان داسماؤ څخه جوړیږی

لـکه کابلی له کـا بل او پیښو ری لـه پیښو ر څخـه ؛ نوخو ټکیانی ضرور له (خو ټکیانه) څخه جوړ شو یدی . اودغسی نور هم‌واخله . نو که (نا) یا(نه) لاحقه له پښتو ژبی څخه پر ته په نورو ژبو کښی دظرفیت لاحقه استعمال شوی‌وی ، نودا دپښتو تاثیر دی په نورو ژبو .

دافغانستان په تاریخ کښې لیکل شوی‌دی چه دکوشانیانو دژبی په متعلق که‌څه هم تر اوسه داطمینان وړ تحقیقات نه‌دی شوی. سره ددې هم په هغه کښې چه په‌دې باب څه لیکل شو یدی ذکر ئې له فائدی خالی نه‌دی ؛ اروپائی مدقیقینودی ژ بی ته چا(شمالی آریائی) ژبه ویلی ده .

فرانسوی فضلاؤ (شرقی ایرانی) بللی ده . چاور ته اسکائی ژبه ویلی‌ده .

ښاغلی کهزاد دشرقی ایرانی لفظ په‌حاشیه کښې لیکلی دی‌چه «دشرقی‌ایران‌څخه مطلب‌دباختری‌ژبو یوه لهجه‌ده» دی وایی : «په هرصورت دکوشانیانو ژبه ددوی دبا د شاهانو په کـتیبو ، او مسکو کاتو کښی په‌کار شویده. اوددې جملی نه چه «شاؤنانو شاؤکـنشکی کوشانو» یعنی «کـنشکا دکو شانیانو لوی بادشاه» څخه په‌ښه شان سره معلومېږی چه‌دغه ژبه دهغو ژبو دکهول څخه یو شاخ دی‌چه (ایرانی ئې بولی ) پورته عبارت د کـنشکا لو ی کوشانی امپراطور په مسکوکاتو باندې لیکلی میندل شوی‌دی . داجمله دکو شانیانو دخپلی محلی ژبی‌څخه په‌سکه باندې‌ضرب‌شوېده .»

که څه هم دکوشانیانو په مسکو کاتو او کتیبو کښې یونانی ✿ سانکریت اوپراکریت ژبی هم استعمال شویدی خوخپله محلی ژبه هم لیکل شویده . لکه په پورته ووډل سکو باندې . اوس به وګورو چه دغه پورته کلمات دکو می ژ بی دی : (شاؤ) کلمه چه په لاتینی خط باندې باید (SHAO) ولیکل شی . کتهٔ متهٔ اوس په مروجه پښتو کښې موجوده ده (شاؤ) مونږ دواده خاوند یاز دناوی شاؤ یعنی (شاه عروس) ته وایو . نو په پښتو کښې شاؤ)د(شاه) په معنی پاته شوی راغلی دی ، مګر دومره ده چه (دمملکت دباد شاه) نه (د ووکی شاه) ته رانقل شویدی .

اوالبته په دوه زره کاله کښې خودغه کلمی ویرلږ سفر کړی اوله خپل ځایه لږه خوځیدلی ده ، چه په هیڅ حساب کښې نه راځی ، نوګویا (دشاؤ) کلمه که له یوی خوا (د«پارسی» (شاه) ته نژدی ده نوله بلی خوا د«پښتو» د(شاؤ) سره په لفظ کښې عینا یوشی دی ، اوخپل اصلیت ئی ساتلی دی .

راغلو (نانو) ته ، (نانا) اوس هم په وزیرستان کښې په خپل صورت سره استعمال دی .(نانه) یا(نانا) دوزیرستان

---

✿ پراکریت : دوه جزه لری . پرا یعنی بر دی . کریت : یعنی کړت خبره ، پراکریت یعنی بردیزه ژبه . پښتنو په خپله پښتنو ژبه پراکریت هغه ژبی ته ویلی دی چه د هند دلهجو څخه اریانا ته راغلی وه . هغه ژبه هم نه وه مطلقی (کړتی) وې . نو معلوم هېږی چه به تار یخی افغانستان کښې پښتو ژبه ډیره پخوا رائجه باتی ده ان تر اوسه

۲۶ دحوت ۱۳۳۷ « خادم کابل »

پښتانه سپین ږیری، محترم ، پلار او محبوب مشر ته وائی. زمونږ تاجك ورونږه اوس هم مور ته (ننه) و ائی چه دوزیرستان دپښتو کلمی سره لفظاً او معناً شباهت لری. دکندهار او باجوړ دپښتنو په اصطلاح (نانی) ښکلی، محبوب اوظریف شیز، حیوان یا کو چنی ته وائی. همدا لفظ وروسته په ځینی پښتو محاورو کښی لکه دکنړ محاوره (لالی) شوی دی. چه په معنی د(نازولی) راځی، اوهیڅ بعیده نه ده چه د(لالا) دمشر و رور دلقب مبدأ هم نانا وی.

دپښتو په ادبیاتو کښی (لالی) معشوق، او محبوب ته ویل کیږی: لکه «ګلان له خاور و پیدا کیږی - ځما لالی تر ګل ښایسته خاوروله ځینه.» نو په دی ټولو محاورو او استعمالاتو کښی دلویی، مشری او حرمت معنی پرته ده نو معلومه شوه چه نانو په اصل کښی د(لوی) په معنی پښتو کلمه ده اوهیڅ شك نشته چه پخپله (لوی) د نانو څخه (نوی) او بیا وروسته (لو ی) شو ی وی. نو د( شا نانو شا ؤ) معنی دا ده (باد شا لوی باد شاه) «شهنشاه» یا «د باد شاهانو پادشاه» اوس نو انصاف په کاردی چه آیا داجمله پښتو نه ده.؟ یاته شوه داخبره چه ځینی مستشرقینو دکوشانیانو ژبه (شرقی ایرانی) یاښاغلی کهزاد د«باختری ژبو یوه لهجه» بللی ده. دا خبره هم په دی لحاظ صحیح ده چه اوس هم زمونږ ځینی فاضل لیکوال ☆ پښتو ته لهجه اودایرانی ژبو ښاخ وائی، دغه فاضلان ورونږه په جغرافیائی لحاظ افغانستان دایران

---

☆ د اهغه کسان دی چه په پښتو نه پوهیږی. «خادم»

په فلات کښې راولي . مګر څنګه چه د فاضل ( کهزاد )
تاریخي څیړنو ثابته کړېده چه بلخ ، باختر یا کـتر ،
یا کـتر یا نا ـ پـکت او پښت ته په ډېرې آسانۍ را جع
کېدی شي ، نو باختر د پښتنو ټاټوبی او مهبط ګڼل کیږی
او دا به ډېر ژر واضح شي چه پښتو لهجه او ښاخ دی
که د ډېرو ژبو مور او بنسټ ـ ! په آخره کښې د یادداشت
په صورت دا خبره هم دلیکلو وړ ګڼم چه ښاغلی کهزاد
د ( پوچي ) او ( کوشي ) کـلمو په منځ کښې تناسب او
ارتباط ته اشاره کړیده ، خودوه احتماله نور هم شته
چه یوئې د « کوشي » او « کوچي » فلالو جیکل نزدیوالی ،
او یور نـګـي ده . او بله داچه که « شوا نـګـمي » یا کوئې
شوا نـګ ـ دافغانستان په شمالي برخو کښې د کوم ځای
نوم ؤ ، لـکه مخکښې چه تیر شو نو ( کوی شا نـګ هی هو )
ددغه ځای در ئیس په معنی کېږی ، ؟ نه د ( کو شا نیا نو
رئیس ) په معنی نو په دې صورن کښې ( کوشا ن ) کـلمه
د ( کوی شا نـګ ) څخه ماخوذه شوی ، په آسانی سره
فـکر ته را تلی شي .
نو په دې نتیجه کښې به ( کوشانا ) دافغانستان خپله بومـي
او وطني کلمه شي . او په اول صورت کښې چه ( کوشي ) او
( کوچي ) کلمې یو تر بله ماخوذې اوجوړې شوې و بللې
شي ، نو هر کله چه کوچي خلك اوس هم زمونږ په ملـك
کښې په لـکو نـو د خپلو کیږدیو او مالو نو سره ښکته پورته
کېږی ، نو بیا داخبره چه پوچي قوم آریـایی قـوم دی
ټیك ده مګر دا چه د تارم دسیند له غاړو څخه دلته راغلی دی
د ډېر غـور او تعمق وړده .

داچه ځینی محققینو پوچی او کوشی یوشی ګڼلی دی
او کوشی یی دسیتی ماخذ نه ماخوذه کلمه حساب کړیده
اوسیستی ته ئی آریائی قبیله ویلی ده چه اسکا ئی یی
هم جزء دی او پهدغه شان ځینی نورو مورخینو تا هیه
یاداهیه او تخاورایو ګڼلی دی او ځینی نورو پوچی
او تخار ته مترادفی کلمی ویلی دی ، اووائی چه ددوی
حکومت ډیر پخوا دلته موجود ؤ او خپل قدیم تمدن یی
درلود ، لکه چه دغه خبری له همدې مقالی څخه
معلومیږی نو په دغه شان پهزغرده سړی ویلی شی چه
داتوړل نومونه دهمدې خاوری دبومی او سید و نکو
دپاره استعمال شوی دی چه پښتانه دی .

✻✻✻✻

# د ټولې نړۍ حکومت

هیڅوك ددې پوښتنې پوره ځواب نشي ورکولای چه انسان ددنیا په مخ څه وخت پیدا شویدی . مګر دا خبره دټولو انسانانو په نز منلې ده ، چه ټول و ګړی د هغه یو پلار زامن او ځوزات دی ، چه بابا آدم ورته وایو . او ددینه هم هیڅوك انکار نشي کولای چه دا ځمکه او دا نړۍ د بابا آدم داولاد مشترك میراث دی چه هر یو پکښې حق او برخه لری . ددینه هم ددنیا پوه خلك خبر دی ، او ټکا مل اعتراف ورباندې کوی چه د انسان د مشکلاتو اکثره او مهمه برخه هغه څه دی چه انسان ته د انسان له لاسه پیښیږی . په تیرو هغو مره عمر و نو او پیړیو کښې چه د تاریخ او د بشریت په حافظه کښې هم لا پوره نه ځائیږی انسان د انسان له لاسه څومره تکالیف آلام او مصائب لیدلې او ګاللې دی !

جګړی ، جنګو نه ، رنګارنګ قتلونه ، او مرګونه ، د تعذیب او درد رسولو عجیب او غریب قسمونه ؛ ظلمونه ، تعدی ګانی ، په بنده او مرلې نیول او انسان دسافلو حیوانا تو له درجې څخه هم ټیټ ساتل څومره مدهش وختونه او اوږده دردونه وو ، چه بدبخت انسان وزغمل !

چه ددغو مراحلو اخرینه مرحله داستعمار او استعباد دوره ده چه د نیائې لاله مخوس سیوری نده خلاصه !

په دغو ټولو تیرو اعصارو کښې هروخت داسې بشاغلي افراد موجود وو ، چه په سینو کښې ئې د انسانیت د پسا ره

خوږمن زړونه لرل. دوی ء چه د بابا آدم داولاددا مشکلات لېدل او کتل زښت ډېر به پخسیدل او سخت به نا رامه کېدل د هغو پاکو ضمیرو نو به دوی ء په دې خبره وادارول چه دخپل ژوند ټولـه دعیش اوراحت پـنګـه دخلکو او ګړ و د نجات اوخلاصون دپاره وقف کړی !-

فکر و کړی؛ ریاضت و کړی، ولږی تندی وګالی؛ چه خو دقدرت له کارخانې څخه څه داسی نسخه پیدا کاندی چه دانسان ددغه خلقی اوروحی امر اضو دپاره دوا او علاج وی !- هر کله چه دوخت او زمان په مقتضا دغسی نسخه پیدا شوېده، نودغه مریض چه ناپوهه او متمرد ؤ له خوړلو څخه به یې ابا کوله. په دغه وخت کښی بیا همدغه شاغلی افراد خاص دانسانیت او حق پـه مـینه راپاڅیدلی دی، اودایثار اوقربانیء مـیدان ته راګـډ شوی دی، چه دغه شفا ښو نکی دارو په دغـه سر کښ او لېو نی ناروغه باندی په هر ترتیب چه وی وخښی !- ولو که پخپله په دغه منځکښې مړه، محوه او نابود هم شی !!!

له یوی خوا په دنیا کښې دغسی ظالمان متجاوزین، خودغرضان اومفسدان تېر شوی دی، او تېر یږی. اوله بلی خوادغسی الوالعزم انبیاء، علماء، مصلحین او مجاهدین راغلی دی، اوداتوره تیاره دنیا ددوی دقوی روحانیت په رڼا روښانه اومنوره شوېده. دادانسان لویه بدبختی اودالهی نعمتو نو کفران دی چه دغسی کار نا موته یـې دغرض تاویلو نه پېدا کړی دی :

په قرآن کریم کښی د(یاایهناس: ای وګړو!)خطاب د بشر نوعی ته دی. معنی یې داده چه ای د بابا آدم اولادو!-

داسې خطابونه په قرآن مجید کښې ډېر ډېر ځله راغلي دي. اوټول انسان یوې پاکې عقیدې، بېغرضه عمل او واحد نظام ته دعوت شوي دي. دقرآن ددغسې مقدسو خطابونو یو مثال دادی :

(یاایهاالناس اعبدوا ربکم الذی خلقکم والذین من قبلکم، لعلکم تتقون الذی جعل لکم الارض فراشا والسماء بناءً وانزل من السماء ماءً فاخرج به من الثمرات رزقالکم، فلاتجعلو الله انداداً وانتم تعلمون.)

یعنې ای وګړو! دهغه یوخدای عبادت وکړئ چه تاسو اوتاسونه مخکښې خلك ئې پیدا کړي دي؛ بویه چه تاسې ووېرېږئ له هغو ذاته چه ځمکه یې تاسوته فرش اوآسمان ئې درته څیب ګرځولی دی. اوله آسمانه ئې اوبه رانښکته کړې دي، اوبیائې په دغو اوبو سره درته دمیوو روزي راایستلې ده. نودخدای دپاره شریکان مه جوړوئ، په داسې حال کښې چه پوهیږئ هم!

په تېرو قرونو کښې دغسې مقدس اوبېغرضه پیغامونه رالېږل شوي او اورول شوي دي. انسانانو ځینو منلي اوځینو رد کړي دي. چاددغسې پاکو پیغامونو سره اغراض یوځای کړي، اوککړ کړي ئې دي. مدعاداچه دځه دپاره دغه بې الائشه پیغامونه رااستول شوي وو انسان ور نه هغه فائده نده اخستې. په اصل کښې لویه غایه او هدف داؤ چه دنیایونظام اوواحد حکومت ته ورسیږي. په دغه ډول ډېرو فداکاریو دنیادغه مرحلې ته ورسېده چه دټولې نړۍ دحکومت بنیاد کښېږدي. داهغه ایدیال دی چه ددنیا ډېرو لویو لویو کسانو او زمونږ اسلا فو او لار

ښوونکو په زړه کښې ئرلود، او دنیا ور باندی زموږ په عصر کښې موفقه شوه. د اول ځل د نیائي حکومت نقشه داغراضو په ورګډېدلو ناکامه شوه، او دملتو نو جامعه ټوټې ټوټې شوه، او دنیا اور واخیست. دادوهم ځل دی چه د«یو نو» په نامه د دنیاد مخ وګړی د«عالمی فیډریشن» د بنیاد تېره بډی. یو نو دجامعه ملـل پـه نسبت قوی او ټینګه موسسه معلومیږي. داوار انسان له اول ځل نـه تربیه شوی، اولږښه شوی کتل کېږی. اګـر چه دغرض لاسونه اوس هم په یونو کښې ښکاری چه فعا لیت کوی ولی داپېره دمشرق روحانی قوه چه لږ په پښو دربدلی ده دیونو په خوا ده، اوهیله ده چه دبابا آدم داولاد دا بېړۍ به پړی نږدی چه داغراضوطوفانونه ئې نسکوره کړی. انسان بیځایه غرور، تجملا تو عیاشۍ او فضول خرڅۍ خراب کړی، او همدغه سخـیف افـکار دی چه داستعمار بنسټ ئې کلک کړی دی. که انسان دخپل ژوند دمایحتاج اندازه وپېژنی، اوځان دنورو پـه زحمت او تکلیف اومرګ، درد هوسا کول ونه غواړی، او دفطرة دقانون په اندازه هـرڅوك کـار وکـړی، او دفـطری استعدادونو مخه په زور، ظلم ونه نیول شی، او دآغائي اوباداریٔ فکر دجنون له حده راټیټ شی اوخلك دحب ذات افراطی خیال لږ اصلاح کاندی. نو اوس دنیا دیو لوی عالمی حکومت دپاره ترډېره حده مساعده شویده. له یو نو څخه زموږ لوی خواهش دادی چه «یو نـو باید دسیاسیونو داجتماع مرکز نه بلکه دانسانیت دخیر خواهانو ټولنه وی.» ترڅوچه سیاست اواخلاق په دنیا

کښې دوه جلا څیزونه ګڼل کېږي ، ډېره مشکله ده چه
داکښتي له طوفانه په امان شي، استعماري خواهشات
هره ورځ نوي چالونه سنجوي او غواړي چه واړه ملتونه د خپلو
اغراضو د پاره آله وګرځوي، استعمال ئې کاندي . او
دوی تري استفاده وکي . په تیرو څو کالو کښې د ایشیائي
او افریقائي ګروپ فعالیت دیونو په فایده تمام شوی دی.
او د دنیا بیطرفه دولتونه چه د شرق او غرب له بلاکو څخه
دباندي پاته دي تر ډېره حده د دوی په واسطه د جنګ
احتمالات له منځه لرې کړی شوی دی . د باندونګ
کنفرانس او د هغه تصاویبو دنیا نوی ټاپی ته رارسولی
ده . اوس هغه بدګمانۍ چه څو موده مخکښې د دنیا
د خلکو په منځکښې موجودې وې لرې شوي دي . دیونو
تر ټولو لویه وظیفه د جنګ او مسلح اقداماتو مخه نیول
او د بشري حقوقو تعمیم او نګرانی ده . یونو په دغه لیاره
کښې نا کامه نه ده . مګر په دنیا کښې ډېر ملتونه او افراد
اوس هم د حیات نه د پوره استفادي څخه محروم دي .
دا د یونو وظیفه ده چه ځان دا انسانیت له دردونو څخه خبر
کاندې او چاره ئې وسنجوي . مونږ عقیده لرو چه ،
هر څومره دیموکراسي په دنیا کښې قوي کیږي هغومره
د جنګ احتمالات کمېږي؛ او د مفاهمې حس قوة مومي .
عامه آراء هیڅکله د هجوم او مقاتلې طرفدار نه دی .
خلک پر امنه ژوند کول غواړي ، نه مرګونه او قتال .
دا په دنیا کښې ځینې افراد دي ، چه د خپلو اغراضو د پاره
خلک ډاروي ، اوهام او دهشت خپروي ، او خلک یو تر بله
په جنګ اچوي . که انسان پوره تول او سنجش وکړي

کومه ګټه چه مغرضان ئې په جنګ حاصلول غواړي ،
که د جنګ دزمانی هومره انرجی او اقتصادی قوّت په
صلحه کښې په کار واچول شی زیاته استفاده به وکاندې.
زمونږ دشرقیانو په عقیده جنګ دآزادۍ او حریت
دحصول نه پرته دبل هیڅ مرام دپاره جائز نه دی. نو که
خوك و نه غواړی چه دچا بادار شی ، نو بل به څنګه غلام
شی . او که غلام دغلامۍ ژوند له مرګه بتر و نه ګڼی ،
نو کله توره رااخلی ! که یو نور ښتیا دنیاوی او انسانی
موسسه وی نو خپله دروازه دې دټولو دا خلیدو نکو
دولتو دپاره بیرته پرېږدی . مونږ عقیده لرو چه ټوله
دنیا یوه عائله کېدلای شی . نن دبشریت دخیر خواهانو
دپاره ښه زمینه تیاره ده !!!»

✡ ✡ ✡

# آیا د جنګ مخنیوی ممکن دی؟

آیا عمومي صلحه په دنیا کښې ممکنه ده که یه! او جنګ له دنیا ورك کولای شو که یه! ددې سوال دځواب دپاره دوه لیاری موجودی دی! یوه داچه جنګ ددوه طرفو په منځکښې دځه دپاره کیږی. که سړی هر بحث ته خوشی طول نه ور کوی او انسانی فطرت او تاریخ ته راجع شی، نوور نه معلومه به شی چه جنګونه په مفاد او دمفاد په تصادم باندې کیږی؛ دا سلسله په ټولو حیواناتو کښې جاری او ساری ده، دجاه طلبی، او نورو قسمونو په جنګونو کښې هم چه وسپړلی شی مفاد موجود وی نو دلته یوه داحتیاج او دحیات دادامی مسئله ده، او بله دجاه طلبیء؛ او دحیات دسوئی دلوړ والی موضوع ده. دادویمه خبره که سړی لږ شانی د دنیا له سیلا به سررا بهر کاندې او آزادانه فکر وکړی شی، ښه پره بیغمی خبره ده ځکه هر څوم ره چه انسان خپله سویه لوړوی او استراحت طلب کیږی، قدرت ور باندی په قهر کیږی، او له دغسی خلکو څخه دحیات جمال او جلال اودژوند مزه اوخوند، لطف او کیف اخلی لږ تعمق په کاردی، دښارونو او اطرافو دخلکو دژوند په اعماقو او نفسانی کیفیاتو کښې ننوتل په کاردی، دتاجرانو، ښاریانو اوداصحاب اقتدار ژوند خو رنګین ضرور دی. مګر پر کیفه، پرقوته، مطمئن او معنیدارانه دی. دتاجر، مامور، اوښاری غوړ خوراك ده ته دومره خوند او فایده نشی ورکولای، لکه یودهقان، کاسب،

مالدار او آزاد کار والاته دهغه ساده او آزادانه ژوند.
په دې خبره کښې شك نه دی په کار، احصا ئیو او دنن دنیاسا ئینټیفیك تجربو ثابته کړیده چه له تا جرانو، ماموړانو او ښاریانو څخه داطرافیانو، دهقانانو او مالدارانو صحتونه قوی، بدنونه ښکلی، او عمرونه اوږده وی .

نودغه تجملات، وراسته مدنیتونه اودحیات دسو ئی غیرفطری لوړوالی اوجاه طلبی چه نن انسانورباندی مصردی، آیاچټی عبث او بی معنی خبره نده .

اوس به راشودانسان احتیاج اودحیات دادامی مسئلی ته! دحیات ادامه اوله حیاته په طبیعی لطف اخستو کښې دغومره بیځایه تجملاتو ته چه تهیه او راغونډول ئې دانسانانو ټول راحت او اطمینان له منځه وړی او ملا ئې ماتوی څه ضرورت دی؟ ساده کور، ساده طبیعی مقوی غذا، صافه هوا، رڼا او به آزادانه کار، سپیڅلی زړه دکار او استراحت توازن، په دی صورت کښې چه حرص اوجاه طلبی له ژونده لری کړای شی، هرچا ته په آسانی ممکن دی. نوپه دی حال کښې چه دساده اوطبیعی ژوند سامان هرچا ته مهیا کړای شی او دانسانیت سره په دې لیار کښې کومك وکړای شی اود بیځایه جاه طلبی ؛ اوغیر طبیعی تجملاتو بنیاد چه د استعمار او استثمار اساس دی له منځه وایستل شی لکه چه په دی لیاره کښې نن صبا دمتحدو او ملګرو ملتو انجمن کوشش کوی ،
اوتر ډیره حده کامیابی یی حاصله کړیدد ، نو بیا د جنګك اوجګړو او دملتونو دنښتو او مشت وګریوان کید و

اسباب اوعلل ډیر محدود کیږی . اوچه کوم شی محدود کیدای شی . نوداخبره عقل ته ډیره نژدی ده چه همدغه شی دې چور ورك کړای شی .

فرض به کړو چه مونږ جنګ چور منع نه کړای شو ، اومحدود ئی کړو ، نودا به ګوندی وړه خبره وی . داهم په خپل ځای کښې ډیره غټه خبره ده ، اودانسانیت مرام حاصلولی شی . مثلا وګوریځ . انسان تراوسه دسل دمرض په شافی علاج کامیاب شوی نه دی مګرپه مختلفو ذریعو کولی شی چه دسل جراثیم محدوداومنجمد کاندی . اوپه دغه صورت سره دسل مریض دنور وانسانانو غوندې خپل ژوندادامه کولی شی ؛ اودسل دمرض سرایت اودتعدی مخه هم نیول کیدای شی ، اودا کارپه دنیا کښې شوی دی .

نوپه دغه شان سره که مونږ موفق شو چه دجنګ دا اوره را ټنګه اومحدوده کړو ، او دهغه له ضرر او تعدیته جلوګیری وکړای شو ، نودابه دانسانیت دپاره خومره لوی خدمت وی ، اوحقیقةً په دې تیر وخت اوکښی ددنیاد مخ تجربی وشوده چه دمتحده مللو انجمن په دې لیار کښی اطمینان بخش موفقیت حاصل کړی دی !

دملګرو ملتو ټولنی وکولی شول چه داروپا دجنګ دپیښیدو مخه ونیسی . په کوریا کښی جګړه محدوده او په متارکه یی بدله کاندې . دهند چین جګړه بس او ترك کړی . دیونان ، ایطالیا ، اوشرقی اروپا په اوروتو اوبه واچوی ، دجرمنی خبره دحل خواته نژدی کړی .